عزیز نسین

بـختوره پیشو

د طنزونو مجموعه

میرزاعلم حمیدي

کـال : ۱۳۷٤



- د کتـــاب نـــوم : بختوره پیشـــو

- د لیـــکـــوال نـــوم : عزیز نسین

- د ژباړونکی نوم : میرزاعلم حمیدي

- د خپرونکی موسسی نوم : د خوشال فرهنگی ټولنه

- د خپـــرونـو نـــمره : ۱۵

- د کمپیوتر سمبالونکی : اجمل سنگر یار

- کـــــــال : ۱۳۷٤

عزیز نسین

بـختوره پیشو

د طنزونو مجموعه

PROPERTY OF ACKU 5389

میرزاعلم حمیدي

کـال : ۱۳۷٤

بسم الرحمن الرحيم

پـــه دغـــه جـــونـگ کـــې

مضمون	مـــخ
دزړه خواله	۱-۸
انسانان راوښيږي	۹-۱۷
بختوره پيشو	۱۸-۲۴
تقاعد	۲۵-۳۴
د بوتونو د بند سمفوني	۳۵-۴۴
د پرانستلو جشن	۴۵-۵۱
خپګه غوږ مالي له...	۵۲-۶۱
د سرېتوب لار	۶۲-۶۸
د ښاورال تاکل	۶۹-۷۷
د ښځې يکس	۷۸-۸۴
شکايت لرم	۸۵-۹۱
کيمياوي سره	۹۲-۹۹
دګنې وتې چل ول	۱۰۰-۱۰۶
لار شوونه	۱۰۷-۱۱۸
د مامور مرګ	۱۱۹-۱۲۶
د نړۍ قيمتي کټ	۱۲۷-۱۳۷
هوښياره نجلۍ	۱۳۸-۱۴۸

د میرزا علم حمید ی لنده پیژندگلوی

میرزا علم حمید ی د عبد الحمید زوی د خوست ولایت د اسمعیل خیلو قوم اوسید ونکی دی . د زیږیدو نیټه یی نه ده معلومه خو د رسمی دفتر له مخی یی تر اوسه دری پنځوس پسرلی ، دری پنځوس اوری ، دری پنځوس منی اودری پنځوس ژمی تیر کړی دی . په دی دری کاله اونیمه پیړی کی یی زړه یوازی په دی هیله په سینه کی تو پونه وهی چی په گران افغانستان کی تول خلک د آزادی ، وروروالی اوبرابری په فضاکی نیکمرغه ژوند وکړی اوبیا یی د خوښی موسکا په شونډو راخپره شی .

د میرزا علم حمیدی یو شمیر آثار د ډډوال ، کلیوال اوبنکارندوی په نومونو خپاره شوی دی ، ، داسی بریښی چی هغه وخت یی لاره غلطه کړی وه ، خو کله چی د ۱۳۵۷ کال د لیندۍ د میاشتی په ۹ نیټه د هوتلونو تصدی دلوی رییس له دندی څخه برطرف او د ا ، خ ، د ، گ څخه وایستل شود بنی ورځی روښانفکر ملگری او د وستان ورځخه لاس په سر شول . څوځلی یی د سیاسی بند یخانی ترخی ستونزی وگالل اوپه ژوند ونی یی خپله تنده د الله تیی سره ووهله ، ایله بیله خپلی پخوانی لاری ته راستون شو ، ده د ترکی نامتو لیکوال د طنزونو مجموعه (دسړی لار) په نوم وژباړله اوخپره شوه . بیا یی د ژوبن په ژباړلو اوخپرولو سره له کمونستی دیکتاتوری څخه چی دده ملت یی دوینو په سیند لاهو کړ خپل غږ واخیست او د لوستونکو له خوایی تود هرکلی وشو . وروسته یی (د توکو خورجین) له لاری خلکو ته په وریښمین خورجین کی خندا وراندی کړه ، تیر کال یی بیا هم د همدغه نامتو لیکوال عزیز نسین یو بله مجموعه د (وری څنگه لیوه شو ؟) په نامه وژباړله اوخپره شوه . د اغل یی بیا هم د همدغه تکړه لیکوال عزیز نسین یوه بله مجموعه د (بختوره پیشو) په نامه وژباړله چی داده گرانو لوستونکو ته یی وراندی کوی . که وخت یاری ورسره وکړه نو موری به د همد غه لیکوال د طنزونو یوه بله مجموعه د (دوه مخی کسان) او یوه بله لیکنه د (ژوری خبری) په نوم خپره کړی .

میرزا علم حمیدی د هلمند په افغانی ساختمانی دستگاه کی د محاسب ، په خیبر رستورانت ، سوتی کمپنی او کلیمد شرکت کی د سر محاسب ، د هوتلونو تصدی ، د کرنی صنایعو د پراختیا په مرکز ، د لاسی صنایعو د پراختیا او صادراتو په مرکز ، د افغان ـ نیپچی شرکت ، د کورنیو چارو د سوداگری او د افغانستان د اقتصادی او تولنیز و پرمختگونو د نند ارتون په موسسه کی د ریس په توگه دندی ترسره کړی او د سوداگری وزارت مافوق رتبه مامور و . میرزا علم حمیدی اوس خپلی شپی ورځی د پردیسی په حال کی تیروی . نو موری دی ته لیوال دی چی د خونړی جگړی د لنی له تولید و او قانونی دولت له راتگ څخه وروسته د یرزر خپل گران هیواد افغانستان ته ستون شی څوخپلو اقتصادی او فرهنگی هلوځلو ته دوام ورکړی .

حمیدی د هیواد د معاصر ادبی نثر په بډایی او په تیره بیا د پښتو طنزی بهیر په وده او پیاوړتیا کی نه هیرید ونکی برخه اخستی ده . د خوشال فرهنگی تولنه په اوسنیو شرایطو کی چی فرهنگ او فرهنگی ارزښتونه د تورتم د تاتار په سیند لاهو کیږی د ښاغلی حمیدی فرهنگی هلوځلو ته د قدر په سترگه گوری او د پښتو ژبی او فرهنگ په تلپاتی غیږ ه کی یی د لابر یو هیله کوی .

(په ادبیاتو کې د کمیکو شاعرانو لکه ارستوپان او مولیر
رامنځ ته کیدل د پرمتګ او آزادۍ رامنځ ته کیـــدل دي)

یولنډ یادښت:

نن سبا انسانان د عصري د پرمختګ له برکته دومره سره نژدې شوي چې د اند اوژوند څه یې له یوه او بله پټ نه پاتې کیږي. د انسانانو د پیژندګلوي او په مجموع کې د انسانۍ ژوند د پیوستون او نژدیوالی ترټولو ښه وسیله د تاریخ په اوږدو کې هغه فرهنګي ارزښتونه دي چې د هري ټولنې د معنویت دودي او انسانی عالي روزنې څرګندوي دي.

په شرق شاعري کې شعر او د هنر نور ډولونه یواځنی ارزښتونه دي چې د دغه انسان د ژوند د هنداري په توګه پورتنیو ارزښتونو ته وقف شوي او د انسانۍ زړونو په ناپایه دنیایي منګولې لګولې دي. دا چې انسان په تحول کې دي، همداسې انسانی ارزښتونه او ټولنیز بنسټونه ټول د بدلون په ترڅ کې دي. همداسې ادب هم په معاصره نړۍ کې خپلې دندې لري او خپل ارزښتونه څرګندوي. د مثال په توګه دغه نړۍ چې په پرتم سره په تخنیکي بریاوو باندې لاسبرۍ کیږي، په خپل واړیو لړیندې یزونه هم له ځان سره لري. په دې کې شک نشته چې اوسنی تخنیک که له یوې خوا انسان نیکمرغه کولای شي دا هم ورسره ده چې بد مرغه کولای یې هم شي. همدا وجه ده چې د سلګونو روحي او روانی ښکیلونو سره لاس او ګزیوان کې واقع شوي دي. دغوښد مرغیو ته د هر چا پام نه وي او هر څوک په دې باره کې فکر هم نه شي کولای یوازې هغوی چې د ایجادي پدید و په ایجاد لاس پورې کړلې نومور پوښتنو ته ځواب په ګوته کوي او هغه څه دوی وایي چې نور یې نه شي ویلای د دغو ناویلو او ناسپړلو له پاره هغه لیکوال او شاعران چې له طنز او مزاح سره سروکار لري او هم په طنز او مزاح کې د الفاظو او کلماتو اداکاري کولای شي ډیر جالب او د پاملرنې ور دي. وایي چې د نړۍ په ادبیاتو کې د کمیکو شاعرانو لکه ارستوپان او مولیر را منځ ته کیدل د پرمختګ او آزادۍ را منځ ته کیدل وو. عزیز نسین هم یو له همدغو طنز و یو نکو څخه دي چې ژوند یې د آزادۍ او قلم یې تر خپلو اکې ځار کړی دي.

بختوره پیشو هم د ده هغوله آثارو څخه ده چې محترم میرزا علم حمیدی همت کړی او هغه یې د ده د دریمې مجموعې په توګه پښتو ته راوړیاړله.

دده د آثارو زیاته برخه د آزادۍ څرګندونه کوي او هغه انساني اړیکې ټولنه څرګندوي چې د هغوی له پاره هر چیرته، په هر زړه، او هر ځای کې د اوریدو او زغم حوصله شته ده. ځکه یې آثار په هر ځای او دنیا په ډیرو ژبو او له هغې جملې په پښتو ژبه هم زیات لوستونکي لري. په افغانستان کې چې د عزیز نسین کوم آثار ښاغلي حمیدي او نورو پښتو ژبې ته وړاندې کړي په هغوی کې تر هر څه د مخه زمور د ټولنې د فرهنګي ارزښتونو دودې او انکشاف موضوع همیشه طرحه وه همدا وجه ده چې مور به تل د ده د آثارو هغه برخه چې له مور سره په کلتوري او فرهنګي لحاظ ورته والي ولري راوړیاړو او هغه چې زمور له پاره د ځینو ملحوظاتو له امله د پاملرنې ورنه وي هغه به په خپل ځای وي. ددې ارتیا نشته چې یو شمیر حتی ایجادیاتو ته هم د خپلو ځانګړو اړیکو او ځانګړو ذهنیتونو د قضاوت له نظرګاه څخه ګوري. هغوی چې فرهنګ او ادب او د هغوی د تکامل لاري چاري ور معلومې وي هغوی به هیڅکله هم خپلې فرهنګي ساحې ته هغه ناروغي او نیمګړتیاوې را پرې نه ږدي چې د دوی فرهنګي مانې به له زوال او تنفر سره مخامخ کړي مور په دې نظر یو هنر او هنري ارزښتونو چې د انسان او انسانیت د شرف او اوچې انساني هستۍ او عاطفې ټولنه کوي باید د رناوې یې وشي، لیکوال او هنرمند د آزادۍ او معنویت استازي دي که بر نا د رشاه دي، که مولیر او که عزیز نسین آزادۍ او معنویت د دوی په افکارو کې تلپاتې دا چې هر څوک په هر نظر ورته ګوري دا د هر چا خپل کار دی خو زمور له پاره به ښه داوي چې په خوشاله تکیه وکړو:

زه خو د زړه درد غواړم په هر یوه مذهب کې
ستا زده ستا خبرې چې نقلوته رنګ په رنګ کړی

په درناوی

پوهندوی عبدالخالق رشید د کابل پوهنتون
د ژبو ادبیاتو پوهنځی استاد

د زړه خواله

د دې کتاب پانې چې اړوې او را اړاوې، په بې پروايي سره يې کله يوه سرليک او کله بل سر ليک ته ګوري، له يوه طنز نه بل او له هغې نه بل ته په چټکۍ او غلنډ نظر تير يږې! ښه ده يوه شی او خپل سر دې ګريوان ته ور ښکته کړی زما دا دومره ستونزې د سينما د پردې په شان د خپلو ستر ګو په وړاندې تيرې کړي چې ما د هرې ليکې او هرې جملې په ژباړلو کې څومره زيار ګالللی دی، هر ليکه او هره جمله مې څوځله ليکلی ده او څو ځله مې رنګه کړی ده تر څو مې يوه سمه غوندې جمله پيدا کړی ده.

هغه شپه چې تاسو د ناز په خوب ويده وئ او يا په نورو ساتيريو بوخت وئ ما تاسو او پښتو ژبې ته د خدمت له پاره شپې سبا کولې، هره شپه او هره ورځ لګيا وم د ترکی نامتو ليکوال عزيز نسين په سلګونو طنزونه مې چې د نوموړی له سينې او ماغزوته راوتلي او د ګلاب په شان غوړيدلي دي، لوستل او له هغو نه مې مرلي او د ګوتو په شمير طنزونه چې زمور د ټولنې نيمګړتياوو ته ورته وو د هغو لامبو وهونکيو په شان چې د سيندونو او سمندرونو په تل کې مرغلري لټوي او د هغو زړ پيژندونکو په شان چې د سيندونو شګې غلبيل کوي او د سرو زرو بڅرکي ورڅخه جلا کوي، د ژباړلو له پاره خوښول، هغه مې لومړی په پنسل او بيا په قلم ليکل، وروسته مې تايپسټ ته ورکول.

اې کاش په خپل ژوند کې خو يو ځل ښه او د ډاډې په چارو کې بلد

تاپیښت په خپلو سترګو وویني چې دا د زړه ارمان خو مې پوره شي!

پوهیږي چې د تاپې غلطیو سمول هم د خپل زړه د وینو له خوراک څخه لږ کار نه دی؟

فکر به کوي چې د تاپې نه وروسته خو نو خبره خلاصه ده، ژباړونکی به د خپل نیالګی میوه وخوري او سیوري ته به یې کیني.

نه، وروره داسې نه ده! ربښتیني او ښنستیزې ستونزې وروسته له دې پیل کیدي، اوس نو تر تولو مهمه خبره دا وه چې د مطبوعاتو په کمیسیون کې څوک پیژني او کنه کله چې دغه اثر د مطبوعاتو کمیسیون ته د نظر له پاره وسپارل شو، یو غړی به یې نن نه راتلو، بل به یې سبا ته نه راتلو او بل یې هم بل سبا ته. چې یو به کوتې ته را ننوت، بل به ووت چې یو به راتلو، بل به تلو، د روښان فکرانو کار و، یوه ته مې څیرې خوند نه ورکاوه، بل زما له ژبې سره قصد درلود او بل هم قصدمن و د بل چا لیکنې یې نه خوښیدې، د چا خبره چې وایي: «یو په درنه تلو او بل په درګه»

کله مې چې د ډیر تګ او را تګ څخه وروسته د کمیسیون د موافق نظر له مخې د اطلاعاتو او کلتور وزارت له مقام څخه د خپرونو ریاست په نوم لیک واخیست ما هم ستا په شان فکر وکړ چې اوس خو د چاپ کار پیل کیږي. ځکه په خوشاله زړه او ګرندیږ ګامونو د خپرونو ریاست په لور روان شوم، هلته بل ډول راشه درشه وه له پنکته څخه تر پورته پورې د ... له دلې څخه وو چار واکي یې له میز څخه را واوښت نه توده ستړی مشي یې راسره وکړه، سمدستي یې یوه پیاله چای مخې ته راته کیښود، د وزارت لیک یې په ورین تندي واخیست دوه ځله یې ولوست، بیا موسکي شو لیک یې یوې خواته کیښود وروغوندي یې راته وویل: «په دې باب به ګوښې سره وغږیږو اوس

خپله لیکنه له ځان سره وساته ... »

ډیره موده وروسته مې چې هغه ګوښې پیدا کړ نو موږ ی لومړی ماته د زیات درناوی خبره را پورته کړه د ډیر زیات درناوي په ترڅ کې یې زما د خوشالۍ له پاره زما لقب ژوند بیان کړ ، بیا یې ټینګه ژمنه رانه واخیسته چې د ده خبري به هیڅوا ته نه کوم او د اطلاعاتو او کلتور وزیر ته به هم په دې هکله بیانه ورکړم ، وروسته یې یو اوږولیست را ښکاره کړ چې په هغه کې پرته له دې چې دا ټرټوم ، د لیک لمبر او نیټه تر ستر ګو شی د ډیرو هغو لیکوالو نومونه لیکل شوي وو چې زیات شمیر یې لا پخوا له هیواد څخه د باندې تللي وو ، د دغه لیست له مخې زما کتاب ته پنځه ، شپږ ګاله وروسته وار رسیده ، ده ویل: « د اطلاعاتو او کلتور وزیر راته ویلی دي ، زه ځینو ملګرو او دوستانو ته د مجبوریت له مخې امر ورکوم خو څو چې په دغه لیست کې کتابونه نه وي چاپ شوي تر هغې د بل چا اثر مه اخلئ... »

ښه پوهیدم چې د ده خبري ربښتیا نه دي خو د ده پستې خولې ، خوږې ژبې او خپلې ژمنې دومره تر اغیزې لاندې راوستم چې ځواب خو څه آن چې له ډیرې حیا مې پورته هم ورته ونه کتل ، بیا یې زما دغه حیا او د ده دومره خوږه ژبه د کلي او ښار تر مینځ دعا داتو او راشه درشه تر مینځ توپیر وی.

که څه هم خبره په همدې ځای کې پای ته ورسیده خو زما زړه د منګل د ژرندې په شان لا تر اوسه خوځیده ، فکر مې کاوه چې که چیرې زما کتاب له دغه پاسته او نرم پراو څخه تیر شی نو اړومرو به چاپ شی دا ځکه چې زه همیشه په دې لټه کې وم چې د خپرونو ریاست د چار واکی له پاره داسې څوک پیدا کړم چې د ده فراکسیونی ملګری وی ، د پستې خولې او خوږې ژبې په چل ول یې پوه شی او تر اغیزې لاندې یې را نه شی. همدا سې وشول څه نا څه نیم

کال وروسته مې داسې سړی ورته پیدا کړ چې په سترګو ، سترګو او صحتمند ، صحتمند ویلو کې سره پوه شول ، یوازې د خبرې په یادولو سره کارونه خلاص شول.

دا ځل ده به مطبعی ریاست په نوم لیک را کړ ، کـه څـه هم د خپـرونو له ریاست څخه د مطبعی تر ریاست پورې یوازې څو ګامه لاروه خوما د کار د زر پیل کـیدو له پاره دغـه لنډه لاړ هم په ډیرو چټکو او ګړندیو ګامونو ووهله ، کله چې د ریاست مقام دروازې ته ورسیدم د ده سکرټرې او نورو کار کوونکو په ما د پلټونکی ګومان وکړ ، ټول لاس په نامه ودریدل برسرته چوکۍ یې راته خوشې کړه او میلمه پالنه پیل شوه.

زه پوه شـوم چې دوي تیـروتل ځکه مې لیک ورښکاره کړ ، کله چې دوي لیک ولوست سـمـدسـتی یې په کـړو ، وړو کـې دومـره توپیـر رغی لکه په بل اورچې اوبه واچوې.

وروسـته له دې زما تګ راتګ د چاپخونې په لور پیل شو او د پلټونکی نوم مې هم وګاټه ، هر ځل به چې د دوې دفتر ته ورتلم هریوه به چې ولیدم نورو ته یې ویل: « هغه دی پلټونکی بیا راغې » د دې خبرې په اوریدو سره به د خندا زور پورته شو. لا به دفتر ته نه وم ورسیدلی چې پلمه بـه جوړه شوی وه کله به یې ویل چې: « رئیس صاحب وزارت ته تللی دی » کله به یې ویل چې: « رئیس صاحب مجلس لری » داسې ډیرې نورې پلمې.

شـه پوهیـدم چې دوي په مـا ملنډې وهي خـو چې خپلې سـتـونزې مـې را یادولې ځانته مې په دې خبره تسلی ورکوله چې : « اوس خو کار نیږدې شوی دی شه ده چې حوصله وکړم هسې نه چې ټولې ستونزې مې برباد شي. »

له نیکه مرغـه یوه ورځ پلټونکی بیـا راغی او له خندا څخه وروسـته کله

چې د رئیس دروازې ته ور ، ورسیدم دوې لا دغه پلمه چې: «رئیس صاحب وزارت ته ــ » بشپړه کړی نه وه چې زمور د سوداګرۍ وزارت اداری رئ: س چې زما ځانګړی ملګری هم و ، د مطبعې د رئیس له کوټی را ووت ، څرنګه چې نو موږی زما په کتاب خیرو ځکه یې د ستړی مشی نه وروسته را ته وویل: «او هو! حمیدی صاحب ته چیرته وې؟ تن سهار ، رئیس صاحب جمهور غوښتی وی لکه چې بیا کومه اقتصادی سلا او مشوره درسره کوی او یادې په کومه لوړه څوکی تاکی ، خیر خودی دلته څنګه راغلی یې؟ »

سکرټرې سمدستی د رمزی صاحب خیرې خپل رئیس ته ور ، ورسولې ، مور لا روغیر پای ته نه ورسولی چې د مطبعې رئیس غیږ را باندې بدله کړه او دواړه یې خپلې کوټې ته یوتلو ، مور لا چای نه وڅښلی چې له څو ځانګو څخه کار خلاص شو د چاپخونې دیوې ځانګې آمریې را وغوښت زما کتاب یې ورکړ او ، ورته ویې ویل: «تول کارونه یوې خواته پریږده ، په راتلونکی اووتی کې د دې کتاب کار پیل کړه ــ »

کله چې د مطبعې د رئیس له کوټې څخه را ووتو ، د ده د دفتر کار کوونکي ودریدل او ماته یې درناوی وکړ .

بیدیامې د سوداګرۍ وزارت له اداری رئیس ښاغلی رمزی څخه پوښتنه وکړه: «زه خو د جمهور رئیس صاحب سره ــ » هغه داسې په زوره وخندل چې له ستر ګونه یې اوښکی را رواتې شوې ، په داسې حال کې چې خپلې اوښکې یې پاکولې ویې ویل: «راځه ، راځه زور ورداخو د کار تکتیک و ، ودې نه لیدل چې د یو کال کار مې په څوګړیو کې درته خلاص کړ ــ »

له بده مرغه څو ورځې وروسته د ښاغلی شهنواز تنی کود تا را منځته شوه ، زه یې هم وچ په وچه د لنډې مودې له پاره ښندیخاتې ته ورټیله کړم ،

مطبعه هم په دولتی پروپاګنډو مشغوله شوه او د کابل ښاریانو هم دغه سرود زمزمه کاوه چې: «ګرم شه، لاګرم شه! اې دازاری لمره، تیر شود خوستیانو وار، وارد زرمتیانو دی ...»

یوه ورځ زړه نا زړه مطبعې ته ورغلم دځانګې آمر په تریو تندی راته وویل: «یوه میاشت وروسته راشه!»

ځو میاشتې چې په دې دول تیرې شوې خبره اوونیوته ورسیده او چې څو اوونۍ هم تیرې شوې، یوه ورځ یې زما کتاب را واخیست، ده هم ستا په شان پانې واړولې او را واړولې ویې ویل: «ستا کتاب خو نه سریزه لری او نه تقریظ، مور بې له سریزې او بې له تقریظه کتاب څنګه چاپ کړو؟»

بیا هم په خوشالۍ سره له مطبعې څخه په ګړندیو ګامونو را ووتم او ښاغلی عارف خزان ته مې تیلفون وکړ، ورته ومې ویل: «لکه چې دا ځل په رښتیا زما کتاب چاپ کیږی خو د چاپ پیل یې سریزې او تقریظ ته معطل دی، هیله کوم چې ته تقریظ ولیکې او زه به سریزه»

د تقریظ او سریزې له سپارلو څخه وروسته یې راته وویل چې: «دوې اوونۍ وورسته راشه» کله چې دوې اوونۍ وروسته په دې هیله چې اوس خونو د چاپ کار پیل کیږی، ورغلم داسې ښکاریده چې دهغې څانګې امرزما ورتګ ته ستر ګي په لاره و، سمدستی را پورته شوزه یې یوې کوټې ته بوتلم زما کتاب یې دیوه ځوان مخې ته چې په کوټه کې ګوښې ناست و، کیښود، ورته ویې ویل: «دغه دی د کتاب ژباړونکی راغی» بیاله کوټې نه ووت اوورې راپسې وتاړه.

ځوان څو ځله په قارجن نظر د سرنه تر پښو او د پښو نه تر سر پورې راته وکتل بیا یې دغوسې نه په ډک غږ څو پوښتنې وکړې وروسته یې سریزه او

تقریظ له ځان سره واخیستل ویې ویل : « دلته مودتولنیزونیمګړتیاووپه هکله لیکلي دي زمور په تولنه کې یوازې یوه نیمګړتیاوه چې هغه هم سمه شوه ؛ دومره لحاظ دې بس دی چې خپل کتاب واخلې اوروسته له دې دمطبعی خواته رانه شی . »

وایي : « خبري ډیري اوسریې یو » لنډه داچې څه ناڅه څلور کاله کیږی چې ماهم بختوره پیشوپه افغانستان او باندینو هیوادونو کې په خپل تخرګ کې راسره ګرځوله .

یوه ورځ مې زړه نازړه ښاغلی عزیزاله میره کی ته چې ډیرښکلی خط لری ددغه کتاب دلیکلوخبره وریاده کړه . زړه نازړه ځکه چې اوس په پردیو هیوادونوکې دپخوانی دولت ډیرسپیڅلي اووطن پال مامورین چې پخوایې لوړې چوکۍ او مهمې دندې درلودې دخپلوکورنیودخیټومړولو له پاره دپنډوپه سوداګرۍ بوخت دي ، له هغه یې واخله ، په دغه یې خرڅ کړه ، هلته یې خرڅ کړه اوله هغه ځایه یې راوړه ، دلته یې خرڅ کړه .

له نیکه مرغه ښاغلی عزیز اله میره کی داخبره په ورین تندی ومنله . وایې هر چیرې چې تلواوهرچیرته یې چې شپه کوله ، بختوره پیشوپې هم په تخرګ کې ورسره ګرځوله ، څویې دخپل ټینګ هوډله مخې دبختورې پینشوکتاب په ډیرښکلی خط ولیکلوچې زه کوردانی ورته وایم .

ګرانه لوستونکیه!

دا دی یو ځل بیا غواړم چې ستا پام د ښاغلی میره کی دغه ستونزمن کارته راواړوم هغه هم په داسې وخت کې چې زمور هیواد پال خلک په استوګنځی او ډوډۍ پسې سرګردان دي د دومره ستر کتاب په قلم لیکل څه اسان کار نه دی خو څه ښه یې ویلي دي چې: « هماغه تیره لور او هماغه

غبنتلی لوګری»

ما ستاسره د کتاب د لیکلو او چاپ کولو په هکله په دومره لنډ ډول د زړه خواله وکړه لکه د سمندر څخه چې یوه کاچوغه اوبه را واخلی.

زه خپل زړه ته په دې خبره تسلی ورکوم چې د خپل وس سره مې خپلې مورنۍ ژبې ته خدمت وکړ او د ګرانو لوستونکو پام مې د تولنې بدمرغیو او نیمګړتیاوو ته را وګرځاوه.

لکه څنګه چې هوښیارانو ویلي دي چې: «دا مید مرغی سړی مکی ته رسوی. لټونکی موندونکی دی او چې غوټې پسې وهي په لاس به درشی، چاویل چې په دریاب کې ګوهر نه شته.»

همدا ډول زه هم د ۱۹۹٤ کال په پای کې کله چې په پیښور کې د ډیرو نامتو او تکړه لیکوالانو استاد خانټ رشید او کاتب پاڅون د لیدلو له پاره د بی بی سی رادیو د درامو نوځانګې ته ورغلم د تودې هستړی مشی او خیرو اترو په لړ کې د بختوری پیشو خبره را منځ ته شوه، د وي په ډیره خوشالۍ سره د چاپ تولې ستونزې په غاړه واخیستې.

کوربې ودان، اوبه یې سړی او ډوډی یې توده!

څرنګه چې اوس د افیست سیستم ځای د کمپیوټر سیستم نیولی دی ځکه داسې پریکړه وشوه چې په کمپیوټري سیستم دې چاپ شي.

او دا دی له پورتنیو تولو هسکو او ټیټو وروسته بختوره پیشو ستاسې په مخ کې ده. هیله ده چې زمور ستونزې به هیڅ نه کړي او دغه کتاب به په پوره مینې سره ولولی!

په درنښت میرزا علم حمیدی

۱۹۹۵/۱/۲۲

انسانان راویښیږي

لږ بنار ته شړلو (تبعید) او د ژوند سختو ستونزو هغه وروست او له هر چانه بې لاس په سر کړ. دا څکه کله چې د سزا له تیرولو نه وروسته مرکز ته را وګرځیده خپل ځان یې د خلکو په منځ کې یوازې ولید.

میرمنې یې د ده د شړلو په وخت کې طلاق ورته واخیست او د خپلې خوښې له سړی سره یې واده وکړ. څکه د یوازیتوب سره لاس په ګریوان و او له دې املې هم سخت ځوریده.

تاسو سوچ وکړئ چې هغه د دې ټولو ستونزو او تاوانونو له زغملو څخه وروسته کولای شول چې د سیاست څخه لاس واخلی؟

هغه غوښتل چې د شپې سبا کولو له پاره ځای پیدا کړی خو ده تشوای کولی چې یوه کوټه د بنار په مرکزی او یا شمالی سیمه کې ونیسی دا څکه چې په دغو سیمو کې خویو د کوټې کرایه زیاته وه او بل هغه نه غوښتل چې بیا د نیولو د پولیسو څیړی وویني چې څه نا څه زرغلي د ده کورته وزغلي و او له بلې خوا د کرایې کوټو خاوندانو وه ته د پردې په سترګه کتل، نه یې غوښتل هغه چا ته کوټه ورکړی چې د تبعید دوره یې تیره کړی ده.

هغه په دې خبره پوه وځکه یې په مرکزی، شمالی، ختیزو او لویدیزو سیمو کې د کوټې کرایی کولو ته زړه نه کړ، هغه د کرایی کوټې د پیدا کولو له پاره د بنار سهیلی سیمو ته لاړ او یوه کوچنی کوټه یې د سمځو په سیمه کې وغیره.

د دغې سیمې واټن تر مرکز پورې د پښو په تګ دوه ګړۍ او پنځوسشت دقیقې و. هغه یوازې یو د ک صندوق کتابونه درلودل او بل یې هیڅ شی نه لرل ځکه په کوچنۍ کوټه کې ښه ځای شو. که څه هم د کوټې کړکۍ د ښیښو په ځای په ورځپاڼو پوښل شوې وی خو د ده له پاره دغه کوټه ډیره ارامه او بې غږه، غوږه وه.

د ده کوټې ته مخامخ د خوراکی شیانو او د سابو پلورنځی و چې په ورځ کې یې تر ۵-۶ تنو زیات پیرودونکي نه لرل.

د غو دواړو پلورنکو زیاته پانګه نه درلوده ځکه یې د غریبانو په مینه کې پلورنځي پرانیستلی و. ده هم څه موده وروسته له دغو پلورنکو سره وپیژندل.

د ده له اوسیدو څخه په دغه وروکی کوټه کې لا دوې ورځې نه وې تیرې شوې چې په دغه سیمه کې د خورو پلورنځی پرانیستل شو. د خورو شیانو پلورنکی تر غرمې وروسته خپل پلورنځی پرانیستو او بې له دې چې څه شی خرڅ کړي تیاره مانښام یه بیرته مرکز ته ستنیده.

څو ورځې وروسته د جوارو نینې پلورنکی هم خپله هټۍ د سابو د پلورنځي په مخکې پرانیسته، څه موده وروسته موچی هم د زړو بوټونو په ګنډلو اورنګولو پیل وکړ. شربت او حلوا پلورونکو هم هټۍ پرانیستلې څو په هغه سیمه کې یو کوچنی بازار منځ ته راغی.

د ډیر تګ اوراتګ له کبله د خلو خټلو د پاکولو له پاره بسارو ال یو جارو کوونکی وټاکه چې د سهار نه یې تر مانښامه پورې په یوه ستره جارو دغه کوچنی بازار پاکاوه.

تګ او راتګ نور هم زیات شو او یوه بل سړی د خوراکي شیانو او سابو د

پلورنځیو تر منځ سماوار پرانیست. په داسې حال کې چې هغه د ژوندی پاتی کیدو له پاره هره دروازه تکوله څو کار پیدا کړي د ده د کوتې دځنګ او شاوخوا کوتې تولې په کرایه ونیول شوي او ګڼه ګونه ډیره زیاته شوه.

ورو، ورو په دې سیمه کې تګ را تګ او ګڼه ګونه زیاتیده پلورنځی یو په بل پسې پرانیستل کیدل. تشې کوتې تولې ډکې شوي آن چې په هریوه کوچنی کوټه کې څلور پنځه تنه اوسیدل خو هغه لا تر اوسه وزګار و او له دې امله سخت ځوریده هر چیرې او هر چا ته چې ورتلو د پخوانۍ سابقې له کبله هیڅا کار نه ورکاوه.

دوستان یې هم د ده په شان وو، د هغه سره یې مرسته نه شوای کولای. ډیر چرت او منډو را منډو وروسته یې پریکړه وکړه چې د خپل ډیر سپیڅلی اندیوال سره چې په بنار کې یې یوه کوټه درلوده واړوي او د نیمایې کرایې په ورکولو سره هلته ژوند وکړي.

که څه هم د ده دا پریکړه د هغه له پاره ډیره ګټوره وه خو عملی کول یې ځکه مشکل وو چې نوموړی د خوراکي شیانو او د سبو له پلورنځیو څخه پیدا وړی و.

که چیرې هغه خپله غوښتنه تر سره کولی مجبور و چې لومړی خپل پورونه ورکړي، په داسې حال کې چې په جیب کې یې یوه پیسه هم نه لرله.

یوه شپه هغه په خپله غریبه کوټه کې د خپلې را تلونکې په هکله په چرتونو کې ډوب و، په دې فکر کې و چې څرنګه خپل پورونه پرې کړی. چې د کوتې دروازه وټکیده لومړی د خوراکی شیانو پلورنکی، بیا د سبو پلورنکی او وروسته سماوار چی ورننوتل.

هغه د ډیرې زیاتې وارخطایی په ترڅ کې له ستړی مشی نه وروسته

ورته وویل:

بخښنه غواړم څه شی نه لرم چې ستاسو د عزت له پاره یې وړاندې کړم.

د خوراکې شیانو پلورنکی موسکی شو ویې ویل:

-خیر دی مور ستاله پاره هر څه راوړي دي دا یې چای، دایې کافی او دغه څو پاکټونه هم داسې شیان دي چې ستا اړتیاوې به ترسره کړی.

هغه د دومره ډیرو پاکټونو په لیدو سره پوه شو چې دوي په پور پسې نه دي راغلی. نو دا یې ولې راوړی دی؟

سماوارچی ورته وویل:

- مور خبر شو چې ته غواړی له دی ځایه لاړ شی؟

- هوا همداسی ده خو تاسو څنګه خبر شوي؟

خو، زه تاسو ته داد ګیرنه در کوم چې څومره ستاسو پورونه نه وی در کړي تر هغې پورې هیڅیر ته نه ځم.

- دا خبره د یاد ولو ور نه ده زمور پورونه خو هیڅ مه یادوه.

د خوراکې شیانو پلورونکی وویل:

- هیله ده چې تر دي وروسته زمور د پیسو په باب هیڅ خبری ونه کړي هغه مو پاکې حلالې دربښلي دي.

سبو پلورنکی وویل:

- مور خپل حق لا پخوا تر لاسه کړي دي. که پیسې هم راوړي مور یې نه اخلو.

- زه نه پوهیږم چې تاسی ولې زما سره دومره نیکی کوئ؟

- باور وکړه چې مور ستا په قدر نه پوهیږو خو لکه څنګه چې لازمه ده ستاسو خدمت ته نه یو رسیدلي.

په داسې حال کې چې د دې خبرو په اوریدو سره د ده ستر ګی له اوښکو

را ډکې شوې او ستونی یې ګیله منی ژړا بند کړ په ډیر مشکل سره یې له دوې څخه مننه وکړه.

د خوراکی شیانو پلورونکی ورته وویل:

- مور ستا سو د پرې ستړې اتلولی او زیات خدمتونه چې د غریبو خلکو له پاره موکړي دي هیڅکله نه هیروو...

هغه د ځان سره فکر وکړ:

- دا چې لا تر اوسه خلک زما په قدر پوهیږي او زما خدمتونه یې نه دي هیر کړي نو زه ولې له سیاست څخه لاس واخلم؟

سماوارچی وویل:

-مورستا څخه هیله کوو چې له دغه ځایه لاړ نه شی.

سبو پلورونکی ورته وویل:

- مورنن شپېه د دې له پاره راغلی یو چې هیله وکړو چې مورږ یوازې مه پریږده.

-زه هرومرو لاړ شم ځکه چې نور دکوټی کرایه نه شم ورکولای.

سبو پلورونکی خپلی خبری غبرګی کړی وینی وویل:

- دکوټی د کرایی په باب هیڅ فکر مه کوه یوازی له مورږ سره ژمنه وکړه چې له دغه ځا نه ځې!

د هغه ستړګی له اوښکو ډکی شوې ځکه چې وطن او خلکو ته د ډیر اورده خدمت په لړکې د لومړی ځل له پاره پوه شو چې لا تر اوسه یې خلک عزت کوی او د ده خدمتونه یې نه دي هیر شوي ده په ډیر مشکل د خپلو اوښکو د توئیدو مخه ونیوله وینې وویل:

- نه شم کولای ځکه د کوټی له کرایی نه پرته د خوراک او څښاک پیسی هم

نه لرم، وزګار توب مې ډير ځوروي څو چې کار پيدا کوم غواړم له خپل اندېوال سره ژوند وکړم.

سماوارچی وويل:

- په دې باب مو هم فکر کړي دي موږدا خبره په ځان منلی ده چې ستاد خوراک او څښاک له پاره هم پيسې درکړو خو چې موږ يوازي پرې نه ږدي.

په دې وخت کې دري سره راوړاندې شول د ده مخ ته يې ګونډې ووهلی په ګډ غږ يې په زاريو پيل وکړ :

- که چيرې ته لاړ شی موږ برباد يرو ، هيله ده چې زموږ په ماشومانو ورحميږی او له دې ځايه لاړ نه شی.

د هغه احساسات دومره را وپاريدل چې غوښتل يې په زوره، زوره وژاړي او په لوړ غږ ناري کړي چې:

- زمتور خلک را وينې شوي دي، د ښوخلکو په قدر پوهيږي وګورې چې ما ته څومره په درنده ستر ګه ګوري او زما په وړاندې څومره زيات سپيڅلي دي! پخوا خو خلکو زما سلام نه وعليک کاوه خو اوس وګورئ چې ..!

- ستاسو له مهربانۍ نه ډيره مننه کوم هيله ده دا پاکټونه بيرته درسره يوسئ ځکه چې...

دري واړه نور هم را وړاندې شول د ده خبرې يې پرې کړې په زاريو يې پيل وکړ:

د خوراکی شيانو پلورنکی وويل:

-موږ پوهيږو چې دغه شيان ستاد عزت وړنه دي خو څه وکړو هم دا مو وس دی موږ ستاد کوټې په هکله هم فکر کړی دی غواړو چې دا ستا جعفر له کوټې څخه يوه کوټه چې د ځمکې پر مخ ودانی شوی دي درته ونيسو.

سبو پلورونکی وویل:

- هر کار چې کوی ویې کړه خو چې مور یوازې پرې نه ږدې.

هغه په حیرانتیا سره پوښتنه وکړه:

- تاسو ولې دومره ټینګار کوئ چې زه دلته پاتې شم؟

د خوراکی شیانو پلورنکی ورته وویل:

- مور ستاله برکته د ډوډۍ خاوندان شو صاحب!

زه خو له تاسو نه دومره زیات شیان نه اخلم؟

- ستا خبره سمه ده خو نوریې اخلي ستا له راتګ نه د مخه مې په ورځ کې ۲-۳ پیرودونکي درلودل او هغو هم سودا په پور اخیستې خو اوس ډیر زیات پیرودونکی لرم چې توله سودا په نغدو پیسو اخلی.

سبو پلورونکی وویل:

- ستا ګام دومره نیکمرغه وچې په وچ ډاګ دی بازار جوړ کړ.

سماوارچی ورته وویل:

- که په مور رحم نه کوې نو زمور په ماشومانو رحم وکړه که چیرې ته لږ شې نو لومړۍ سړی چې بد مرغه کیږی هغه به زه وم، مجبوریم چې سم دستی د خپل سماوات دروازه وتړم.

- ما خو د تاسو سره هیڅ نه دي کړي بی له دې چې ستاسو پوراوری یم او سر خوږی مې درته پیدا کړي دی کومه بله ګټه مې نه ده در رسولی.

دا خبره را ته په ډاګه کړی چې ولې مې تګ ته نه پریږدئ؟

سبو پلورونکی وویل:

- کله چې ته دلته راغلی پټ پولیس د خورو او نینو پلورنکو، موچې او نورو په پلمه دلته راغلل چې ستا کړه ورډ تر څارنې لاندې ونیسي، د دې نه وروسته

یوه ډله نور پلورنکي راغلل چې لومړی ډله تر څارنې لاندې ونیسي. په دې پسې یوه بله ډله راغله چې دواړه ډلې تر څارنې لاندې ونیسي. کله، کله په دوي پسې ګرځنده ډلې هم راځي چې په دې ډول ستا د برکت له امله دلته ګڼه ګوڼه زیاته شوي ده او د سمځو سیمه په بازار بدله شوه.

د خوراکې شیانو پلورونکی وویل:

- په لومړیو ورځوکې یې ستا د کړو وړو پوښتنې لهمو څخه کولې خو وروسته یې پټ پولیس را ولیږل.

سبو پلورونکي وویل:

- همدا پټ پولیس دي چې زمونږ څخه په نغدو پیسو پریمان شیان اخلي.

سماوارچي وویل:

- ما هم د ستا له برکته سماوات پرانیست شکر الحمدالله کار مې ډیر ښه دي.

- ښه نو دا ټول پولیس دی؟

- ټول پولیس نه دي خو ډیر یې پولیس دي. کله چیرې ته له دې ځایه لاړ شې دوي به هم ټول په تا پسې لاړ شي، داسې مه به بیا په خړ داګ بدله شې او مونږ به بیرته له غریبي سره لاس په ګریوان شو.

سبو پلورونکی وویل:

-په مونږ رحم وکړه زمونږ په کور نیو زړه سوي وکړه!

سماوارچي وویل:

- که چیرې زمونږ هیله نه منې نو دومره تم شه چې مونږ خپل شته په ښه او لوړه بیه خرڅ کړو.

هغه له څه ناڅه چرت ته وروسته وویل:

- ستا سو خبرې مې ومنلې همدلته پاتې کیږم خو هغه پاکټونه مو بیرته درسره یوسئ،

د خوراکي شیانو پلورونکي وویل:

- عمر دې ډیر شه! اجازه را کوې چې مور نوروته هم دا زیري ورکړو ؟

- لاړ شئ زه دلته پاتې کیږم خو ستا سونه هیڅ شی نه غواړم.

کله چې سماوارچي له دروازې نه وتو ویې ویل:

- خدای دې خیر در کړي د زړه مراد دې پوره شه!...

بختوره پیشو

پرون په ستر نندارتون کې ډهیواد د یوې هنر مندې د هنري اثارو د لیدلو له پاره را ټول شوي وو. څرنګه چې د نندارتون د پرانستلو لومړۍ ورځ وه ځکه ټول دوستان او اندیوالان سره یو ځای شو.

ټول د ګرانښت او سپیڅلتوب په هنري فضا کې په خبرو بوخت وو چې نا څاپه ډهیواد یوې هنر مندې په لور غږ وویل:

-اندیوالانو! ما بیګا شپه ډیر ښه خوب لیدلی دی، څوک شته چې معنا یې وکړی؟

یوه شاعر ورته وویل:

- هسې نه چې ډارونکی خوب دې لیدلی وی؟

- نه پوهیږم ښایې معنایې ډارونکی وی.

وروسته یې د خوب لیدل داسې پیل کړل:

- خوب مې لیدد چې لمړیوې کوڅې څخه تیریږم په دغه کوڅه کې ګڼه ګوڼه زیاته وه، څوک یوې خواته او څوک بلې خواته روان وو نا څاپه یوه چیغه واوریدل شوه:

زه ...زه!.؟

- مور ټول ودریدو د غږ خواته مو مخونه وروارول هغه څوک چې زه... زه یې ویل زمور خواته یې مخ راواړاوه ویې ویل:

- امرکوم چې هیڅوک د خپل ځای نه ونه ښورېږئ او ځای چه ځای ودریږئ!

تول ودريدو...

مجسمه جوړونکی پوښتنه وکړه:

ولې ودريدئ؟

نه پوهيږم هغه امر راته وکړ او مور هم ودريدو.

هر څوک په تباشير باندې له خپل ځانه چاپيره يوه دايره وکاږئ او د هغه په منځ کې ودريږئ!

له دې امر نه وروسته مې پام شو چې د ځينو په لاس کې تباشير دی. په دې خوپوهيږئ چې په خوب او خيال کې دا ډول شيان کيدونکي دي؟ هر چا هڅه کوله چې تر نورو زر په خپل ځان دايره را چاپيره کړی. ځينو په دی خبره خواشينی څرګندو کړه چې دوی تباشير نه لری. هغه سړی ورته وويل:

– دا خو د پوښتنې وړ خبره نه وه، پخوا مې درته وويل چې خوب مې ليده چې زه لګيايم د بيګاشپی د خوب کيسه درته کوم، تاسو ښه پوهيږئ چې د خوب ليدل خو دليل نه لری.

يوه هنرمند دا پوښتنه را منځ ته کړه چې:

– دا خبره ربښتيا ده چې خوب دليل او منطق نه لری؟

له څه نا څه خبرو او بحث څخه وروسته د ټولو په خوښه داسې پريکړه وشوه چې د هنرمندې خوب بی له دليل او منطق څخه نه دی په دې خوب کی هرو مرو دليل او منطق نغښتی دی.

هنرمندې د خپل خوب کيسی ته داسی دوام ورکړ:

– کله چې د دايرو کښل پای ته ورسيدل هغه سړی بيا چيغه کړه:

– هيڅوک حق نه لری چې له دايرې څخه بيديا ووځی!

مور مجبور وو چې د دې خبرې ومنو او پخپله دايره کې د ټنه ودرږو.

یوه شاعر پوښتنه وکړه:

- تاسو نه شول کولای چې له دایرې څخه بیدیا ووځئ؟

- نه‌مور دا کار نه شو کولای.

- ولی مو نه شو کولای؟

- هغه مور ته د وتلو اجازه نه وه را کړی، نو مور څنګه کولای شول چې په خپل سر له دایرې نه ووځو؟

کیسه لیکونکی پوښتنه وکړه:

- نو تا خو دایره ته درلوده؟

- دایره مې درلوده خو توپیر یې داو چې ځینو په تباشیر، ځینو په پنسل او قلم ترخپلو ځانو دایره را چاپیره کړی وه او ما په خپل ځان خیالی دایره را کښلی وه.

شاعر پوښتنه وکړه:

- تاسو نه شول کړای چې له دایره څخه ووځی؟

- درته ومې ویل چې مور دغه کار نه شو کولای، هنر مندې خپلې خبرې داسې غبرګې کړې:

- څه وخت وروسته مې زړه ډیر په تنګ شو، له دایرې څخه د وتلو په لټه کې شوم.

- نو ولې نه وتلې؟

- هیڅوک بیدیا ته نه وتل چې زه هم ورپسې وتلی وای.

- ښه نوولې نه وتل؟

- او، وروره درته ومې ویل چې خوب مې لیده او دا ټول شیان مې په خوب کې لیدل.

- نبه بیا څه وشول؟

- د ډیرې زړه تنګی نه مې وروسته د ځان سره پریکړه وکړه چې په هر ډول وي باید له دایرې څخه ووځم. خو لامې هوایې خیالی دایره نه وه پاکه کړی چې سړی چیغه کړه:

- هر څوک دې پخپله دایره کې ولاړ وي که څوک له دایرې څخه دوتلو هڅه وکړي سخته سزا به ورکړه شي.

- تاسو باید له اول څخه پخپل ځان دایره نه وای را چاپیره کړی.

- ته نبه وایې خو دا کار شوی و، اوس نو پښیمانی ګټه نه درلوده. مور تول په دایرو کې را ګیر شوی وو، د تولو زړونه په تنګ شوی وو غوښتل یې چې له دایرې څخه ووځي خو هیڅوک غه کاز ته زړه نه شو ښه کولای. یوې شلې ښځې چې زما ښی پلوته ناسته وه وویل:

- شل کاله کیږي چې شله یم په پښو مې یو ګام هم نه دی لاخستی خو اوس مې په دغه کرغیړنه دایره کې دومره زړه په تنګ شوی دی چې که له دایرې څخه وتل ګناه نه وای او چا څه نه راته ویلای اوس به پخپلو شلو پښو له دغې چاپیرې دایرې څخه داسې تښتیدلی وای چې هیڅوک به نه وای را پسې رسیدلی.

یوه سړي چې زما کینې خواته ولاړ و، وویل:

- څو مره به نبه وی چې د دایرو د پاکولو اجازه را کړی!...

حتی یوې مړې ښځې چې زما شاته په ځمکه پرته وه را ته وویل:

- ډیر مې زړه غواړي چې په بیا کې چکر ووهم خو کاشکی چې له دایرې څخه مې دوتلو اجازه درلودی...

یوه هنر مند د هغې خبرې پرې کړې ویې ویل:

- او، خورې! ډیر خو پام وکړه چې څه وایې، مړي څنګه کولای شي چې خبرې

PROPERTY OF ACKU 5389

وکړي؟

هنرمندي ځواب ورکړ چې:

- ورورہ دا خو د خوب کیسه ده په خوب کې هر څه کیدوونکي دي او په دې سربیره ما هم له هغی نه پوښتنه وکړه چې:

- ته خو مړه یې نو چکر به څنګه ووهې؟ هغی راته وویل:

- ته ښه وایې له مرګ نه وروسته مې د چکر نوم هم هیر شوی و خو کله مې چې دغه لعنتی دایره په ځان را چاپیره کړه چکر وهلو ته می زړه وریت پریت دی.

یوه هلک چې تر ملا پورې شل و او زما مخې ته پر ځمکه پروت و، ویل:

- دومره مې زړه په تنګ شوی دی چې که چیرې دغه چتله دایره پاکه شی د ښار تر بلې څنډې پورې به وتښتم.

پوښتنه مې څنې وکړه:

- ته خو شل یې او ستا په چاپیره دایره هم نه شته. په ځواب کې یې راته وویل:

- خو ما په خپلو ګوتو په ځان باندې هوایي دایره را چاپیره کړه. تول په خپل لاس باندې په را چاپیره کړی تباشیری، پنسلی او خیالی دایرو کې بندي ووهیځا زړه نه کاوه چې له دغو لعنتی دایرو څخه ووځي.

ورو، ورو دا خبرې اوریدل کیدې: «داسې څوک نه شته چې مورو خلاص کړي؟ په دغه هیواد کې دومره څوک نه شته چې زمورو څخه دغه دایرې پاکې کړي؟ دومره څوک نه شته چې زمورو د سویو زړونو سوری، نارې واورې او د مرستې لاس را اوږد کړی؟ ...»

هوا ورو ،ورو تیاره کیده، شپې خپله توره پرده وغوړوله خو مورلا تراوسه

د دایې په منځ کې ناست وو ، سخت وډاریدم ټول بدن مې په خولو کې جب جوب شو ، نږدې و چې له ډیره ډاره لیونی شم ، له ځان سره مې فکر وکړ: «رښتیا په دې هیواد کې دومره څوک نه شته چې له دغې چټلې دایې نه مو را وباسي؟»

په دغه وخت کې د خلکو په منځ کې داسې پسپسی شو:

- هر څوک چې لومړی له دغې دایې نه ووځي زه هم پسې ووځم. خو هیڅوک له دایې نه ونه وت چې مور هم ورپسې وتلې وای. دغه خبره تر سلو زرو وارو زیاته تکرار شوه چې: «که چیرې یو تن هم ووځي، زه ورپسې وځم» خو داسې څوک پیدا نه شو.

وروسته چیغې شوې:

- په مور کې یو میړنی زړور هم نه شته چې را ته مخکې شي؟

له دغې چټلې دایې نه پخوا څومره ډیرو د وطن پرستۍ او بشر دوستۍ ډبرې په سینه پورې منبلې اوس چې مور ټول ستا سو شاته درېږو نو ولې نه مخ ته کیږې؟

لنډه دا چې یو غوږ تن هم نه شو پیدا چې خپلې غوږې په ځای کړي.

نیمه شپه یوه پیشو چې د زیاتې تیارې له کبله یې سترګې د بجلۍ په شان ځلیدې زمور منځ ته را ننوته په ډیره بې پروایې یې له یوې دایې نه بلې دایې ته ټوپونه وهل، په ځینو پورې یې لګې، په ځینو پورې یې وربوځ په ځینو پورې یې خیټه منبله، بیایې له دایې نه بیدیا توپ کړ او مخ به یې مور ته راواړاوه، وروسته به یې یوې او بلې خواته ټوپونه ووهل، لږه به ودریده مور ته به یې په ځیر، ځیر وکتل بیا به زمور منځ ته راغله د یوې دایې نه یې بلې دایې ته ټوپونه وهل په یوه بل پورې به یې لګې، وربوځ، خیټه او د بدن نور

غږي ومښل له دایرو نه به یې بیدیا توپ کړ مور ته به یې په ړدو ، ړدو وکتل په ځمکه به څملاسته او له ډیره کبره به یې په خپل بدن باندې ژبه راتیره کړه.

په زړه کې مې راوګرځیدل:

- کاشکی زه هم د دغی بختورې پیشو په شان ازاده وای ، هر څه مې چې زړه غوښتی ، کولای مې شوای او هر چیرې مې چې پښو غوښتی تلای شوای د نور وهم دې خبرو ته پام شوی و په زوره ، زوره یې اسویلي ایستل :

کاشکی مور هم د دغی بختورې پیشو په شان وای!

بختورې پیشو که له یوې خوا زمور سره ځیل او لجاجت کاوه له بلی خوا یې په ځیر کې سره مور ته خپله ازادی او د ازادی چل ول را ښکاره کاوه.

په دې وخت کې له خوبه را ویښه شوم ، سترګی مې ومښلې ، شاو خوا ته مې وکتل پوه شوم چې خوب مې لیده.

اوس نو راته ووایې ستا سو په منځ کې څوک شته چې زما خوب معنا کړی؟

مور تول غلي شو هیڅوا د خوب معنا کولو ته زړه ښه نه کړ یوازې یوه لیکوال وویل:

- که چیرې انسانان د خپل ژوند په دود او دستور او د ازادی څخه د ګټې په طریقه او لاروچارو پوه نه شي په پای کې پخپلو بریاوو پسې پښمان اوخواشیې کړي.

تقاعد

په هر چا باندې تقاعد داروا (روح) ګڼې وتې او لباس توب (ساختګی ډول او سینګار) له املې زیاته اغیزه کوي او ډیریی ځوروی، دا ځکه هیڅوک نه غواړی چې تقاعد شی خو دا مور یو چې یو بل د نښان لرونکو پانو پر مخ تقاعد کوو.

که څه هم د مامور په باندنی حالت کې دومره زیات توپیر نه راځی خو کله چې یو مامور تقاعد شی هغه ته په داسې سترګه کتل کیږي لکه چې مرګ ته انتظار باسی او یا یی جنازه د مړیستانه په غاړه اینبسي وی. د دې خبرې ډیره ښه بیلګه هم زه یم، له تقاعد نه د مخه خپلې میرمنې ته داسې ښکاریدم لکه چې د ټولې نړۍ اتل پهلوان یم ځکه یی یوه نه بله ورځ راته ویل:

او علی! قالینې وټکوه!

او علی! چرچوبی (تشناب) پاکه کړه!

او علی! په ګل بن کې للون وکړه!

خو کله چې تقاعد شوم او خپل کورته راغلم میرمنې مې مخ راواړه وا ویې ویل:

ګرانه او علی! اوس چې تقاعد شوې هیله کوم چې په خپل کور کې دروند کینی او ځان ستړي نه کړی، ولې ولاړیې، راځه ګرانه په دغه چوکۍ کینه، کوم ځای خو دې نه خوږ یږی؟

په ډیره بی کراری مې پوښتنه وکړه:

- د څه شی خوږ؟

- ولی ته تقاعد شوي نه یی؟

- هو! تقاعد شوم، زه خو پخوا هم ناروغ نه وم نو دا خبره په خوږ وپوري څه اړه لري؟

- په همدی وخت کی ناروغی ځان درته رسوي.

- تر اوسه خو روغ رمټ یم.

- ولی هیر شوي دې دي چې کله، کله به قلنج کیدي خدای مې دې ژبه ودروي او ګونګه دې شم چې دغه ناروغی په همدی ورځوکې ځان درته راونه رسوی.

هله زرکوه بوتونه دې وباسه او کټ ته پورته شه، وروسته له دې اجازه نه لرې چې د وریځو په شپو او ورځو کې له کوره ووځې او دغه ستره کمپله له اوږو څخه واچوې، دا ډیر کلونه کیږی چې دغه کمپله مې د همدې وخت له پاره ساتلی وه، زه پوهیدم چې د تقاعد په وخت کې به خامخا ناروغی درپسې را ورسیږی.

که زما خبره منې په ورځ کې د یوې پیالې نه زیات چاي ونه څښې. څو شیبې وروسته ماشومان له ښوونځی نه راغلل، میرمنې مې ورته وویل:

- وروسته له دې ورو، ورو، خبرې کوي پلار مو تقاعد شو غال مغال او شورماشوریی نا کرار کوي.

لور مې یو ستر بالښت را ووړو یې ویل:

- پلار جانه دغه پاسته او نرم بالښت ته تکیه وکړه.

- او لوري زه خوروغ رمټ یم.

- هیله لرم بابا جانه دا خبره مه کوه تر اوسه دي مور ساتلو اوس نو دا زمور د نده ده چې په تاهر اړ خیزه پاملرنه وکړو، لږ صبر وکړه چې قهوه درته راوړم.

موریی وریاندی غږ کړ:

– او لوړې ولې داسې کوي؟ په دې نه پوهیږي پلار دې تقاعد شوی دی اوس د قهوی څښل ضرر ورته رسوي، څښتن ښه پوهیږي چې د ده بیچاره زړه او کولې به په څه حال وي، د دې په ځای چې قهوه ورته جوړه کړې ولی ختمی ګلان نه ورته ایشوې؟

لور مې د ختمی ګلانو دا وبو سره د سپرین بایر ګولی هم راوړې راته ویې ویل:

– پورته شه پلاره دا ګولی وخوره انشاالله چې ښه به شې.

– زه څو ناروغ نه یم!

– نه، نه بابا دا خبرې مه کوه ختمی ګلان د زړه د غښتلتیا له پاره ډیر ګټور وي.

– خوزه د زړه هیڅ ډول تکلیف نه لرم.

– کـه اوس یې نه لرې نو څو ورځې وروسته به هرو مـره درته پیـدا شي. څو شیبې وروسته مې میرمن د زیړو دارو ګانو نه ډک ګیلاس راوړ او راته ویې ویل:

–دا هم وڅښه!

– د څه شی له پاره؟

– د بوتو تخم می جوش کړ، وایې چې دغـه دلاروخلاصـولو لپـاره ډیر ګټور دي.

– د څه شی لاري؟

– دغه دارو د میتازو لار پرانیزي او د ډیرو متیازو مخ نیوی کوی!

– زه خو د متیازو په کړلو ګی تکلیف نه لرم.

– سمه ده خو ټولې ناروغې د تقاعد کیدونه وروسته په بنیادم برید کوي ځکه مې د دغه ناروغې د مخه نیوی له پاره دا کار وکړ.

کله چې دوي له کوټې نه ووتل زوي مې راغې راته ویې ویل:

– اوهو! بابا جانه دا رنګ دي څنګه الوتی دي؟

– نه زویه هیڅ نه دي را باندې شوي جوړ او تیار یم.

–څرنګه څه شی نه دي در باندي شوي، زما په نظر دومره ستر بالنبت ته تکیه کول د وینو جریان کمزور کوی. ښه ده چې اوږد څملې او وروسته له دي د ورځپاڼو لوستل بس کړي، ویده کیدل دي ډیر په ګټه دی.

– دومره اوږد خوب څنګه امکان لري؟

– پوهیږم خو د تقاعد یانو له پاره ډیر ښه استراحت خوب دی، کوښښ وکړه چې ویده شی.

په دې وخت کې مې میرمن کوټې ته ږا ننوته د کړکۍ د پوري کولو په لړ کې یې وویل:

– هیرډي دي چې لس کاله پخوا د پلوریسی په ناروغی (یوه ناروغی ده چې د پړپوس په پرده کې پارسوب او یا دانه پیدا شی، او غوڅ توخی کوي او په زحمت ساه باسی) اخته وي؟

ته نه پوهیږی چې دغې ناروغی ته د کړکۍ پرانستل څومره تاوان لري؟ زر کوه په کمپله کې پټ شه!

زړه نازړه دزور په خوب بیده شوم کله چې را ویښ شوم د کمپلې د زیات ګرمښت له امله مې په ټول بدن باندې خولې را ماتې وي میرمنې مې چې زما خولو ته پام شو د ماشومانو نه یې پوښتنه وکړه:

– تاسې څه فکر کوي چې د یوه تقاعدی سړی له پاره دا ډول خولی کول عادی

او طبیعی دی؟

- ما شومانو په یوه خوله ځواب ورکړ:

نه ، نه!

سمدستی ټول را پورته شول چا په دسترخوان او چا په زړوکی، چا د بوټونو او چا د پخلنځی په رنجو زما د بدن څخه له خولو په پاکولو پیل وکړ.

زوي مې چې څوشیبې د مخه په داروگانو پسې تللی و هم را ورسیده د دوي سره یې زما د بدن نه د خولو په پاکولو کې مرسته وکړه.

کله مې چې زوی دارو راکول ویې ویل:

- دا زیږ دارو هم د زیږی له پاره دی.

- زه خو د زیږی ناروغی نه لرم.

- ته رښتیا وایی خو دغه ناروغی هرو مرو د تقاعد په وخت کې پیدا کیږی.

میرمنې مې وویل:

- کمپله او کلوشې دې ونه باسې!

لور مې وویل:

- پلار جانه دا وږدو لستونو لرونکی جاکټ واغونده.

میرمنی مې را باندې چیغی کړې:

- د کړکی په خوا کی مه دریږه چې ناروغی دې غښتلی کیږي.

څو ورځی وروسته زما اداري انډیوالان پوښتنې ته راغلل سره د دې چې ۲-۳ تنه یې څلور میاشتی وروسته تقاعد کیدل خو دوی قهوه وڅښله او ما تریخ چای.

زموږ دا داري رئیس ښاغلی خلیل آقا راته وویل:

- د تقاعد ورځې د خوشالی ورځې دي چې څښتن تعالی یې دګرانو کسانو په

برخه کوئ، تقاعدیان باید خپل ځان ته ډیر پام وکړي. زما په نظر ستا کیناستل د پرانیستلی کړکی په وړاندي ښه نه دي.

- خو کله چې ما په اداره کې کار کاوه همیشه د دوو پرانیستو کړکیو په وړاندي ګیناستم ...

زما خبري یې پرې کړي ویې ویل:

- هغه وخت مامور وې خو اوس تقاعد شوي یې.

- زما زوی چې دا خبرې واوریدې دا داری رئیس ته یې وویل:

- ښاغلی خلیل اقا هیله ده زموږ پلار ته نصیحت وکړي ګوندې ستا خبرې ومنی، موږ خو چې هر څومره ځانته د پاملرنې په برخه ورته وایو خبرو ته مواهمیت نه ورکوي. پرون مې په ډیر مشکل خارجی فتق بند پیدا کړ هر څومره مې چې ورته وویل ویې نه ترلو! ...

- نو زه خو فتق (هیر نیا) نه لرم.

ښاغلی خلیل اقا په بې کراری سره وویل:

دا څه ډول خبرې کوې؟ که اوس یې نه لري خو د تقاعد په وخت کې به خامخا د فتق په ناروغی اخته شی، دا خو لا څه زه باور لرم چې ډیر زر به د پرستاو اوبواسیرو سره هم لاس په ګرایون شې ځکه چې ته اوس تقاعدي سړي یې.

د دوي د زیات ټینګار له مخې مې فتق بند وترلو او د دوې له تلونه وروسته د خپلې کوڅې پلور ځی ته لاړم.

پلورونکی چې ولیدم سمدستی یې چوکۍ راته وړاندې کړه ویې ویل:

- علی اقا! ډیر مه ګرځه ته باید استراحت وکړې.

- سمه ده ډیره مننه.

- زه ستا څخه یوه هیله لرم.

- مهربانی وکړی:

-څرنګه چې ته زما پخوانی ښپار (پیرودونکی) یې او ډیر را باندې ګران یې ځکه هیله کوم چې وروسته له دی سګریت مه څکوه. کله چې زما خدای بخښلی پلار تقاعد شو سګریت یې پرې نه ښول په ډیره لږه موده کې یې خپلې سترګې له نړۍ څخه پټې کړې ...

په دې وخت کې مې د خپلې لور غږونه واوریدل چې پلورونکی یې د خپلو خبرو ټینګار ته هڅاوه:

ښاغلی مرتضی! ته ورته ووایه ګوندې ستا خبری ومنی، مور خوچې هر څومره سګریت ورځخه پټوو دی یې پیدا کوي او څکوی یې.

- او لوړې! پخوا مې هره ورځ دوه قطعې سګریت څکول خو اوس په ورځ کې یوازې دری... څلور سګریت څکوم.

- سمه ده خو هغه وخت تقاعد شوې نه وی اوس باید یوه دانه سګریت هم ونه څکوي.

له دې ورځې نه وروسته مې سګریت هم پرینښودل.

یوه اوونۍ وروسته مې له میرمنې نه هیله وکړه چې قلوه (یو ډول غذا ده چې د پښتور ګونه جوړیږي) راته پخه کړي. هغې په بې کراری پوښتنه وکړه:

- څه دې وویل؟

ما ویل قلوه راته پخه کړه! ...

- او هو! دې ته وګوره! څومره هوښیار؟! جوړ سړی چې قلوه وخوري ناروغه کیږی ته غواړې چې د تقاعد په وخت کې هم قلوه وخوري؟!

ته باید وروسته له دې نازک شیبان لکه د وریجو اوړه، فرنی، د چرګی

شوربا او داسی نور شیان وخوري.

بیا یې یوه کڅوړه را کړه ویې وویل:

- زوي دې د هضمې دارو درته راوړي دي.

- زما خیټه خو روغه رمټه ده.

- مور غواړو چې تا تر تینګی پاملرنې لاندې ونیسو، ته هر ځل وایې چې زه روغ رمټ یم، وروسته له دې حق نه لري چې تروه شیان وخوري.

- سمه ده میرمنې، سمه ده!

کله چې یوه اوونۍ وروسته سماوارته ورننوتم، سماوارچې د ارامې چوکۍ د وړاندې کولو په لړ کې خپل شاګرد ته غږ کړ:

- او زویه! خبر شه چې علی آقا تقاعد شوي دي ختمی ګلان ورته جوش کړه. غوښتل مې چې څه ووایم خو زړه مې ونه غوښتل چې دومره زر داسې ارامه چوکۍ له لاسه ورکړم چې له دیرش کاله ماموریت نه وروسته د لومړي ځل له پاره وربانديې ناست وم.

یوه میاشت وروسته د جومات ملا ولیدم ویې ویل:

- علی آقا! دا خبره ربښتیا ده چې له خیره سره تقاعد شوی یې؟

- هو صاحب همداسی ده!

که زه ستا په ځای وایی وخت می له لاسه نه ورکاوه سمدستی مې له دنیاوي کارونو څخه لاس اخیست او په عبادت مې پیل کاوه. ته هم داکار وکړه څو چې ژوندي یې لمونځونه وکړه، روژي ونیسه او د ورځې ۵ -۶ واړې د نفل لمونځ وکړه، ګوندې په دې ډول دې څښتن تعالی ګناهونه وبخښی.

- په ستر ګو صاحب.

-زه سبا مازدیګر په جومات کې تاته انتظار باسم.

کله چې د خپلو اندیوالانو لیدلو له پاره دفتر ته لاړم دوو تنو پیاده ګانو متې را ګړي د لاري نه یې د پورته کولو په وخت کې راته وویل:

-په لاره ورو، ورو پورته کیږه، هري دري پوړې وروسته خپله ستړیا باسه اوساه دي تازه کوه!

ډاګي به لیکونه د ننه کوټې ته راوړل ډیرو دوستانو کالي او جورابې د سوغات په ډول رالیږل. که زمور په سیمه کې به څوک مړه شول او یا به د واده دود او دستور په ځای کیدل زه یې نه خبرولم، ځکه چې تقاعد شوي وم.

کله به مې چې وویل:

- نن مې سر خوږیږی، سمدستی به یې څو پرله پسې پیچکاری زما په ورانونو کې ومنډلې.

کله چې ترنجی وکړم، سمدستی دوې، دري لپې ګولۍ زما په ستونې کې را واچوي.

کله مې چې زړه وخوږیږي سمدستی دومره جلاب را ګړي چې د خپلو ویلونه مې پیښمان کړی.

نن می د تقاعد کیدوله ورځې څخه یو کال پوره شو په دې موده کې دفتق بند د ټرلو له املې دفتق په ناروغۍ اخته شوم، د وړینې کمبلې د کار ولو له املې د کلیه د ناروغۍ سره لاس په ګریوان شوم، تر ټولو ستونزمنه خبره دا ده چې د وړینې کمبلې له اغوستلو سره داسې اموخته شوی یم چې داوړی په څله کې یې هم له اوږ ونه شم غورځولی. ډیره مهمه خبره دا هم ده چې همیشه مې په ختمې ګلانو کې د جوش او بو ګیلاس په لاس کې وي.

زړه مې د خرابې ګړۍ په شان کار کوي! ...

لنډه دا ، يې له دې چې خوښ وم او وېې غواړم له خپل عمر او ژوند څخه تقاعد شوم.

د بوټو نو د بندسمفونی

د څلورمې وړې کوټې ډنګر او د تېښتې ونې خاوند تومتی شوي سړي د تشی ګونډی په شان ګونجی، ګونجی او کوږ پروت و، سره له دې چې د څلور مې کوټې تومتی تورت شوی دري پرله پسې ورځې ډوډی نه وه خړلی خو له دې امله يې چرت ته و خراب. څه شی چې هغه ځوراوه هغه يوازيتوب و، چې په نومورې يې سخته اغيزه کړې وه.

څلور مې وړې کوټې پنجره نه درلوده.

څلور مې وړې کوټې رڼا يې هم نه درلوده.

کله يې چې ډنګر تومتی دغی کوټی ته ورننه ايستلو نيکتايې، کمربند، ګړی، د کونجيو زنځير او د بوټونو بند ونه يې ورځخه واخيستل. داريدل چې ځان به ووژنی او يا به د بوټونو په بندونو او کمربند خپل ځان غرغره کړي.

آن چې دوه سنجاقونه يې د کورتی له غاړې نه ور څخه وايستل او همدا ډول يې د ليکلو قلم ورځخه واخيست. ځکه داريدل چې هغه به د بدن په کوم ځای کې ننه باسی او په دې ډول به خپل ځان ووژنی.

دوي هڅه کوله چې د څلورمې کوټی تومتی ژوندی پاتی شی! ...

په څلورمه کوټه کې تومتی سړي د ډيرې تيارې له امله په دري پرله پسې ورځو کې چې دغی کوټی ته يې راوستلی وې په شپه او ورځ نه پوهيده.

څلورمې کوټی يوه لويشت کړکی درلوده چې په پنډې او سپينې پوښل

شوي وه او د شاله خواغټ کولپ ورپسې پروت و. د کوټې ساتونکی به شیبه وروسته دغه کړکی پرانیسته او ټرلۍ څو ډاډه شی چې تومتی سړی ژوندی دی.

په څلورمه کوټه کی تومتی سړی د ډیر سارې له املې لړزیده او د خپلې یوازینۍ پیشو په چرت کې وچې په کور کې ورځخه پاتې شوي وه.

په څلورمه کوټه کی تومتي سړی په دې چرت کې ډوب وچې څرنګه د خپلې پیشو له پاره د خلاصون لاره پیدا کړي خو د کوچنی کړکی پرله پسی او ټرلو وچو غږونو به د ده د چرتونو تارونه وزګړل او د خلاصون لاره به یې پیدا نه کړه.

په څلورمه کوټه کې تومتي سړي د پاریس د ښار په باب چې تر اوسه یې نه ولیدلی فکر کاوه چې د کړکی د پرانیستلو او ټرلو وچ غږونه پورته شول او د ده فکر یې ګډوډ کړ.

په څلورمه کوټه کې تومتي سړي کوچنی فکرونه او کوچنی غږونه د ده په غوږونو کې ورو، ورو ستریدل او لوړیدل دوړی کړکی وچ غږونه د اسمان د غریدلو په شان د ده غوږونو ته ورتلل.

په دی وخت کې د څلورمې کوټې د کیلۍ غږ واوریدل شو او ورپسې لس او لټه تت ګروپ روښان شو پدې ګروپ باندې د غنمې د تارونو په شان ټینګه او سپیره جالۍ را تاو شوی وه چې دغې جالۍ د ګروپ روښنایی نوره هم تټوله.

د څلورمې کوټې تومتی لا په خود شوي نه و چې دروازه پرانیستل شوه د پولیس له ننوتو څخه ورسته دروازه وټړل شوه.

په څلورمه کوټه کې تومتی سړي چې کله پولیس ولید ودریده او ډیره

شیبه یې یو بل ته په ځیر ، ځیر وکتل بیا په څلورمه کوټه کې تومتی سړی څلور واره و ټوخیده وروسته یې په لوړ غږیې یو بل ټوخی وکړ غښتلی پولیس د ده په ځواب کې تر هغه لوړ وټوخیده.

تومتی سړي تر پولیس په لوړ اواز وټوخیده. پولیس تر ده ډیر لوړ وټوخیده. پولیس د تومتی سړي ټوخی ته په یوه لوړه درجه ټوخی ځواب ورکاوه څو تومتی سړي د لټوخی په لوبه کی مات شو.

بیا یې یو بل ته په ځیر ، ځیروکتل نا څاپه د پولیس څیره سره شوه داسې په ړدو ، ړدو او قارجن نظر یې ورته وکتل چې تومتی سړی خپلې ستر گې ځمکې ته ټیټې کړي او د بیا کتلو زړه یی ونه شو کړای.

پولیس څوځلې د ده پرشا و خوا راتا وشو ویې ویل:

- سلام علیکم ښاغلیه!

- وعلیکم سلام عزتمنه!

- نوم دې څه شی دی؟

- موتیرا! ...

- څه دې وویل؟

- عرض مې وکړ چې نوم مې موتیرا دی.

پولیس چیغه کړه ویې ویل:

- څه دې وویل؟ نوم دې موتیرا دی؟

څو شیبې د دوي تر منځ چوپه چوپتیا شوه. وروسته پولیس خپل لاسونه چې شاته یې غوټه کړی وومخې ته را وړل په ډیره نرمه او سپیځلی ژبه یې داسې خبرې پیل کړي لکه چې د یوه نړدې اندیوال سره د زړه خواله کوی، ویې ویل:

- یوه اوونۍ کیږی چې زه پولیس شوئ یم او دامې لومړی دنده ده چې په تایې پیل کوم. ما ته یې ویلي دي چې تاتر اوسه یوې پوښتنې ته هم ځواب نه دی ورکړی خو زه هیله کوم چې هر ومرو زما پوښتنوته ځواب را کړي. تاسو دغه مرسته زما سره کوي؟

دواړه چوپ شول:

تاته وایم ښاغلی موتیرا هغه څه چې در باندې تیر شوې دي ماته یې ووایه. ښاغلی موتیرا! خبرې وکړه . که چیرې زما خبروته ځواب ورنه کړي نو پوه شه چې زما سره بدي کوي، ولی نه پوهیږي؟

بیا هم چوپتیا دوام درلود.

هیله کوم زما په مجبوریت پوه شه او که نه مجبوریم چې په زور خبرې در باندې وکړم. ولی خبرې نه کوي؟

تومتی سړی بیا هم خبرې ونه کړي.

هیله کوم ښاغلیه مامه مجبوروه چې د زور څخه کار واخلم، ښاغلیه! ښاغلیه موتیرا! د ډیرې مجبورې له مخې په زیاته عاجزي هیله کوم چې خبرې وکړي. زه تا نه پیژنم دا لومړي ځل دی چې ستا سره مخامخ کیږم. ته هم ما د لومړي ځل له پاره وینې. ما ته یې لاربښونه کړې ده چې کیږي خبرې ونه کړي باید په کوتکو دې ووهم خو زما له پاره دا کار ډیر مشکل دی ځکه په ډیر درناوی هیله کوم چې په ما باندې زړه سوی وکړی...

پولیس څوګامه شاته لاړ او ویې ویل:

ما په خپل ژوند کې چاته کنځل نه دي کړي او هیڅوک مې په کوتک نه دي وهلي، آن چې تر اوسه مې خپل ماشومان هم په کوتک نه دي وهلي.

له دې خبرو نه وروسته پولیس یو ګام شاته لاړ او په څلورمه کوته کې

تومتی سړی یو گام مخ ته ورغی.

ښاغلی موتیرا! لکه چې ته نه غواړې په ما باندې زړه سوی وکړې که چیرې خبرې ونه کړی له وظیفې نه مې شړی او...ښاغلیه موتیرا! ښه پوهیږې که چیرې زه بیا وزګار شم ژوند مې بربادیږي.

پولیس غوښتل چې یو گام شاته لاړ شی خود کوچنۍ کوتې د یوال راتم کړ.

په څلورمه کوټه کې تومتی سړی یو گام مخ تهٔ ورغلی او ډیر نرډې د پولیس په وړاندې ودریده.

ښاغلی موتیرا! ستا وجدان دا خبره منی چې زه وزګار شم او دوه ماشومان مې وړي شی؟

باور وکړه چې د کورنۍ لرونکی له پاره وزګار تو ډیر سخت دی او په کوتکو وهل هم ظالم زړه غواړي.

پولیس چې د تومتی سړي له خولې نه یې تر اوسه یوه خبره هم نه وه ایستلی د کوتې د غولی پرمخ کیناست اوو یې ویل:

- که څه هم زه په خپل پلار او مور سر بیره ډیر وپیژندل شویو او نا پیژندل شویو کسانو په کوتکو وهلی یم خو ما تراوسه دا کار نه دی کړی او نه یې شم کولای.

ښاغلی موتیرا! خدای ښه پوهیږي چې په ډیر مشکل سره مې دغه ډنده تر لاسه کړی ده. که چیرې د خپل ژوند ړنګی ړچې او در بدری ورته ووایم خپګان خوځه چې زما په حال به وژاړی.

لکه څنګه مې چې وویل دا زما لومړی ماموریت دی که چیرې پخپله راسپارل شوی دنده کې بریالی نه شم نووزګار کیږم هیله کوم چې زما په حال

ورحميږي او له بدمرغۍ څخه مې وژغوري.

پوليس هماغه ډول په ځمکه ناست و او څو ځلي وتوخيده. په څلورمه کوتې کې تومتي سړي د ده په وړاندې ولاړو او د پوليس توخيدوته يې په توخي ځواب ورکاوه. پوليس چې هر څومره خپل توخي لوړا وه تومتي سړي ترده په لوړ توخي ځواب ورکاوه څو چې پوليس په قار شو په داسې حال کې چې د خپل ځای نه پورته کيده چيغه يې کړه:

ښاغلی موتيرا! حق نه لری چې په خپل توخي مې وځوروی.

ښاغلی موتيرا! هيله کوم چې خبرې وکړې زه د هغو کسانو له ډلې څخه نه يم چې خلک په کوتکو وهي، هيله کوم چې ما دې کارته مجبور نه کړی، خبرې وکړه، خبرې!

پوليس له لږې چوپتيا نه وروسته په لوړ غږ وويل:

– زه خو ستا سره په مهربانۍ چلند کوم او هيله مې دا ده چې زما سره مرسته وکړی، خو کله، کله زه خپل ځان ستا په ځای ګڼم او دا سوال راته پيدا کيږی:

– ما په خپله هم بې له کوتکو وهلو خبرې نه کولې نو ښاغلی موتيرا به دا کار څنګه وکړي؟

اوس نو ته څو شيبې خپل ځان زما په ځای وګڼه. که چيرې ته پوليس وای دې خبرې ته راضی کيدې چې له وظيفې څخه دې وشړی او دوه ماشومان دې وږي شي؟

ما ته يې دنده را کړی ده چې تا په کوتک ووهم خو زه دا کار نه شم کولی. سنا نه هيله کوم چې خبرې وکړي او په دې ډول زما د ماشومانو ژوند وژغورې.

پوليس چې هيڅ ډول ځواب وانه وريده په کوتې کې يوې او بلې خواته

ګرځيده له ځان سره يې وويل:

- اې څښتن تعالی ته ماته د دې توان را کړی چې دغه سړی په کوتکو ووهم.

بيا يې تومتی سړی ته وکتل ورته ويې ويل:

- چې خبرې نه کوې داسې کار خو وکړه چې زه په قار شم او تا په لګتو او سوکونو ووهم.

ښاغلی موتيرا! هيله کوم ما په قار کړه چې په کوتکو دووهم...

پوليس د تومتی سړي پښو ته ورتيټ شو په ډيره عاجزی سره يې زاری ورته وکړی چې خبرې وکړي او له بدمرغی نه يې وژغوري خو چې خبرې يې ونه کړي ودريده او ويې ويل:

ته نو ما مجبور وې چې په کوتکو دې ووهم خو زه ... زه ... پوليس د څو شيبو د غلی کيدو څخه وروسته په زاريو پيل وکړ په ډير درناوی يې وويل:

- عزتمنده موتيرا هيله کوم مرسته وکړي زه ستا په وړاندې اعتراف کوم او په دې خبره پوه شه چې که چيرې په دغو ورځو کې پوليس شوی نه وای هرومرو غل کيدم ښايی ته هم څکه غل شوی يې چې پوليس کيدای نه شوي.

زړه دې غواړي چې زما د ژوند انه په پيښو پوه شی؟

پوليس او تومتی سړي دواړه د کوټې په غولی کيناستل او پوليس خپلی خبرې داسې پيل کړې:

- ښاغلی موتيرا! زه په خپل ژوندانه کې له ډيرو زياتو ماتو ګډو وسره مخامخ شوی يم او ډيرې ستونزې مې ګاللی دي محترم موتيرا...

غواړم تا ته يو پټ راز ووايم خو هيله کوم چې خبره به زما او ستا تر منځ وی پام چې بل څوک خبر نه شی، پوهيږې که نه چې زه هم پوليسو ډير وهلی يم. آن چې يو ځل يې د پوليسو په ماموريت کې دومره په کوتکو ووهلم چې

بی سده شوم، کله چې په سد شوم بښنه یې راڅخه وغوښته او د بی ګناهۍ له مخې یې رخصت کړم،خو زه بې ګناه نه وم او دوي ته مې دروغ ویلي وو.

ته هم ما ته دروغ ووایه څو زه په قار شم او تا په کوتکو ووهم.

دواړه چوپ شول.

زه ډیر وخت نه لرم خبرې وکړه ښایي ما په چلبازي تورن کړي او له وظیفې څخه مې وشړي خو په دې خبره پوه شه چې زما د ټولو راتلونکو بدمرغیو ګناه به ستا په غاړه وي.

پولیس دوزګار توب له ویرې ودریده او تومتی سړي ودریده او تومتی سړي یې هم د تشې ګونۍ په شان له ځان سره پورته کړ.

ښایې ته د بې ګناهۍ له مخې خبرې ونه کړې خوزه د وظیفې له مخې مجبور یم تا په کوتکو ووهم، بیا هم زاری درته کوم داسې کار وکړي چې زه په قار شم، ته نه غواړي چې زما سره مرسته وکړي او زما ماشومان د لوږې څخه وژغوري؟

پولیس خپل لاسونه پورته کړل غوښتل یې چې تومتی تر سوکونو او لګتولاندې په وینو کې لیت پیټ کړي خو ویې نه شول کړای ورویې خپل لاسونه راښکته کړل.

دا ځل یې تومتی سړي په ګرانښت سره په اوږو وټپاوه ویې ویل:

- دا چې ته خبرې نه کوې او زه هم نه توانیږم چې تا په کوتکو ووهم نو داسې چل به وکړې چې زه به ځمکه او دیوال په کوتکو ووهم او ته هم په لوړ غږ چیغې وهه تر څو ستا چیغې د باندې واورې او په دې پوه شې چې زه هم وهل او ټکول کولای شم.

دا دی پیل کوویې:

بیا هم د چوپې چوپتیا لمن پلنه شوه. پولیس وویل:

- ته نه غواړې چې زما سره مرسته وکړې، د خپلې سرتمبه ګۍ څخه لاس نه اخلې ښاغلې موتیرا!

ښاغلې موتیرا! زه داخبره هم منم چې ستا په ځای چیغې ووهم خو دوي زما غږ پیژني ښایي له وظیفې نه مې وشړي. هیله کوم زما سره مرسته وکړه او له بدمرغیو نه مې وژغوره.

پولیس په ډیرې عاجزۍ خپلو زاریو ته داسې دوام ورکړ:

- هیله کوم ښاغلې موتیرا خبرې وکړه. که خبرې نه کوې نو داسې کار وکړه چې زه په قار شم او تا په کوتکووهم. که دا کار هم نه کوې نوزه به ځمکه په کوتک ووهم او ته په لوړ غږ چیغې وواهه.

خو بیا هم تومتی سړي پټه خوله ولاړ و او د پولیس خبرو ته یې ځواب نه ورکاوه دا ځل پولیس هغه داسې ووهلو چې په ځمکه وغورځیده، خو څو شیبې وروسته له خپل عمل څخه پښیمان شو هغه یې له ځمکې څخه راپورته کړاو بخښنه یې ور څخه وغوښتله.

بیا پولیس د ده پرشا و خوا را وګرځیده تومتی سړي یې په خپله څنګل وواهه هغه پر ځمکه وغورځیده او پولیس چیغه کړه:

- اخر یو کار وکړه چې زه په قار شم.

چې ځواب یې ونه وریده له خپل ځان سره یې وویل:

دا څه حال دی هر څومره چې هڅه کوم قار نه راځی، زه باید هرو مرو په قار شم څو خپله د نده سرته ورسوم.

په دې وخت کې یې فکر شو چې د بوټ بند یې خلاص شوی دی د ترلو په وخت کې چې د بوت بند پرې شو. پولیس د دې پښې په باب ډیر په قار شو او

چیغه یې کړه:

– دا خبره د زغم وړنه ده هیڅوک نه شته، د کارخانې څښتنا نو ته ووایې چې د بوتو نو بندونه ولې دومره خراب جوړوي. زه خو نور د بوتونو د بندو د پیرودلو توان نه لرم...

پولیس دومره په قار شو او دومره یې په لوړ غږ چیغې وهلې چې په څلورمه کوټه کې تومتی سړی د توت د پانې په شان لړزیده.

پولیس په لوړ اواز چیغې وهلې:

– ای چلبازانو، بې شرفو، بې غیرتو، خاینانو! دا څرنګه بندونه جوړوي چې سړی غواړی ویې تړي هغه پرې کیږي!

د ډیره قاره یې په سترګو توره تیاره راغله او تومتی سړي یې یو سخت سوک ووهلو، وروسته یې هغه لاس ته چې سوک یې ورباندې وهلی و، وکتل ویې ویل:

– اوهو! توانیږم... خدای شکر چې بریالی شوم... اوس نو کولای شم، د دې خبرو نه وروسته یې په بې ګناه تومتی سړي باندې د لګتو او سوکونو ګوزار رونه پیل کړل او په پرله پسې ډول یې چیغې وهلې:

خدایه شکر... بالاخره زه هم بریالی شوم چې څوک ووهم ...زه هم توانیږم داسې څوک په لګتو په سوکونو ورهم چې نه یې پیژنم او نه په دې پوهیږم چې ګناه یې څه ده؟!...

د پرانیستلو جشن

د زیړي او بدرنګي ونې څنګ ته چې ښکلی دریشی یې اغوستی وه، د میلمنو قتارونه ګډوډ کړل، په داسې حال کې چې په مخ یې خولو کتارونه جوړ کړي وو، ځان یې یوه بل سړي ته چې له ده نه یې هم ډیره ښکلی دریشی اغوستی وه او یوازې ولاړو، ور ورساوه، ویې ویل:

– دا چې سترګې پر لاره (منتظر) مې پریښودې، خامخا به په قار وی، زه د خپل ځنډ له کبله ډیره بخښنه غواړم.

– نه، نه، هیڅکله نه، دداسی خوشالی په ورځ هیڅوک نه په قار یږي.

– نن د کوربه دنده ماته راسپارل شوی ده، ډیر سرګردان یم، د دغه بیروبار څخه دومره په تنګ شوم چې نردې مې خپل ځان ورک کړی و، ځکه مې ګوښی پریښوی، پوهیږم چې خامخا به خپه شوی وی.

– نه داسې نه ده، ما د ویاند خبرو ته غوږ نیولی و، رښتیا دا راته ووایه چې د دې ویاند نوم څه شی دی؟

غښتلی بدرنګ سړی په غوږ کې څه ورته وویل چې هغه بل سړی په اشاری سره خپل سر و ښوراوه، ویې ویل:

نه، نه، زه هیڅ فکر نه کوم.

هو رښتیا وایم هماغه دی. خو په ډیر مشکل سره مودي ته راضی کړ.

ویاند په ډیر شوق سره داسې پارونکي خبري کولې چې ټول اوریدونکي یې دومره هیجاني او لمسولي وو چې د ده د هرې کلمې په پای کې یې په پرله

پسې ډول چکچکې کولې او د چکچکو په منځ کې به ده دا خبره زیاتوله: «په خبرو خو هیواد، نه صنعتی کیږی.»

«هغه ملت چې غنم نه شی کرلی څنګه به وکولای شی چې په بشپړ ډول خپل هیواد صنعتی کړی، نه، هیڅکله نه، امکان نه لری، خو په دې تولو مشکلاتو برسیره مورږ نن ورځ د هیواد د صنعتی کولو د لومړی ګام په توګه دغه ښکلی ودانی پرانیزو.»

غښتلی بدرنګ سړی وویل:

- په رښتیا چې ډیره ښکلی ودانی ده، زما په نظر که چیرې دا ملت وغواړی هر څه کولی شی.

تاسو پوهیږئ چې دا کار په بشپړ ډول ملی ګام دی؟

تاسو ښه وایې که څه هم زمورږ هیواد د صنعتی کیدو له پلوه ډیر وروسته پاتې دی، خو د صنعتی کیدو په وړاندې هیڅ ډول خنډونه، نه لري، ماهی چې هر وخت له اوبو را وباسې، تازه دي.

زه فکر کوم چې دا چار ځای (کارخانه) به ۳-٤ میاشتې وروسته په کار پیل وکړي.

دا مو دریم ځل دی چې پرانیزو یې، غواړو چې دوه دری ځلی یې نوره هم پرانیزو.

خو زما نظر داسې دی چې دا جشن د چار ځاې د کار پیل کیدو په وخت کې جوړ شوی وای، ډیر به ښه وای.

مورږ هم داسې غوښتل، خو د داخلی کالیو نندارتون پرانستلو مورږ بیړې ته اړ کړو.

د داخلی کالیو نندارتون پرانیستل زمورږ له پاره ستره ډاډ ګیرنه وه، دغه

نندارتون څوک اداره کوی؟

– دا نندارتون یوانګریز اداره کوی.

د هغه کتن دودانی له چت نه دیوالونو ته را ښکته شوه، ویې ویل:

– په ربښتیا چې ډیره ستر دا و ښکلی ودانی ود.

د ملی صنایعو د ښکلا په هکله مو له هیڅ ډول سر ښندنې څخه ډډه نه ده کړی.

خامخا مو ډیر لګښت هم ورباندې کړی دی.

هو، ډیرې زیاتې پیسې مو ولګولې که چیرې د دوی د لسو کالو پور نه وای، زمور کار په نیمایی کې پاتی کیده.

څومره به ښه وای چې د هیواد په تورو ښارونو کې هم داسې ودانی جوړی شی. هیله ده چې څو کاله وروسته زمور هیواد هم د صنعتی هیوادونو په ډله کې راشی. هغه خپلې ګړی ته وکتل، غټښتلی بدنګ سړی ته یې وویل:

– امکان نه لري، راځه چې لومړي ــ سره وخښو بیایې د سالم سګریټو قطی له جیبه را ویوست او هغه ته یې ورانديکړ.

– ډیره مننه، زه باید تر دولسو بجو د مخه په هوایی ډګر کې وم.

تر دولسو بجو پورې به لس ځلې نوره هم ودانی پرانیزو،! چې ټوله ودانی او زمور امریکایی یار، ونه وینې تلاې نه شی مور د ډوډی پخولو له پاره دایتالیی څخه اشپزان راوستلي دي، دوي دیوه ستر لیک پرمخ د خارجی خورو په واسطه زمور چار ځاې هم انځور کړي دی، که څه هم دا عمل دومره درومند کار نه دی، خو زه د ملی کارونو په وراندې د ماشوم په ډول هیجانی کیږم.

زه هم ستا څخه کم نه یم که څه هم زمور کورنی سیاست د صنایعو په

هکله کمزوری دی، خو زه په خپلو خلکو ټینګ باور لرم، که ورته ووایی چې چار ځای جوړ کړه، جوړه وي یې، که ورته ووایې چې ماشینونه په کار واچوه، اچوي یې، که ورته ووایې چې محصولات خرڅ کړه، خرڅوي یې، زما په نظر چې زموږ ستر ډاډ من پلویان زموږ خلک دي خو زموږ ملا متیا په دې کې ده چې لا تر اوسه هم د صنایعو د پراختیا په باب سستی کوو.

- ته رښتیا وایی، په دې باب مو ډیره سستی کړې ده.

- پخوا زموږ په هیواد کې باندني جنسونه نه وو؟ هر شی مو چې جوړ ول، هغه مو په خپله لګول او باندنیو جنسونو ته مو ضرورت نه درلود.

نا ځاپه د ویاند لور غږ د دوي خبري پرې کړی چې ویل یې:

دغه ستره ودانی د نوي معماری په ډول جوړه شوی ده...

غښتلی بدرنګ سړي وویل:

- فکر کوم چې دغه ودانی په منځنۍ خټیځ کې یوازنۍ ښه او ښکلی ودانی وی، ځکه چې دغه ودانی انګریزانو جوړه کړې ده، ښه پام وکړه په دروازه کې یې د معلوماتو دفتر، هلته یې د سینما سالون او شاته یې په فرانسوي ډول کازنیو (دپتویو ډول لوبه ده) په څنګ کې یې په امریکایی ډول بار جوړ کړی دی، په دویم پور کې یې بریغنګ جوړ شوی دی، ښه شو چې په یاد مې شول، په دې ودانی کې د ننه یو ډیر ښکلی رستورانت دی چې څلرویشت ساعته د میلمنو په مخ خلاص دي.

- ښه نو څرګنده ده چې د هر شی په هکله مو فکر کړي دي.

- هو همداسې ده، ما شینو نه مود ایتالیې څخه راوړي دي، فالتو پرزې مو له فرانسې څخه پیرودلي دي.

د ماشینونو لګولو کار اتریشیان کوي او د اوبدلو ماشینونه مو له

بلژیک څخه راغوښتي دي چې تر اوسه نه دي را رسیدلي.

هیله ده چې ماشینونه زر راورسیږي او مور هم په اروپایي پلورنځیو کې په ترکیه کې جوړ شوي مالونه کیږدو او نړیوالو ته په ډاګه کړو چې ترکیه هم یو صنعتي او یا نیمایې صنعتي هیواد دی.

هو انشاالله چې دواړه به اروپایي بازارونو کې په ترکیه کې د جوړ شو یو مالونو لیدنه، کتنه، وکړو.

- (هو کله چې ستا سو چار ځاي په کار پیل وکړي، د ګرځیدو او مسافرتونو وخت په پیدا نه کړي.

- زه غواړم چې کله چار ځاي په کار پیل وکړی، خپلې دندې مرستیالانو ته وروسپارم او د ستړیا د لرې کولو له پاره اروپا ته لاړ شم.

- خدای دې همداسې کړی، دا راته ووایه چې دغه دریشی دې د نن ورځې له پاره ګنډلی ده؟

- نه ډیر وخت کیږی.

- ډیره ښکلی دریشی ده، له کومه دې پیرودلی ده؟

- له لندن څخه مې راغوښتی ده، لکه چې خوښه دې شوه که غواړې چې تا ته یې هم راوغواړم؟

- زه یې د خپلو زامنو له پاره غواړم.

- پروانه لری، سباته یې تکه د لندن څخه درته راغواړم، ګنډلی یې هم درته راغوښتی شم،

- ډیره مننه که داکار وکړی ډیر به خوشاله شم.

بیا د دوي خبرې دوباند لورغږپرې کړي چې د چارځاي د ګټورتوب او په راتلونکی کې د علمی کار د پیل کیدو او دیوبل جشن په باب یې کولې.

سړي خپلې خبرې غبرګې کړې ويې ويل :

- انشاالله چې پيسې نغدي دي

- اختيارلرې دادومره مهمه خبره نه ده .

- وايې چې حساب دورونو ترمنځ هم ښه دی ، ځومره ښه کارموکړچې چارځاي مودکورنيو منابعود نندارتون په ورځ پرانيست ځکه چې په دې وخت کې د خلکوملی احساسات راپاريدلي دي اوداسې کړه ډيرخوښوي.

- هو! موږهم د خلکوملی احساساتو ته زيات ارزښت ورکوو او هغه موږه پام کې نيولي دي .

په دې وخت کې يې خپل لاس جيب ته ننه ايست ، څه شی يې لټول ، کله يې چې په پيدا کيدونه شو بريالی، خپل انډيوال ته يې وويل:

- سالم سګرټ لرې ؟

-هودغه دې!

-مننه

- خو تاسو د چارځای د استاذانو په باب هيڅ ونه ويل ؟

- بی غمه اوسه ، دوي هم له هالند نه راغلي دي.

- ډير ښه کار مو کړی دی که کورنی استاذان مو تاکلی واي ، محصولات يې ښه نه راتلل او زمونږ ملی صنايع له ماتی سره مخامخ کيدلي. دا راته ووايه چې د ديوالونو رنګ وطنی دی ؟

- نه صاحب! مونږ ډيرې پيسې په دغو خارجی رنګونو او خارجی انځور ګرو لګولي دي ، يوازې د چارځای د باند نيو د يوالونو پر مخ مو له وطنی رنګ څخه کار اخيستی دی.

او دودانی چتکه هم د کورنيو استاذانو له خوا جوړه شوی ده.

-ډیر د خوشالۍ ځای دی، هیله ده ډیر زر داسې وخت را ورسیږی چې د ښکلو ودانیو د داخلی رنګونو له پاره هم د وطنی رنګونو او انځور ګرو څخه کار واخلو.

ویاند وویل:

- هیله ده چې د دې ډول ستر و ملی چارځایونو چې د پرانستلو ورځ یې د وطنی صنایعو له نندارتون سره سمون لري، د هیواد د صناعتی کولو په پرمختګ کې ستر ګام وی.

د ویاند د بشپړو خبرو څخه ورسته هر څوک ډلې، ډلې یوې او بلې خواته خواره شول.

غښتلی بدرنګ سړی چې د چارځای رئیس و، د ډیرې خوشالۍ له کبله په کالیو کې نه ځائیده، انډیوال یې د ده د سر په سلامتی له ګیلاس پورته کولو څخه وروسته پوښتنه وکړه:

- وبخښه! هیر مې و، پوښتنه وکړم چې دغه چارځای به څه ډول محصولات تولید کړي؟

ښاغلی رئیس په داسې حال کې چې میلمانه یې د... څښلو ته را بلل، ویې ویل:

- د دې چارځای محصولات د وماشومانو د ورنیو رخت دی چې د امریکایی رخت په نامه یادیږی!

ختیځه غوړه مالی له موډه لویدلی ده!!!

مور په کار بوخت وو، او په کوټه کې چاپیره نور انډیوالان هم په خپلو کارونو لګیا وو، د دې له پاره چې زه او کریم بیګ نوي په کار ګمارل شوي وو ځکه مو لوی رئیس نه پیژاند له همدې کبله چې هغه زمور دفتر ته راننوت زه او کریم بیګ ورته ولاړ نه شوو، زمور یوه انډیوال چې زما شاته ناست و زه یې وسکنډلم په غوږ کې یې راته وویل:

-ودریږه دغه زمور لوی رئیس دي!

د دې خبرې په اوریدو سره سمدستي ولاړ شوم، تر شا انډیوال مې خپلې خبرې غبرګې کړې ویې ویل:

- لوي رئیس صاحب شل دیرش ملیونه لیرې لري، څلویښت پنځوس تنه د ده په ځانګړې موسسه کې کار کوي، لا هم ستازړه نه غواړي چې د ده له پاره ولاړ شي!!

رئیس په قارجن غږ وویل:

- کینې!

ټول کیناستو، یوازې زمور د څانګې رئیس ښاغلی شوقي بیک ولاړ و، لوي رئیس په کرکجن نظر ورته وکتل ویې ویل:

ولې نه کینې؟ خبر نه یې چې زما له غوړه مالیز څخه بدرائی؟

شوقي بیګ هماغسې تیارسې ولاړ و، ویې ویل:

مهربانی مو ده صاحب، لطف مو دی صاحب، کینم صاحب! خو لا

تراوسه هم شوقی بیګ ولاړ و ، ده خپل لاسونه په تېر کینبودل په ملا کوږ شو او سرې هم ځوږند کړ.

لوی رئیس د ده له دریدو څخه ډیر په تنګ شو په ږدو ، ږدو یې ورته کتل ویې ویل:

- درته ومې ویل چې کینه!

- اطاعت کوم صاحب، لطف او مهربانی مو ده صاحب! ژوندی دې وی صاحب! خو بناغلی شوقی بیګ لا تر اوسه ولاړو ، زړه یې نه غوښتل چې کینی.

لوی رئیس صاحب بیا په قار جن غږ ورته وویل:

-درته ومې ویل چې له غوږه مالی نه مې بد راځی ، کینه!! خو بناغلی شوقی بیګ لا هم خپل لاسونه په تېر نیولي وو ، سرې تر زنګنو پورې تیت کړی و او کوږ ولاړ و.

د شوقی د دغه ډول شرمناکې غوږه مالی له امله زما په بدن د خولو لښتې را مات شول. که رانږدی وای خامخا به مې د کمیس دشاتر پیڅی را نیولی وای او د ځمکې خواته به مې کش کړی وای، داخبره به مې ورته کړی واي چې: «بس ده صاحب دومره زیاته د بنده بنده ګی نه ده بنه!»

د لوي رئیس رنګ له ډیره قاره سور و او بنت او چیغه یې کړه:

- ولی نه کینې؟ څو وارې مې درته وویل چې له غوږه مالیو نه مې بد راځی. زر کینه په خپل کار لګیاشه!!!

- منم یې صاحب، مهربانی مو ده صاحب، خدای دې ژوندی لره صاحب!

بناغلی شوقی بیک لګیا وغوږې، غوږې خبرې یې کولې او نه کیناسته. لږې رئیس په دې نه پوهیده چې شوقی بیک څه غواړي او څنګه یې

کینوی ؟مور ته یې مخ راواړوه ویې ویل:

– دا ولی ته کینې؟ څه شی غواړی ؟دا څه ډول سړی دی؟

داخل یې په پسته ژبه ورته وویل:

– او وروره ولې نه کینې ؟مهربانی وکړه کینه که څه ویل غواړې په ناستی یې ووایه!

شوقی بیګ بیا خپل سر تر زنګنو پورې تیت کړ ویې ویل:

– مهربان یې صاحب، خدای دې ژوندی لره صاحب!

لوی رئیس ته د ډیره قاره خندا ورغله ویې ویل:

– ښاغلی شوقی بیګ ! د دې ډول درناوی او غوره مالیو نه مې بد راځی، پوهیږې که نه؟

– پوه شوم صاحب، ته رښتیا وایی، ډیره مهربانی مو ده صاحب! ښاغلی شوقی بیګ هماغسی ولاړو ، پخوا به اندیوالانو ویل چې شوق بیګ ډیر غوره مال سړی دی خو تر څو مې په خپلو ستر ګو نه ولیدلای باور مې نه کاوه لوی رئیس بیا ورته وویل:

– ښاغلی شوقی بیګ هیله کوم کینه!

شوقی بیګ هماغسی په غوره مالیو لګیاو ، ویل یې:

– هیله کوم صاحب، مهربانی مو ده صاحب، منم یې صاحب!!

لوی رئیس پوه شو چې د ده هیلې ګټه نه لري ځکه یې شوقی ته ورځټ کړ او مور ته یې رامخ کړ ویې ویل:

– یل ځل چې زه راځم هیڅوک به له ځایه نه پورته کیږی.

لوی رئیس له کوټې نه ووت او شوقی بیګ هماغسی ولاړو او د ځان سره یې مهربان یې صاحب، ښه دې وویل صاحب، خدای مو ژوندی لره

صاحب! په ویلو بوخت و.

د غرمنۍ خوړلو په وخت کې مې کریم بیګ ته وویل: (دا شوقی بیګ څومره غوره مال سړی دی د ده په شان غوره مال مې تر اوسه نه دی لیدلی.

- او، وروره دغی ته ختیزه غوره مالی وایی د دې غوره مالی وخت اوس تیر شوی دی.

په حیرانتیا سره مې پوښتنه وکړه:

- دا ته څه وایې په غوره مالیو کې هم ختیزه او لویدیزه غوره مالی شته؟

کریم بیګ وویل:

- هو! همداسې ده! ختیزه غوره مالی اوس له موډه لویدلی او زړه شوی ده. دا ځکه لوی رئیس له دې ډول غوره مالی څخه کرکه کوی او د زغم توان یې نه لری.

لویدیزه غوره مالی داسې ده چې لومړی باید د لویانو په غوښتنو او کړو، وړو ځان پوه کړی او وروسته د دوې له غوښتنو سره سم خپل ځان برابر او کار وبارو ته ځلا ورکړی.

د بیلګې په ډول همدا رئیس چې له ختیزې غوره مالی نه یی بد راځی که چیرې د لویدیز غوره مال په منګولو کې را گیر شی بیا به یې وګورې چې څرنګه د لویدیز غوره مال سازته نځیږي.

د دې خبرې په اوریدو سره هک، پک پاتی شوم له کریم بیګ نه مې پوښتنه وکړه.

- کریم بیګه! وروره ته په لویدیزه غوره مالی پوهیږې؟

راته ویې ویل:

- هو! ما یې فلسفه لوستلی ده، پری پوهیږم او ډیره ښه یې لوبولی شم.

ډیر خند نه و تیر شوی چې کریم بیګ خپل ځان څرګند کړ، داسې چې زما او د کرنیم تنخا په میاشت کې (۲۵۰) لیرې وه او کریم بیګ له ما څخه څه موده وروسته په کار ګمارل شوی و خو اوس د ده تنخا دری سوه لیرو ته پورته شوې وه. لږ موده وروسته د کریم بیګ تنخا دوه برابره شوه پداسې حال کې چې د شوقی بیګ تنخا څلور سره وه. یوه ورځ لوی رئیس زمور کوټې ته را ننوت د کریم بیګ کارونه یې وستایل هغه یې زمور د څانګې رئیس وټاکه او شوقي بیګ د ده مرستیال شو.

د کریم بیګ پر مختګونه پدې ځای ونه دریدل لږ موده وروسته یې تنخاه (۷۵۰) لیرو ته ورسیده او د لوی رئیس د مرستیال او منشی په توګه وټاکل شو. څومره به چې زما دُ لویدیز غوره مال اندیوال تنخاه او مقام لوړیده په هغه اندازه به زما او د کریم بیګ تر منځ د اندیوالي واټن زیاتیده.

مور ټولو د مجبوریت له مخې کریم بیګ ته درناوی کاوه او د ده امرونه مو د سر په سترګو منل خو شوقی بیګ په دې کار کې تر ټولو لومړي و کله به چې هغه له کریم بیګ سره مخامخ شو سمدستی به یې د خپل کمیس د تنبو په ټرلو پیل وکړ ویل به یې:

– ډیره قدرمنه، خدای دې زمور له سره مه کموه، تاسې ډیر مهربان یاست.

کریم بیګ به ډیر ځله شوقی بیګ ته وویل چې کینه خو ده هیڅکله د کریم په وړاندې د ناستی زړه نه شو کولای. یوه ورځ خبره شوم چې کریم بیګ له لوی رئیس سره اروپا ته لاړ. د سفر له را ګرځیدو سره سمه د کریم بیګ تنخاه دوه زره لیرې شوه. لا څه موده نه وه تیره شوی چې تنخایې پنځو زرو لیرو ته پورته شوه. کله به چې رئیس نه و کریم بیګ به ټول کارونه پر مخ بیول خو چې لوی رئیس به دفتر ته راغی کارونه به سر په سر او شنډ پراته وو.

ښايي تاسو فکر وکړی چې کريم بيګ به پوه او هوښيار سړي و ؟

– نه داسې نه وه د هغه پوهه او هوښياری تر ټولو ښکته وه.

دا چې څرنګه ومره لوړ سړی شو او په لوي رئيس دومره ګران شو په دی خبره يوازې زه پوهيدم چې لويديزه غوړه مالی څومره اغيزمنه او ګټوره ده.

که ږښتيا ووايم ختيزه غوړه مالی مې له شوقی بيګ څخه ليدلی وه خو د لويديزې غوړه مالی مې يوازې د کريم بيګ څخه نوم اوريدلی و ځکه د لويديزې غوړه مالی ليدلو او اوريدلو ته ډير ليوال وم. څښتن تعالی مې دغه ارمان هم پوره کړ کله چې زمور د موسسې د شلم تلپن جشن و ، د لويديزې غوړه مالی کړه وړه او چل ول مې هم له کريم بيګ څخه وليدل. دغه جشن د يوه ستر هوټل په لوی سالون کې جوړ شوی و او د دغې موسسې ټول کار کوونکي راغلي وو. ډيره هڅه مې وکړه چې نن شپه د لوی رئيس د ميز تر څنګ ځای ونيسم څو د کريم بيګ لويديزه غوړه مالی په خپلو سترګو ووينم او په غوږ ويې واورم. څښتن تعالی په دې هم بريالی کړم چې د لوي رئيس له ميز څخه مې دوې چوکۍ لرې ځای ونيو او خپل ټول بدن مې د کريم بيګ خبرو ته دوه غوړه کړ.

لوی رئيس د ټولو کار کوونکو د روغتيا او بريالېتوب په هيله خپل ګيلاس پورته کړل غوښتل يې چې د ټولو د سر په سلامتی يې وڅښی خو نا څاپه کريم بيګ ورټوپ کړ د رئيس لاس يې ټينګ ونيو ورته ويې ويل:

– هيله کوم صاحب! مور ټول پوهيږو چې ته يې زمورد خوشالی له پاره څښې خو ستا بدن ته ډير زيان لری ځکه مور ټول هيله کوو چې ويې نه څښې.

رئيس موسکی شو او په ځواب کې يې ورته وويل:

– څه پروالړ هره شپه خو جشن نه وی.

کریم بیګ په ډیره زړه سواندې او پسته ژبه ورته وویل:

- زه یې ستا له شخصیت سره لازمه نه ګنم نور نو په خپله اختیار لري خو سبا به د خور و څخه شکایت نه کوی.

رئیس خپل ګیلاس بیرته د میز په سر کیښود او څو شیبې وروسته یې وویل:

- هو ډیره توده شوه کړکي وازه کړی.

رئیس لا خپله خبره پای ته نه وه رسولی چې شوقی بیګ د کړکی خواته وروځغاست او ویې ویل:

- بښه صاحب! ډیر بښه صاحب، دستی یې وازوم، مهربانی موده صاحب! خو شوقی بیګ لا کړکی ته نه ور سیدلی چې کریم بیګ ورچیغه کړه:

- را وګرځه! کړکی مه خلاصه وه! بیا یې رئیس ته مخ ور واړاوه په ډیره نرمه ژبه یې ورته وویل:

- رئیس صاحب تا سو خولې یاست که کړکی وازه کړی هر ومرو رنځوریږی، رئیس د مننې په ډول خپل سر وښوراوه د کریم بیګ خبره یې ومنله، د جیب نه یې دسمال را ویست او د خپلې تنډې خولې یې پاکې کړې.

بیا رئیس غوښتل چې یو ګیلاس اوبه وڅښی. خو کریم بیګ خوښه وزنه کړه ویې ویل:

- رئیس صاحب تاسو خو نن شپه ډیر عجیبه کارونه کوی.

- څه عجیبه کارونه کوم؟ یوازې غواړم اوبه وڅښم.

- لکه چې د ډاکټر خبره دې هیره شوی ده. سمدستي یې پیشخدمت ته غږ کړ ورته ویې ویل:

- په بیړه یو بوتل کوکاکولا را وړه.

رئیس په چې هر څه غوښتل کریم بیګ به خوښه نه ورکوله او بل څه به یې ورته پیشنهاد کول رئیس به هم د کریم بیګ خبري منلي.

کله چې ټول خولې شول کریم بیګ وویل:

- اوس نوکرکی وازه کړي. کریم بیګ لا دا خبره نه وه پوره کړي چې شوقی بیګ د کرکیو خواته په ورتوپونو شو. د څوچوکیو او میزونو سره ولګیده، د ټولو مخونه وراوښتل، رئیس په قارجن اواز ورته وویل:

- ته پیشخدمت یې! لږ دې ځان وپیژنه او په خپل ځای درونه کینه! شوقی لاسونه په ټټر کیښودل، په ملا کې کور شو. خپل سر یې تر زنګنو پورې ښکته کړ او صاحبه ښه مو وویل، مهربانی مو وکړه صاحب، ستاسو خبره سمه ده صاحب منم یې صاحب، په وېلویې پیل وکړ.

د دې له پاره چې رئیس صاحب خپله غوسه سره کړی غوښتل یې چې سګرټ وڅکوی خو کریم بیګ ورته وویل:

-رئیسُ صاحب دا دې دریم سګرټ دی چې څکوی یې، سګرټ دې ولګوه خو هیله کوم چې یوازې یو کش ورکړی.

ښه مې ورته پام و چې یوازې کریم بیګ رئیس ته وویل:

- تا خو زما سره ژمنه کړی وه چې بیا به دغه نصواری دریشی نه اغوندې، دا ولې دومره بی سلیقی شوی یې؟

د دغه ملیونر رئیس له کړو وړو څخه داسې را ته څرګنده شوه چې هغه کټ مټ د یوه ماشوم په شان د کریم بیګ له خوا لوبیږی.

کله مو چې د شپې ډوډی وخوړه څو شیبې وروسته کریم بیګ لومړی خپلی ګړی ته وکتل بیا یې رئیس ته وویل:

- رئیس صاحب ستاسو دخوب وخت را ورسید څه چې ځو!.

رئیس په ځواب کې ورته وویل:

- لا وخت ډیر دی لږ به کینو.

- نه داسې نه کیږی اوس نه نیمی بجې دي چې کورته رسیږو لس بجی کیږی اوتاسو باید په خپل کټ کی ځملئ. کله چې رئیس د تګ له پاره پورته شو. کریم بیګ د ده ګیلاس په سر واړاوه ها سمدستی د ده لاس ونیو ورته ومې ویل:

- او، وروره ولې داسې کوی! دا دې پنځم ګیلاس دی خپلی روغتیا ته دې پام دی او که نه؟

کریم بیګ زما خواته را وګرځیده زما په اوږ ویې لاس واچوه د سالون څنډې ته یې بوتلم او د خندا نه په ډکه خوله یې راته وویل:

- شاباس اوس د ختیزو او لویدیزو غوره مالیو په توپیر پوه شوی یې خو یو څه نور لوست هم شته چې باید زده یې کړی. د دې کوچنی ازموینې نه څرګندیږی چې د ښې وړتیا او استعداد څښتن کولای شی چې خپل ځان د لویدیزې غوره مالی لوړ وپوړیو ته ورسوی.

- تنخاه دې څومره ده؟

- دوه سو پنځوس لیرې.

- پنځه سوه به شی، سبا ته له شوقی څخه کارونه تسلم کړه وروسته له دې هغه ستا مرستیال دی.

د تګ په وخت کې شوقی بیګ ورمنډه کړه رئیس او کریم ته یې دروازه پرانیستله لاسونه یې په تټر کیښودل او ورته ویې ویل:

- تاسو نن شپه مونږ سر لوړي کړو صاحب، ژوندي دې وي صاحب، څښتن مونږ له سره مه کمه وه صاحب.

ما ور باندې چیغه کړه:

- خدای دې ورک کړه دغوړه مالو غوړه ماله، تا خو د غوړه مالانو پزه پرې کړه.

هر شی یواندازه لری، څه ورک شه بدمرغه!

شوقی ډیر وارخطا شو لاسونه یې په تتر ونیول په ملا کې کور شو سرې تر زنګنو پورې تیت کړ او ویې ویل:

- ډیر ښه دې وویل صاحب، منم یې صاحب، مهربانی دې وکړه صاحب! ژوندی دې وی صاحب!

د سړیتوب لار

دا یوه ځنډنه کیسه ده وایي پخوا زمانه کې د یوه سړی زوی تر لوړې رتبې پورې هم ورسیده خو پلار یې لاهم ورته ویل:

(ته نه سړی کیږی زویه!)

دا خبره ما ته هم راپیښه شوه او زما په باب تاریخ په څټ راوخرخیده.

د ښوونځی په لومړی ټولګی کې وم چې پلار مې: (ته نه سړی کیږی زویه) راته پیل کړل. ښوونځی مې پای ته ورساوه او پوهنځی ته شامل شوم خو بیا هم زما پلار راته ویل:

- ته نه سړي کیږی زویه!

- پوښتنه مې ځنې وکړه:

- پلار جانه نه یې وینې چې د پرستنې هومره لیسانسه مې اخیستی ده؟ لا تر اوسه مې هم سړی نه بولې؟

بې له دې چې زما ستر بری لیک ته وګوری ویې ویل:

- ته نه سړي کیږی زویه!

د ځان سره مې فکر وکړ:

- لکه چې زما پلار ته لیسانسه دومره ارزښت نه لری ښایي هغه غواړی چې کله زه وکیل شم نو سړی به شم.

سبا ته مې (د ښکرور ودرواغو) کتاب واخیست او په یوه اوونۍ کې مې سل ځلې ولوست څو مې د درواغو ویل ښه زده کړل.

ښيا مې دوکالت له پاره ځان کاندید کړ، هره ورځ مې خلک میلمانه کول پریمانه ډوډۍ او میوې مې ورکولې. د دوې سره مې ژمنه وکړه چې که چیرې ماته وټ واچوې او زه وکیل شم تل به داسې خوړې ډوډۍ او میوې خورې.

دوې هم په ما باور وکړ ویې ویل:

موږ هم ژمنه کوو چې خپلې د باور رایې تا ته درکړو ځکه چې تر تانبه سړی نه شته.

په منډه لاړم خپل پلار ته مې وویل:

پلار جانه! په ټولو کاندیدانو کې زما پلویان زیات دي. فکر مې کاوه چې پلار به مې په دا خبره خوشاله شي خو هغه مخ را واړاوه ویې ویل:

- ته نه سړی کیږې زویه! په دغو خلکو باور نه شته، د دوې چې چیرته ښه وي هلته یې شپه وي، بس د یوې د دووشپو یاران دي.

پوه شوم چې ربښتیا وایي ځکه مې څو بوجۍ نقل واخیستل د کلیو لورته لاړم هلته مې کلیوالو ته داسې ښکرور درواغ وویل چې تیږې یې هم له ځایه وښورولی ورته ومې ویل:

- کله چې زه وکیل شم سمدستي به ستاسو ژوند درسم کړم، هر کورته به د صنعت د پراختیا له پاره لس زره لیرې لومړی پانګه درکړم، ښوونځي او روغتونو نه به درته جوړ کړم، سړکونه به درته پاخه کړم، د لوڼو انو له پاره به دواده لګښت له منځه یوسم ټولو ته به ورا وکړم که چیرې په هیواد کې ټغونې کمې شي د باندنیو هیوادونو نه به ښکلې ټغونې درته راوغواړم.

په ډیره مینه یې لاسونه راته وپرکول او د ژوند، ژوند غږ ونویې له وتو څخه مرغۍ والوزولې، بیا مې د بوجیو خولې پرانیستلې او نقل مې ور باندې وویشل. کله چې دوې د نقلو څخه خولې ډکې کړې پوښتنه مې وکړې

وکړه:

- څنګه دي؟ خوند يې څنګه دی؟

کلیوالو په یوه خوله ځواب را کړ:

- ډیر خواږه دي دا لومړی ځل دی چې داسې خواږه نقل خورو.

ورته ومې‌ویل:

- ښاغلو! که تاسو ماته رایې را کړئ ژوند به مو د دغو نقلو په شان خوږ شی.

ټولو په یوه غږ راته وویل:

- مور تر نورو کاندیدانو تا غوره ګڼو!

لاړم پلار ته مې وویل:

- پلار جانه زه د خلکو وکیل کیږم، ټولو ژمنه وکړه چې رایې به ماته را کوي.

راته ویې ویل:

- ته نه سړی کیږی زویه، ستا په شان ښکرور درواغ پخوانیو هم دوې ته ویلي دي، د دې ډول درواغو څخه یې غوږونه ډک دي او دوي د نورو کاندیدانو سره هم دا ډول ژمنه کړی ده.

خپل ګریوان ته مې سر ښکته کړ له څه ناڅه چرت نه مې وروسته داغوره وګنله چې د وکیل کیدو له پاره باید ګوندی شم ځکه مې په یوه پیاوړی ګوند کې خپل نوم ولیکو.

کله مې چې د دې خبرې نه خپل پلار خبر کړ راته ویې‌ویل:

- ته نه سړي کیږی زویه!

فکر مې‌وکړ چې ښایی د پلار مې دغه ګوند نه وی خوښ ځکه مې د سی، تی، پی په ګوندکې ځان شامل کړ خو چې پلار مې بیا هماغه خبره راته وکړه چې (ته نه سړي کیږی زویه!) سمدستی مې د تی، کی، پی ګوند

غږیتوب تر لاسه کړ. خو بیا یې هم هماغه خبره راته وکړه چې:

- ته نه سړی کیږی زویه!

لنډه دا چې تولو سترو او کوچنیو ګوندو نو ته ورغلم خو چې پلار مې هماغه زده کړی خبره راته وکړه مجبور شوم پخپله مې ګوند جوړ کړ او ځان مې د دې ګوند مشر کړ خو کله مې چې پلار د دې خبرې نه خبر کړ راته ویې ویل:

- ته نه سړی کیږی زویه!

بیا مې خپل سر ګریوان ته ښکته کړ د ډیر چرت نه وروسته پوه شوم چې پلار مې رښتیا وایي له دغو لارو څخه سړیتوب ته نه شم رسیدلی. ښه دا ده چې خپل ځان د دین له لارې سړیتوب ته ورسوم.

سمدستی مې یوه کمه سل تسبې ګوتو ته کړې، دینی عالمانو ته مې د څو میلمستیا ووځخه وروسته جوماتونو او دینی غونډو ته لار پیدا کړه.

څه موده وروسته مې په دینی غونډوکې د جوماتونو د جوړیدو، حج ته د تګ راتګ د اسانتیا وو برابر ولو، په لوډسپیکرونو کې د اذانونو کولو په هکله وینا وې پیل کړې. له دې لارې مې هم زیات پلویان پیدا کړل، زما سترې، سترې څیرې او، اوږدې وینا دې په ورځپاڼو کې خپریدې. پوه پنډه ورځپاڼې مې پلار ته وروړی ورته ومې ویل:

- دا دې پلاره و ګوره اوس خو به زما په سړیتوب داده شوی وې!

خپل سریې وښوراوه ویې ویل:

- ته نه سړی کیږی زویه!

پوه شوم چې زما تولې هلې ځلې بې ګټې وې ځکه مې هماغه ورځ خپله لار بدله کړه او چپې شوم، وینا وې مې وکړې، اعلامیې مې خپرې کړې او سترې، سترې غوښې مې جوړې کړې. خو پلار مې بیا راته وویل:

- ته نه سړی کیږی زویه!

په چرتونو کې ډوب شوم چې څرنګه خپل ځان سړیتوب ته ورسوم؟

وروړمې په فکر کې را وګرځیدل.

- پلار مې ښه وایي چا چې اروپا نه وی لیدلی څرنګه د سړیتوب پړاوته رسیدلای شی؟

زړمې رئیس ته ځان ور، ورساوه څو مره چل ول او غوره مالی مې چې زده وې، په کار مې واچولې څو مې په یوه ډله کې اروپا ته ولیږی رئیس راته وویل:

- ډیر خواشنی شوم چې ټول علمی، صنعتي او بزګري هیتونه لا پخوا اروپا ته تللي دي، یوازې هنری ډله پاتې ده که غواړې چې په دې ډله کې لاړ شی راته ووایه.

- هو صاحب! زه غواړم چې په همدې ډله کې اروپا ته لاړ شم څه پروا لری چې هیات علمی وی او یا هنری.

ښه نو د تاکوم هنر زده دی؟

- زما د ښکرورو درواغو هنر، د سیاسی او دینی ویناوو هنر او ډیر نور هنرونه زده دي.

په هنری ډله کې یې د درومیاشتو له پاره اروپا ته ولیږلم او په ټوله اروپا کې وګرځیدم. کله چې خپل هیواد ته راستون شوم پلار ته مې وویل:

دا ده پلاره اوس نو د سړیتوب پړاوته ورسیدم ځکه چې څلور کونجه اروپا مې کونج په کونج ولیدله.

بیا یې هم هماغه خبره راته وکړه چې:

- ته نه سړی کیږی زویه!

د څه نا څه چرت نه وروسته مې بیرته انتخاباتی مبارزه پیل کړه او ځان مې د خلکو وکیل کړ کله مې چې خپل باورلیک پلار ته وربښکاره کړ هماغه خبره یې راته وکړه چې:

- ته نه سړی کیږې زویه!

فکر مې وکړ چې بنایې پلار مې غواړی وزیر شم، له ډیرو هلو ځلو نه وروسته وزیر شوم خو پلار مې بیا راته وویل:

- ته نه سړی کیږی زویه!

دا ځل مې چې هر څه فکر وکړ د سړیتوب له پاره بې له مرګ څخه بله لارنه وه پاتې، ځکه مې د خپل پلار د ارمان تر سره کولو له پاره پریکړه وکړه چې ځان مړ کړم په زوره مې چیغه کړه:

- پلار جانه! دا دی ځم چې ځان مړ کړم تر څو سړی شم او ستا ارمان تر سره کړم!

لا د دروازې څخه نه وم وتلی چې پلار مې راپسې غږ کړ:

- را وګرځه چې د سړیتوب لار در وښیم!

په منډه راغلم د پلار مخی ته کیناستم چې د دومره اوږدو ستونزو نه وروسته د سړیتوب لار راته وښیی.

پلار مې په تریو تندی زما نه پوښتنه وکړه:

- مور دې څه وخت مړه شوی ده؟

- مور مې زما د زوکړې په وخت کې مړه شوی ده.

- ښه نو پاګله. ښوونځی دې خلاص کړ، د پوهنځی نه دې د برسټنې په شان بری لیک واخیست، د هیواد په ټولو ګوندونو کې دې خپل نوم ورو لیکلو، پخپله د ګوند لار ښود شوې، چپې شوې، شیخ شوې، وکیل شوې، وزیر شوې،

اروپا دې ولیدله خو یوځل دې هم دغه د سړیتوب فکرونه کړ چې ما ته (ښځه وکړی)

په زړه کې مې راوګرځیدل چې کاشکی پخوا دې په دې خبره پوه کړی وای چې د سړیتوب پراوته مې درسیدو له پاره دومره منډې را منډې نه وای وهلې. په پسته ژبه مې ورته وویل:

- پلار جانه! ستا عمر خوله او یا ووکلونو اووښتی دی نو په داسې عمر کې ښځه ... زما خبرې یې پرې کړې په قاریې وویل:

- دا خبره زما په عمر پورې څه اړه لری؟ ته نېوهیږې چې هو سونه مې ځوان دي؟

ځکه درته وایم چې ته نه سړی کیږی زویه!!!

د ښاروال تاکل

په ښار کې د نوی ښاروال د تاکلو له پاره درایی ورکولو لړی رانه وه او خلک یې وروستی نتیجې ته سترګې په لاره وو.

د ښاروالی کارکوونکي په یوه کوټه کې راغونډ شوي وو د نوی ښاروال د بریالیتوب په باب چې د دوي په عقیده د رضا بیګ بری یې تر نورو حتمی ګانه خبري، اتري کولې دوي په خپلو مبالغو کې دومره ډوب وو چې زما ورتګ ته یې هیڅ پام نه شو. زما هم چې خپل غوښتن لیک مې په لاس کې و د دوي خبرو ته لاس تر زنې کیناستم. د کوټې په کونج کې مې خپل پخوانی ستر غوړه مال انډیوال هم ولید چې سرې په رنګنو کې ننه ایستلی و. کله چې ده د دغو ورځ چارو غوړه مالانو له مبالغونه ډکې خبرې اوریدې نږدې یې له اریانتیا څخه ښکر شوی وو، په دې مجلس کې هر چا داسې غوړې، غوړې خبرې کولې چې زما له غوړه مال انډیوال نه یې لاره ورکه کړی وه.

یوه وویل:

– تاسو زما د خوشالی اټکل نه شي کولای. نژدې ده چې له ډیرې خوشالی وزر وباسم او هواته والوزم.

بل وویل:

– دا ته څه وایې؟ دا څنګه کیدای شي چې سړی دې خوشال نه وی. والله چې ماته د ډیرې خوشالی نه ژړا رائی.

هغه بل وویل:

– ته دوي ته وګوره؟ کـه دفتر نه وای مـا بـه اوس د ډیرې خوشالۍ نه ښه نڅا درته کړي وای.

یوه غږ کړ:

– کله چې زه د رضا بیګ د ډیرو رایو ګټلو نه خبر شوم نږدې مې اتڼ پیل کړی و.

بل په لوړ غږ وویل:

– او خلکه! له تاسو یې نه پټوم، مـا خـود رضـا بیګ د بری له امله نذر اینبی دی.

بل وویل:

– ستـا سو په سر قسم چې د رضا بیګ تاکلو ته مـې دومره بیړه ده چې بیګا شپه مې د ډیرې خوشالۍ خوب نه دی کړی او تولـه شپه مې په زیارت شمعې بلولې.

بل چیغه کړه:

– له تاسـو یې نه پټوم، زامن مـې دې مړه شي چې مـا دې ځلور سوه لیـرې د رضا بیګ له پاره ولګولي.

یوه بل داسې ځواب ورکړ:

– څو مره ښه کار دې کړی دی، رښتیـا چې رضـا بیګ ډیر ښه سړی دی په دې ټولو خبرو ارزی.

– تاسـو ښه وایی، هغـه تر ټولـو ښه سړی دی، د خورانو او غـریبـانو پلار دی، شپه او ورځ لګیادی د هیواد له پاره کارکوی.

په ټولو ښیګڼو برسیـره ډیر دیندار سړی دی پنځـه وختـه لمونځ نه قضـا کوی. تاسو به په دې نه وي خبر چې هغه دسترې کورنۍ لمسی دی د خپل پلار

نیکه په پله گام ږدی ځکه دومره ښه سړی دی.

دا ته څه وایی؟ هغه هیڅوک زما په شان نه پیژني زه د ډیر پخوا څخه د ده له کورنۍ سره پیژنم.

اوهو! ده ته وګوره! پیژندګلوی خو لا څه چې زه ورسره کور او کهول یم د ده د دایی لور زما د مور تروزی لمسی ده.

- ما پخوا د ده په کور کې کار کاوه په خپل ژوند کې مې د هغه په شان ښه سړی نه دی لیدلی.

- ډیر درند سړی دی او ښه خوي لری.

- ډیر مهربان او زړه سواند سړی دی.

- په ربښتیا چې ډیر غریب پالونکی سړی دی...

- رضا بیګ د ښاروالۍ له پاره ډیر مناسب سړی دی. هر ومرو به زمور ښار ګل او ګلزار کړی.

ښکلی ځوانې تایپستې چې تر اوسه، غلی ناسته وه او د نورو خبرې یې په پوره پام سره اوریدې خپلې شونډې وښورولې او د یوې ښکلی موسکانه وروسته یې وویل:

- زه یې یوه ورځ په موټر کې دومره وشرمولم چې خبرې یې مه کوه د خپلې چوکۍ نه پورته شو او زه یې په ځای کینولم او ...

- تقاعد ته ورنږدی تایپستی خپلې وروڅې وښورولې د ځوانې تایپستی خبرې یې پرې کړې ویې ویل:

- هغه چې هر وخت یوه ښکلی پیغله ووینی بې سده ګیږی په خپل ځای خولا څه ان چې په خپلو اوږو یې هم کینوی.

ځوانې تایپستی په ځواب کې وویل:

= نه داسې نه ده. رضا بیګ ډیر ښه سړی دی هیڅکله چاته په بده سترګه نه ګوری.

- تقاعد ته ورنږدی میرمنې وویل:

- زه یې ښه پیژنم، هغه په ښکلو پیغلو کوډې کوي، کوډې! له دغی سپکاوي څخه د پیغلې رنګ سور واوښت او په قار جنه ژبه یې ورته وویل: (ته ولې داسې خبرې کوي ما نه پیژنې چې تر اوسه مې هیڅاته غاړه نه ده ایښې!

د دفتر رئیس چې سپین ږیری غوندې سړی و. د دې له پاره چې میرمنی او پیغلې خبرې نور څه راونه سپنی د دوي خبري پرې کړي ویې ویل:

-ښار وال صاحب ډیر درونده سړی دی د هیڅا لور او ښځې ته په ناوړه نظر نه ګوری.

د حسابی چارو رئیس هم د ده خبره تائید کړه ویې ویل:

- دا خبره رښتیا ده، دا څو کاله کیږي چې زه له رضا بیګ سره کار کوم په دا دومره موده کې مې نه دی لیدلی چې کومې تاپیستې ته یې په بدو سترګو کتلی وی.

یوه غږ کړ:

- چې ورته وګوری نو څه کیږی؟

بل په راغږ کړ ویې ویل:

- دا څه وایې؟ هغه څلور، پنځه ماشومان لري او په دې سربیره د خپلې دینداری او شرافت له مخې هیڅکله پردیو ښځو ته په بده سترګه نه ګوری.

- هو! رښتیا دې وویل هغه همیشه خپل لونګونه کوي او زیار تونو ته ورځی هیڅکله په خرابو او ناوړو کارونو پسې نه ګرځی.

-ژوندی دې وی زمور نوی ښاروال!

د هر کلیو مامور هم وغوښتل چې خپل وار تیر کړي ځکه یې وویل:

- په دا دومره موده کې یوه ورځ هم خپل دفتر ته ناوخته نه دی راغلی، تل له تاکلی وخت څخه دمخه د میزتر شاناست وی.

تو لو په یوه غږ داخبره غبرګه کړه چې:

- رضا بیګ ډیر ښه سړی دی او د نورو رئیسانو سره د ځمکی تر آسمانه هرمره توپیر لرګی!

یوه وویل:

- زما یې د سګرټو څکول ډیر خوښیږی، د سینما لوبغاړی هم نه شی کولای چې د ده په شان د سګرټو له لوګی څخه داسې کړی جوړې کړي.

- هو! رښتیا وایې رضا بیګ د سګرټو څکولو په وخت کې ډیر ښکلی ښکاریږی.

- او وروره څه توکې خو نه دي د ډیرې سترې کورنۍ سړی دی...

- پلار یې د هیواد له لویانو او لوړی رتبی کسانو څخه و.

- وایې چې نیکه یې سترخان و.

- ما هم داسې اوریدلي دي.

- په رښتیا چې رضا بیګ د ستایلو ور دی. د ده په ټاکلو سره به د دې ښار خلک نیکمرغه شي.

- زمور له پاره د دې نه بله نیک مرغی نه شته چې د رضا بیګ په شان یوه سړی ښاروال شی.

- وبه ګوری چې د رضا بیګ له ټاکل کیدو څخه وروسته کارونه څومره پر مخ ځي.

په دې وخت کې د مجلس کوټی خانه سامان چې کوټی ته ننه وتو او را

وتو د مجلس له پاره يې چای او سګريټ ورورل په داسې بيړه راننه و وت لکه چې د جګړې له ډګر څخه يې د بری زيری راوړوی. ده په ستړی غږ وويل:

- پخوانی رايي غلطې وي حکمت بيګ ښاروال شو.

دا خبره د ډيوه بم په شان وچاوده. د رضا بيګ د ستايلو غونډې کوونکي له کوټې څخه راووتل. څو شيبې وروسته هماغه مامورين په يوه بله کوټه کې سره راټول شول د مجلس پاڼه يې راواړوله. ښاغلی ورځ چاری غوره مال د دوې دوه مخې ته هک اريان پاتی شو داسې څه يې واوريدل چې په خپل ژوند کې يې نه اوريدلي وو او نه يې چاته ويلي وو.

دا ځل غونډه کوونکو خپلی خبری داسې پيل کړی:

- نردې و چې رضا بيګ زمونږ د اورو بارشی.

- ځښتن تعالی فضل وکړ چې رضا بيګ ښاروال نه شو او که نه بربادی به جوړي شوي واي.

- تاسو زما د خوشالی اټکل نه شي کولای د حکمت بيګ په بری دومره خوشاله شوم چې په کالیو کې نه ځايږم.

- هغه به بيخی سړی نه وی چې د رضا بيګ په ماتی خوشاله نه شی.

- کله مې چې درايی د غلطيدو په باب واوريدل نردې مې له ډيرې خوشالی څخه نڅا پيل کړی وه.

- زما زړه خو هم داسې غوښتل چې اتن وکړم خو څرنګه چې رسمی دفتر دی خپل ځان مې په زوره راتم کړی دی.

- په دې خبره مې پوه کړئ چې د رضا بيګ په تاکل کيدو کې زمونږ څه تاوان دی؟

- که رضا بيګ تاکل نشوی واي ښار به وران او کورونه به مو ويجاړ واي.

- مور باید صدقه ورکړو چې څښتن تعالی له دغې بلا څخه وژغورلو.
له تاسو یې نه پتوم د دې له پاره چې رضا بیګ ونه تاکل شی ما یو نذر اینبی دی.
- تاسو پوهیږي که نه چې ما د رضا بیګ د نه تاکل کیدو له پاره بیګا شپه په زیارت شمعی بلی کړي وي.
که چیرې رضا بیګ ښاروال شوی وای زه خو یوه شپه هم په دې دفتر کې نه پاتی کیدم سمدستی مې خپله استعفی ورکوله.
ځوانې تاپیستی د دې له پاره چې د خپلې سیالې نه بیرته نه وی پاتی شوی وی ویل:
که رضا بیګ ښاروال شوی وای زمور ښار به رنګ رچ شوی وای.
د دفتر رئیس خپل سګرټ ولګاوه د څو پرله پسې لو خړو څخه وروسته یې وویل:
- په اصل کې خوښتن تعالی په ما رحم وکړ ځکه چې د رضا بیګ سره مې د کار هیڅ ډول تجربه نه درلوده.
یوه وویل:
- زه رضا بیګ تر ټولو ښه پیژنم هغه زما سره په یوه ټولګی کې و ډیر تنبل، بی ادبه او د خولې نه پوچ سړی دی.
ښکلی تاپیستې د ده خبره تائید کړه ویی ویل:
- که په دې نړۍ کې ټول سړی مړه شي او یوازې رضا بیګ پاته شی زه خو یې والله که مخ ته هم وګورم.
تقاعد ته نږدې میرمنې هم خپله غاړه صافه کړه ویې ویل:
- څوک خولیونې نه دي چې دغه بدرنګ او خړ ستر ګی سړی ته وروګوري.

ښکلی پیغلی وویل:

زه یې ښه پیژنم والله که دومره بدسترګی او لوچک سړی مې په خپل ژوند کې لیدلی وی. ښکلی نجونی خو څه والله که له بلا ګانو څخه هم مخ واړوی.

- آن چې په رسمي وخت کې هم نیشه وی.

- څو مره بد سګرټ څکوي همدا توري، توري لوخړي دي چې له خولې یې را باسی. ډیر بې ارادې او د کمزورۍ هوډ څښتن دی.

خپل ځان له ناوړه کړو وړو څخه نه شی ژغورلی...

- ای ورونو په رضا بیګ کې ډیر ستر عیبونه شته، دا ځکه چې هغه د اصیلی کورنۍ سړی نه دی...

په دې وخت کې د مجلس دکوټې پیاده را ننوت او په لوړ اواز یې وویل:

- زیری مې در باندې رضا بیګ ښاوال شو!

د ټولو رنګونه زیر شول. د دفتر رئیس چې د رضا بیګ د کورنۍ په بدوویلو لګیا و د خپلو خبرو لړۍ یې ونیوله څو شیبې غلی شو وروسته یې هماغه پخوانۍ پانۍ راواړوله ویې ویل:

- که د عدالت او انصاف له مخې قضاوت وکړو د رضا بیګ په شان ښه او غوره سړی په ټوله نړۍ کې نشته.

ټولو غوړه مالانو ده خبرې تائید کړې. دوې هم سمدستی له غوړه مالۍ نه ډکه شرمناکه پانه را واړوله، هر یوه هڅه کوله چې د نورو نه د رضا بیګ په ستایلو کې لومړی شی.

د پخوانۍ رواج سره سم د غونډې په پای کې یې پیسې سره واچولې چې د نوی ښاروال له پاره د ګلانو ګیډۍ واخلی او د ده د خوشالی له پاره د ښه

راغلاست میلمستا جوړه کړی.

د ښاغلی ورځ چاری غوړه مال ستر گي څلور شوي وي له څیرې نه یې داسې ښکاریده چې د نورو غوړه مالانو په واړندی یې ماتی خوړلی ده هغه په ډیر خپګان سره ماته مخ راواړا و ویې ویل:

- فکر مې کاوه چې په دې ډول کړو وړو کې زه یوازینی سړی یم خو اوس پوه شوم چې میندو له ما څخه هم ستر غوړمالان زیږولي دي. د دوي سره مې کور او کلی نه کیږی د خدای پامان زه در څخه لاړم.

د ښځې بکس

داستامبول د ستر پله په سر يوې ښکلی ښځې چې ډير ښايسته کالي يې اغوستی وو ، چيغی وهلې:

– او خلکو مرسته وکړي ، مرسته چې بکس يې را څخه يووړ ، مه يې پريږدی ، غل دی ، ويې نيسی ، نا څاپه لاروي ودريدل د ټول ستر گي هغی خواته ور واوښتې چې ښځې گوتې ورسيخولې.

يوه سړی لوڅې پښې چې د ښځې څخه يې بکس تښتولی و ، د پله ښکته خواته يې څلور ، څلور او پنځه ، پنځه پوړی ټوپونه وهل ، ډيره زياته هڅه يې کوله چې د ښځې او پوليسو څخه خلاص شی.

ښځې په پرله پسې ډول ناري وهلې:

مرسته وکړئ... بکس يې را څخه يووړ ... غل دی ، مه يې پريږدئ...

لا پنځه دقيقې نه وې تيرې شوې چې پوليس د هماغه پښې لوڅی سړی سره د پله د پورې يو څخه را پورته شول او ځانونه يې د پله په سر خلکو ته ورسول ، په ډير ويار او خوشالی سره يې په لوړ غږ پوښتنه وکړه:

– بکس د چا دی؟

ښکلی ښځې چې خپل بکس وليد ، د خلکو په منځ کې ورننوته ، ويې ويل:

– صاحبه! بکس زما دی ، ډيره مننه چې زما پيسې مو وژغورلې.

پولیس، غل له خورو، ورو، اوږدو ویښتانو څخه نیولی و، ځکه د ده په بدن کې داسې کالی نه وو چې پولیس یې په نیولو ډاډه وای.

غل د خلکو په وړاندې په ډیره نا کراری، او وارخطایی ولاړ و او خیرن ورنونه یې چې د څیري، څیري کالیو د وتونو (درزونو) څخه ښکاریدل، د توت د پانې په شان لړزیدل.

راځه میرمنې چې د پولیسو څانګې ته لاړ شو.

زما تګ ته څه ضرورت دی! تولو ولیدل چې د غه سړی زما بکس وتښتاوه او بکس زما دی.

- دا ربښتیا ده چې بکس ستا دی، خو ته باید د پولیسو ماموریت ته لاړه شې، ځکه چې د مقراتو سره سم مور تر تحقیق وروسته غل محکمې ته اوله هغه ځایه بندیخانې ته لیږو.

کله چې د پولیسو آمر د ښځې خبرې واوریدې له ډیری کرکې څخه په ډک نظر یې په ریشخند سره غله ته وکتل، ویې ویل:

- نه شرمیږې چې غلا کوی؟ ولې د نورو خلکو په شان کار نه کوې، کار شرم دی او که غلا؟!

غله سرټیټ کړ او ځواب یې ورنه کړ.

د پولیس آمر وویل:

- تا ته وایم بې شرمه. ولې ځاسې کوی؟ نه پوهیږې چې د دې کار پای څومره خراب دی؟

غله، ورو سر پورته کړو یې ویل:

-نو څه وکړم صاحب! په دې هیواد کې خو کار نه پیدا کیږی.

- چوب شه! بی شرمه هم غلا کوی او هم ناوړه پروپاګند کوي چې وروسته له دې خبري ونه کړي.

د پولیسو آمر ښځی ته مخ وروړاوه، پوښتنه یې وکړه:

- ویلی شی چې په بکس کې څه شي دي؟

په بکس کې مې پیسې دي، د شونډورنګ دی، هندارہ ده او د مخ پوډر دي.

- په بکس کې دې څومره پیسې دي؟

ښځه په چرتونو کې ډوبه شوه، په دې وخت کې د پولیسو آمر خپل لاس د بکس خواته چې د میز په سر پروت و، وراوږد کړ.

ښځې په ډیره نا کراری سره د اعتراض په ډول وویل:

- هیله کوم، زما بکس مه پرانیزه، ځکه په هغه کې زما ځانګړي شیان دي، نه غواړم بل څوک یې ووینی.

د پولیسو آمر بې له دې چې د ښځې اعتراض ته پام وکړی، بکس یې پرانسیت هماغه شیان چې ښځی ویلی وو، پکښې وو، خو دوړ وپیسو سره دوه سوه ډالره هم وو، د پولیسو آمر پوښتنه وکړه:

- دا راته ویلی شی چې دا ډالر دې له چا څخه پیرودلي دي؟

- زه د چا څخه شکایت نه لرم، زما بکس را کړه چې لاړه شم.

- ما پوښتنه وکړه چې ډالر دې له چا څخه پیرودلي دي؟

چې داسې ده، بکس یې ستا، اجازه را کړه چې لاړه شم.

- تلی نشی، زر ووایه چې ډالر دې له چا څخه اخیستی دي؟

-ښځې خپل سر ښکته کړ، ویې ویل:

- دا ډالر نن سهار میرمن الینې را کړل.

غله لږ څه خپل سر را پورته کړ، د پولیس آمر ته یې په ځیر، ځیرو کتل او د معنا څخه ډکې موسکایې شونډې وښورولې.

- د میرمنې الینی کور چیرته دۍ؟

ښکلی ښځې په غلی غږ د میرمن الینی ورکړه او بې له ځنډه د پولیسو آمر، ښکلی ښځه، غل، او څو تنه پولیس د میرمن الینی کورته ورغلل.

کله یې چې د میرمن الینې کور تلاشی کړ، له شپږو کوتو څخه یې په ډیر بد حال لوڅې ښځې او سړی را وایستل، د پولیسو امر په قارجن غږ ورته وویل:

- ښه نو ته هغه میرمن الینه یې چې مور شپږ میاشتې در پسې سرګردان یو او دغه دې پنځم فساد ځای دی چې پرانیزي یې؟ اوس نو زر راته ووایه چې دا ډالر دې له کومه کړل؟

- دا ډالر زمور بیپار ښاغلی رضا را کړل.

د پولیسو آمر سړي ځکه خلاص کړل چې سړي وواو ښځې یې ځکه د پولیسو ماموریت ته ولیږلې چې ښځې وي، وروسته له دې د پولیسو آمر، ښکلی ښځه، غل، میرمن الینه او څو تنه پولیس د ښاغلی رضا کورته ورغلل.

ښاغلی رضا د خپل استوګنځی شاته بې له دې چې د ښاروالی څخه یې اجازه اخیستې وی، یوه نوی ودانی پیل کړې وه، د پولیسو آمر په قارجن غږ

پوښتنه وکړه:

- دا څه کوی؟

- هیڅ نه کوم صاحب!

نو دا نوی ودانی دی څنګه پیل کړي ده؟ دا خـود ښـاروالی د نقـشی خلاف کار دی.

غله بیا د پولیسو آمر ته په ځیر، ځیر وکتل او د معنا څخه ډکه خندا یې وکړه.

د پولیسو آمر پوښتنه وکړه:

- د اډالر دې له کومه کړل؟

- دغه ډالر مې د ښاغلی علی آقا څخه واخیستل.

د پولیسو امر د تیلفون پواسطه یو بل موتر هم را وغوښت، کله چې موتر را ورسید، د پولیسو آمر، ښکلی ښځه، غل، میرمن الینه، ښاغلی رضا او څوتنه پولیس د علی آقا کورته ورغلل.

د پولیسو آمر پوښتنه ورڅخه وکړه:

- تاسو دغه ډالر ښاغلی رضا ته ورکړي دي؟

- هو صاحب.

- د څه شی دپاره دې ورکړي دي؟

- ده په ما قاچاقی سالونه خرڅ کړل.

د پولیسو آمر خپل مخ ښاغلي رضا ته وروارواوه. ویې ویل: ښه، نو ته د قاچاق وړونکو له ډلې څخه یې، ښاغلی علی آقا دا راته ووایه چې دغه ډالر

دې له کومه کړل؟

- ما دغه ډالر د حسین آقا په کور کې په قمار کې وګټل.

غله بیا معنا لرونکی موسکا وکړه، د پولیسو آمر، ښکلی ښځه، غل، میرمن الینه، ښاغلی رضا، ښاغلی علی آقا او څوتنه پولیس د حسین آقا کورته ورغلل.

کله چې د حسین آقا سالون ته ورننوتل د میز په سر یې لس زره ډالر او د قمار بازۍ سامانونه پیدا کړل، اته تنه قماربازان یې د پولیسو ماموریت ته ولیږل، بیا یې د حسین آقا څخه پوښتنه وکړه:

- اوس نو ووایه چې دغه ډالر دې له کومه کول؟

- دغه ډالر ما ته ښاغلی نوری را کړل، فکر کوم چې ده د یوې خارجی بیړۍ له کپتان څخه اخیستی دي.

د پولیسو آمر د ټولو بندیانو سره د ښاغلی نوري کورته ورغی او د ښاغلی نوری په کور کې یې لس کیلو سوچه هیروئین پیدا کړل.

ښاغلی نوری د خپلو اعترافاتو په لړ کې وویل:

ما د غه هیروئین د ښاغلی احسان آقا څخه پیرودلي دي چې د هروئین جوړولو ډیره ستره کار خانه لري.

د پولیسو آمر احسان آقا هم بندی کړ او پوښتنه یې ورڅخه وکړه:

- ښه دا راته ووایه چې دا ډالر دې له کومه کړل؟

- ما دغه ډالر د ښاغلی رزاق څخه اخیستی دي.

- رزاق څوک دي؟

- ښاغلی رزاق د بیروت څخه ښځینه قاچاقی کالي را وړي.

غله بیا د پولیسو آمر ته ځیر، ځیر وکتل او معنا لرونکی خندایي شوندي وښوروله د پولیسو آمر د بند یانو سره یو ځای د ښاغلی رزاق کورته لاړ او ښاغلی رزاق هم وویل چې ډالر یې د میرمن نوین څخه اخیستي دي...

د پولیسو آمر غوښتل چې په میرمن نوین پسی هم ورشی، خو ورته وویل شول چې میرمن نوین په پاریس کې اوسیږی او خپل هیواد ته نه راځی.

د پولیسو آمر وویل:

- ډیره ښه ده چې په هیواد کې نه شته او که نه په موټر وکې هم نه ځائیږو غله بیا د پولیسو آمر ته ځیر، ځیر وکتل، غوښتل یې چې وخاندی، خو د پولیسو آمر په قار جن غږ ورته وویل:

بس ده چې نور ونه خاندی، زه پوه شوم چې د دوي په پرتله د عزت خاوندیې. غل د غلا د پیل کیدو په تور اته میاشتی بندي شو.

څو ورځی کیږی چې را خلاص شوی دی او خپل پتمن ژوند یی پیل کړی دی.

اوس چې د ښځی بکس وویني داسې ورځخه تښتی لکه چې جذامی سړی یې لیدلی وی.

شکایت لرم

وروسته له دې چې د سرما مور په دفتر کې یې دوې چوکۍ څنګ په څنګ سره کیښودې او خپل ځان یې د یوې توتې څربې غوښې په شان د هغې د پاسه ځای په ځای کړ. خپل ستر دسمال یې چې کټ مټ د سترخوان ته ورته وله جیبه راویست د خپلو خولو د پاکولو په لړ کې یې وویل:

- صاحبه زه شکایت لرم، شکایت. سرما مور پوښتنه وکړه:

- جیب یې دې وهلی دی؟

- نه صاحب هیڅا زما جیب نه دی وهلی.

- چتی ګرځیدونکو او لګردانو په تکلیف کړی یې؟

- نه داسې هم نه ده.

- نو د چا نه شکایت لری؟

هغی سړی یوې تیتې ښځې ته چې خواره واره پارونکی ویښتان یې د ړلودل ګوته نیوه ویې ویل:

- صاحبه زه له دغې ښځې نه شکایت لرم.

- ښه پوه شوم دغې ښځې ستا جیب وهلی دی؟ پخوا مو سره پیژندل؟

- لږ اوډیر.

- د یوه بل سره مو اړیکی هم درلودل؟

- څه نا څه اړیکي مو سره درلودل.

- دا ښځه ستا څه کیږی؟

- دوې ګړۍ دمخه مې معشوقه وه خو اوس مې میرمن ده.

- ښه نو اوس د خپلې جیب وهونکی میرمنی کیسه راته وکړه.

- هغې زما جیب نه دی وهلی زه تا ته د شکایت له پاره راغلم.

غواړم چې لومړی دغې ښځې ته طلاق ورکړم او وروسته رسیدلی زیان ورنه واخلم.

ښځه چې تر اوسه غلی ولاړه وه ویې ویل:

- صاحبه اجازه را کړه چې زه ټوله کیسه درته وکړم.

دوه ګړۍ ییز میړه یې چیغه کړه:

- چپ شه! زه په خپله ټوله کیسه ورته کوم. سر مامور وویل:

- میرمنی! ته غلي شه پریږده چې د دو ساعتو میړه دې کیسه وکړی. ښه ښاغلیه وایه!

- زه یو سودا ګریم د وچې او تازه میوی د پلورلوله لارې ژوند کوم.

څه موده د مخه مې د ښار په یوه منځنۍ کوڅه کې خپل دفتر پرانیستلو او په کار لګیا شوم، په هغه وخت کې مې د ددې ښځې سره پیژند ګلوي وشوه.

دغې پیژند ګلوي ورو ورو خپل مزي د مینې او عاشقۍ خواته وغزول. سوداګر له جیب نه عکس را ویوست سرمامور ته یې د ښکاره کولو په لړ کې زیاته کړه.

کله چې مور سره وپیژندل هغې دا ډول څیره درلوده لکه چې وینې یې، د دې بوک او پرسیدلي تي، څیرلی بادامي سترګي، اوږدی طلایی څنې د هر سړی د غولولو له پاره په لومه کې ښکیل کول دي.

له تا یې څه پټوم زه هم د دې ښځې په مینه کې داسې لاهو شوم چې خپله ښځه او ماشومان مې په کلی کې هیر کړل.

د هغې مینې په بشپړ ډول لیونی کړی وم څکه مې د ځان سره پریکړه وکړه چې د تل له پاره یې په لومه کې ښکیل شم. هره ورځ دوه ځلی زما د دفتر له مخې تیریده. ته ښه پوهیږی چې د یوه لیونی مین له پاره په څلرویشتو ګړیو کې د خپلې مینې څو شیبې لیدل بس نه دي، څکه مې یوه ورځ زړه ورتوب وکړ کله چې زما د دفتر په مخ کې تیریده سلام مې ورواچاوه.

هغی زما سلام وعلیک کړ. سبا ته مې ورځخه هیله وکړه چې زما په دفتر کې خپله ستړیا وباسی. زما هیله یی قبوله کړه. د نوم پوښتنه مې ځینې وکړه بې له دې چې ناز وکړي راته ویې ویل:

- نوم مې رویا دی.

د دی بوکسو او پرسیدلو تیو چې د خبرو په وخت کې د وښو (زهرو) په شان بنوریدل داسې بی سده کړم چې خپله چوکی مې د هغی څنګ ته ورنږدی کړه، سمدستی یې خپل تندی تریوکړ او ویې ویل:

- هیله ده چې لرې کینی هسی نه چې څوک را باندې بدګمانه شي.

په ډیرې سپینې سترګی مې ورته وویل:

- خو زما زړه غواړی چې همیشه سره څنګ په څنګ وو.

څه سر دي خوروم هغه ورځ مې تر مازدیګر پورې د زړه بایللو او مینتوب خبرې ورته وکړی. هغی له څه نا څه چرت نه وروسته راته وویل:

- زه ستا په ربنتینی مینتوب او ګرانښت ښه پوهیږم خو زما په شان جلی له پاره سنا دفتر ته تګ را تګ ښه کار نه دی، هر څوک دوست او دښمن لری واړه به را باندې شکمن شي.

- ښه چې داسی ده نو سبا ته د سکرټرې په صفت په کار پیل وکړه.

- زما خو ټایپ نه دی زده او په لیکلوکې مې هم خوند نه شته.

- خیر دی زه به سبا بله تاپیسته مقرره کړم ته یوازې د حسابی چارو څارنه کوه.

- زه په حسابی کارونو هم نه پوهیږم.

- چې داسې ده نو د تیلفون تر څنګ کینه یوازې تیلفونو ته ځواب ورکوه.

- په بې کراری سره یې وویل:

- ستا نه مې د داسې خبرو د اوریدو هیله نه درلوده، زه څنګه کولای شم چې له پردیو سړیو سره خبرې وکړم؟

په ډیره شرمندګۍ سره مې ورته وویل:

- ښه نو ته همداسې زما په څنګ کې کینه هیڅ ډول تورو، سپینو ته لاس مه ورووړه، زه به په خپله تیلفون ته ځواب ورکوم.

- ته ښځه او ماشومان لرې زه کله کولای شم چې په داسربیره ستا سره...

- دا خو دومره مشکله خبره نه ده که ته وغواړې زه به خپله میرمن طلاقه کړم.

- ډیره ښه ده لومړی دی میرمن طلاقه کړه بیا به خبرې سره کوو.

میرمن مې طلاق کړه او دا ښځه مې چې مخامخ راته ولاړه ده ځانګړې سکرتره مقرره کړه. بې له دې چې کار وکړې زما د میز تر څنګ کیناستله او د میاشتې په اخر کې به یې خپله تنخاه تر لاسه کوله. یوه ورځ مې په قار جنه ژبه ورته وویل:

- ته چې کار نه کوی نو دا ... خو دې پورته کړه چې دا تنخاه خو درته حلاله شی!

- دا کار ستا په دفتر کې ښه نه دی. کاشکې کور وای چې...

- ښه نو اجازه را کوی چې ستا کورته درشم؟

- نه، نه ... دا ډول خبره مه کوه که چیرې زما پلار، مور او ورونه خبر شي توتې

توتې به مې کړی خو که کوم ځانګړي کور او یا اپارتمان ولرو نو بیا...

زه پوه شوم چې باید اپارتمان ورته کرایه کړم او یا په خپل مینتوب درنده ډبره کیږدم، ځکه مې یو اپارتمان په کرایه ورته ونیو او په اوونۍ کې به دوه ورځې ورتلم هغې به خپله لمن تر ځنګنو دوې لویشتې پورته کړه خوبې له دې چې د مینې او محبت خبرې وکړي د کوتې په کونج کې به پته خوله کیناسته. ته په داسې وخت کې زما په حالت ښه پوهیږی.

یوه ورځ لمسون او پلرونه ډیر را باندې زور ورشول ورته ومې ویل:

ګرانې ... په دې ډول کړووړو خو دې زه بیخی لیونی کړم، ودې ویل چې تایپ دې نه دی زده ما ویل خیردی، ویل دې چې په حساب چارونه پوهیږم، ما ویل پروا نه لری، راته ودې ویل چې میرمن دې طلاقه کړه، راته ودې ویل چې جلا اپارتمان په کرایه راته ونیسه، دا کار مې هم وکړ، د دې تولو غوښتنو له پوره کولو سره، سره ولې داسې کوی؟ ...

زما خبرې یې پرې کړې ویې ویل:

- نو ته څه غواړې چې څه وکړم؟

- غواړم چې یو، بل د مستو کتمیرو په شان، د مینې او محبت په غیږ کې سره ونیسو.

- دا کار امکان نه لری ځکه چې ستا سره د محبت نه وروسته هیڅوک زما سره واده نه کوی.

- بل چا ته څه ضرورت دی زه په خپله غواړم چې ستا سره واده وکړم.

د رویا جانۍ شرطونه مې ومنل د هغې مور ته د اپارتمان او ورور ته یې د وروستی ماډل موټر له اخیستلو څخه وروسته مود واده دود پر ځای کړ او د ډیر زیات لګښت نه وروسته یې څښتن شوم.

- کله چې د خوب کوتې ته سره ننوتو راته ویې ویل:

- ته هغې بلې کوتې ته لاړ شه چې زه کالی بدل کړم.

- خو زه غواړم چې مرسته درسره وکړم اوس خوښځه میړه یو. مجبور شوم چې د کوتې نه ووځم، پنځه دقیقې، لس دقیقې او پنځلس دقیقې تیرې شوې خو هغې راته غږ ونه کړ. د دروازې له شانه مې ورته وویل:

-ګرانې! څه کوې؟ زه خو ډیر بې صبره او نا کراره شوم.

- صبر وکړه، زه کالی بدلوم دومره بیړه مه کوه!

- لږه بیړه وکړه! زه خو نوره طاقت نه لرم!

- درته ومې ویل چې صبر وکړه!

- اجازه را کړه چې مرسته درسره وکړم!

- نه، نه تاته ضرورت نه شته!

- په داسې حال کې چې تول بدن مې رپیده او په ستر ګو کې مې د هغې سپینې پنډۍ لرې برې کیدې پوښتنه مې وکړه:

- ګرانې ! ولې مې ځوروې. داځه شی دې چې ایستلی یې نه شې!

- کرست(د بنځو زیړه جامه ده چې بدن ته بریښ او برجستګی ورکوی) وباسم.

-اجازه را کړه چې زه مرسته درسره وکړم.

- ومې ویوست تا ته زحمت نه در کوم.

- بنه نو اوس څه شی باسې؟

- خپل ویښتان ړومنځوم، لږ صبر وکړه ګرانه!

- اجازه را کړه چې مرسته درسره وکړم. اجازه ...

- د دې خبرو نه وروسته مې د صبر کاسه ډکه شوه او کوتې ته ورننوتم خو کله

مې چې هغه ولیده په خپل ځای مېخ شوم تولې هیلې مې په اوبو لاهو شوې ځکه چې زما تول خوبونه، هغو خوبونه چې زه یې دښه ژوند او شتو څخه خلاص کړی وم په ځمکه پرته وو. زما په وړاندې یوه پکه ښځه ولاړه وه چې په سریې یو ویښته هم نه و. هغې ښکلی نری وروځی او غولونکي سرې شونډې خو لا څه آن چې بوک او پرسیدلی تی یې هم نه وو. د ډیرې غوسې نه مې وړاندې چیغې کوې:

- هغه طلایی ویښتان دې څه شول؟

- هغه دې هلته پرته دی!

- هغه ښکلی نری وروځي دې چیرته دي؟

- هلته د کرست په خواکی پرتې دي! ...

- هغه بوک، بلورین او پرسیدلی تي دې چیرته دي؟

- ړوند یې نه یې وینې چې پښو ته ځوې نږدې پرته دي! ...

ولی بې اجازې را ننوتې؟

ما همدا اوس ځان ومینځلو غوښتل مې چې خپل ځان کت مټ داسې سینګار کړم لکه چې تالیدلی وم خو ...

هو صاحبه! ! کیسه داسې وه. دا ځکه د دې ښځې نه چې غنم ښی او وریښې خرڅوی شکایت لرم، شکایت!

کیمیاوي سره

د دواړو هیوادونو د ملي سرود او پرله پسې وینا وو څخه وروسته کیمیاوی سره ګدا مونو ته یورل شوه چې وروسته کلیو ته ولیږل شي.

کله چې په ورځپاڼو او راډیو کې کلیو ته د کیمیاوی سري لیږل، د دونو او غلو د اصلاح کولو خبر خپور شو، دا داری رئیس خپل مرستیال ته وویل:

-بناغلی وزیر صاحب لا نښودنه کړی ده چې باید کیمیاوی سره د هر ډول غلا او ناوړه کړو، وړو څخه پرته د هیواد بزګرانو ته ورسیږي او په تور بازار کې یې د پلورلو او پیرودلو څخه ډډه وشي.

مرستیال ځواب ورکړ:

په ستر ګو صاحب! زه به په خپل تول توان سره هڅه او هاند وکړم چې حق، حقدار ته ورسیږي.

مرستیال د تیلفون ګوشي پورته کړه، خپل مدیر ته یې وویل:

- له ډیرې مودې را په دې خوا په دې هڅه کې وم چې یوه ښه دنده د اورسپارم، دا دي اوس خپلې هیلې ته ورسیدم.

ډیره مننه صاحب! زه خو هر وخت ستا سو د مرستو پوروړی یم.

د یاد ولوورنه دي، نن غواړم ستا د ډیرې مودي وزګار توب پای ته ورسوم او ښه دنده در وسپارم.

- ډیره مهربانی کوی صاحب! زه هر وخت ستا سو امر ته لاس په سینه ولاړیم، هیله ده چې خپله راسپارل شوی دنده ستا سو له غوښتنې او خوشالی سره سمه

سرته ورسوم.

- تاسو ته دنده درسپارم چې دوړیا مرستو کیمیاوی سره د لیستونو سره سمه هر بزګر ته تر پنځو کڅوړو پورې ورکړی.

- په سترګو صاحب! هیله لرم چې ډیر زر ستا سو غوښتنه سرته ورسوم او خپل د کار رپوټ به درته وړاندې کړم.

- هیله کوم چې د بارولو، او ویشلو په وخت کې ډیر پام وکړی چې کیمیاوی سره د دلالانو لاس ته ورنه شی او په تور بازار کې یې د پلورلو او پیرودلو څخه په کلکه مخ نیوی وکړی.

- له دې امله بیخی بې غمه اوسه.

- په دې هکله ورځپاڼه لیکوونکي ډیره هڅه کوی چې زمور کمزوری تکی پیدا کړي او دغره په شان یې سترو ښیی او که چیرې کیمیاوی سره د بزګرانو څخه د مخه د بل چا لاس ته ورسیږی، د ورځپاڼو له پاره به ډیره ښه سوژه پیداشی او سخت به مو وخوروی.

- صاحبه تاسو بیخی ډاډه اوسی.

- بیا هم درته وایم چې ما او ښاغلی رئیس ته دومره حوصله نه ده را پاتې چې د ورځپاڼو غوابونه ولیکو، ځکه هیله کوم چې په دې باب زیات پام وکړي.

- بې غمه اوسه صاحب.

- هیله کوم چې د ګرانو بزګرانو له کیمیاوی سرې څخه چا ته یو مثقال هم ورنه کړی.

- په سترګو صاحب.

- زه په تا باور لرم، هیله ده همدا اوس خپل کار پیل کړی.

د ده مدیر چې یوازې یې د بارولو، ورلو او ویشلو تول کارونه نه شول

کولای، د خپلې څانګې یوه مامور ته چې د څټګړی او ګل بن د ساتلو او څارلو دندي ورپه غاړه وي، وویل:

– تا ته دنده درسپارم چې کلیو ته د کیمیاوی سری د بارولو په وخت کې په خپله حاضر وی او هڅه وکړه چې یو مثقال هم ورکه نه شی.

زه هم ستاسره بشپړه مرسته کوم.

– په ستر ګو صاحب! زه هڅه کوم چې یو مثقال سره هم ورکه نه شی په کومه اندازه یې چې تسلیم کړم په هماغه اندازه به یې هیله مندوبزګرانو ته وویشم.

– مننه! اوس نو کولای شی چی لاړ شی او خپل کار پیل کړی ...

او هو په یاد مې شول صبرو کړه.

– ووایاست صاحب.

– کله چې ګدام ته ورشې که چیرې کومه کڅوړه څیری وی، سمدستی یو سطل د ک کړه او زما د کور د ګلانو له پاره یې راولیږه.

– په ستر ګو صاحب، که څیری هم نه وی زه به یې څیری کړم، یو سطل خو څه که لس سطلونه هم وغواړي درلیږم یې، ستاسو په وړاندې کیمیاوی سره څه ارزښت لری.

– مننه، خو زه په دې خبره زیات ټینګار نه کوم، که چیرې کومه کڅوړه څیرې وه راویې لیږه، ځکه چې هر وخت زمور باغوان کیمیاوی سره غواړی.

– په ستر ګو صاحب، بی غمه اوسه، ستا له رارسیدو څخه د مخه په کیمیاوی سره ستا کور ته رسیدلی وي.

– خو بیا هم درته وایم، دیره هڅه وکړه چې له دغه خارجی مال څخه یو مثقال هم ګډوډ نه شی او په بشپړ ډول یې بزګرانو ته ورسوه.

– بیغمه اوسه صاحب، کـه چیرې څوک په بدو ستر ګو هم ورته وګوري،

سترګی به یې راوباسم.

د ګدامونو رئیس چې د کیمیاوی سری د ساتلو او ویشلو دنده ورپه غاړه وه، په ډیره خوشالی د خپل دفتر نه راووت، خپل مرستیال یې را وغوښت او ورته ویې ویل:

- تاسو وظیفه لری چې کیمیاوی سره د ځانګړی او مخصوص لیست له مخې د کلیو بزګرانو ته وویشی او په کلکه یې د ناوړه استفادې څخه مخنیوی وکړي.

- په سترګو صاحب.

- ورځه لاړ شه خپل کار دې پیل کړه ... خو ښه شو چې په یاد مې شول، کله چې سبا سهار کیمیاوی سره باروی یوه کڅوړه د مرتضی کورته یوه کڅوړه د دفتر ګل بن ته، نیمه کڅوړه زما کورته او نیمه کڅوړه هم د هغه بی شرفه کورته ولیږه.

- د کوم بی شرفه کور ته صاحب؟ محی الدین یادوی؟

- نه هغه نا یه دوم.

- ښه نو رضا او که اسماعیل یادوی؟

- ښه نو دوې ته یې هم باید ورولیږی، چې داسې ده نو سبا سهار ټولې شپږ کڅوړې یوې خواته کړه.

د ګدام مرستیال خپل نږدی انډیوال راو غوښت او ورته ویې ویل:

- ته وظیفه لری چې د ګوندې غړیو څخه پرته چې ته هم د هغه ګوند غړی یې په نورو باندې کیمیاوی سره په برابر ډول وویشې، دې خبری ته دې پام اوسه که چیرې دې پلار هم له مړیستون څخه سر راپورته کړی او کیمیاوی سره وغواړی چې وریې نه کړی.

- په سترګو صاحب، ستاسو لارښوونه به کتنه متنه تر سره کړم.
- خو پام مخکې له دې چې کیمیاوی سره بار کړی، پنځلس کڅوړې یې یوې خوا ته کړه او پاتې یې په برابر ډول کلیو ته ولیږه.

د مرستیال اډیوال هم له یوې قار جنې او دغلو سره د نه پخلا کیدونکی وینا څخه وروسته د ګدام یو مامور پتې کوټې ته وغوښت او ورته ویې ویل:

کله چې کیمیاوی سره لیږې، پنځه ویشت کڅوړې یوې خواته کړه او پاتې په برابر ډول کلیو ته ولیږه، هیله کوم چې په دې لاره کې ډیر زیات صداقت وکړی که څوک له مرګه هم پرې راګرځی چې یو مثقال هم ور نه کړی.
- په سترګو صاحب.
- ورځه خپل کار دې پیل کړه.

***

د کیمیاوی سری د عمومی رئیس، ښاغلی خلمی د تیلفون غږ پورته شو، کله چې ده ګوشی واخیسته په شوچې د کرنې وزیر خبرې کوې، څکه د درناوی په ډول د خپلې چوکۍ څخه داسې پورته شو چې غږ یې د وزیر غوږونو ته هم ورساوه، ښاغلی وزیر ورته وویل:
- لکه چې کیمیاوی سره را رسیدلی ده؟
- هو صاحب را ورسیده.
- زما د ښو نو له پاره دې زما برخه ساتلی ده؟
- هو صاحب (۲۵) کڅوړې مې درته ساتلې دي کله وی چې نوره هم یوې خواته کړم.
- نه لږ نه ده، خو د دوستانو او اډیوالانو له پاره هم (۳۰-۳۵) سترې کڅوړې یوې خواته کړه.

- په سترګو صاحب، داکار به وکړم.

کله چې د وزیر او خلمی خبرې پای ته ورسیدی، بناغلی خلمی خپل مرستیال را وغوښت او ورته ویې ویل:

- (۷۰) کځوړې وزیر او د ده د اندیوالانو له پاره یوی خواته کړی، (۲) کځوړې د بناغلی حتمی او (۳) کځوړې د بناغلی...

- د کوم بناغلی له پاره؟

- د هغه بناغلی له پاره چې دوه ځلې یې تیلفون کړی دی.

- ډیر ښه صاحب.

- دري کځوړې، ... ...او ... ته یوې خواته کړه.

- په سترګو صاحب.

- خو ډیر پام وکړی چې د بارولو او ښکته کولو په وخت کې کځوړې ځیرې نه شي.

- بې غمه اوسه صاحب! زه به په خپله د بارولو او ښکته کولو په وخت کې حاضر وم.

- هیر مې و، زما سکرتری میرمن نازی ته هم یوه کځوړه یوې خواته کړه

د کیمیاوي سري د مستحقو کسانو لیست په دوه نقله او ځلور وپانو کې جوړ شوی و.

مرستیال لیست وکوت. هغه په دې خبره پوښ شو چې که په هر ولسو کسانو کې یوه ته د کځوړې اټمه برخه هم ورکړی. بیا هم پاتې کیمیاوی سره نه و رسیږي ځکه یې دوې کځوړې او د وه کوچنی بیرلونه کیمیاوی سره خپل کورته ولیږله او پاتې یې د هیواد په (۲۷) مهمو او نامتو کلیو وویشله

د هر کلی برخه څه نا څه یو کیلو شوه، مرستیال دا ښه وګڼله [illegible]

د درناوی له پاره کیمیاوی سره په یوه کیلو یې پاکټ کې ور ولیږی.

د کلی یوه مشر چې تر ټولو د مخه د کیمیاوی سری پاکټ ورسیدلی و. ټول کلیوال د ستر جومات مخ ته را ټول کړل او خپله وینا یې داسې پیل کړه:

- ګرانو دوستانو! زمور په ژوندانه کې نن ډیره ستره ورځ ده، ځکه چې د کلیو د بیارغاونې د انسان دوستانه سیاست په لړ کې مور ته د کیمیاوی سری لومړی جوپه راورسیده.

اوس به زمور ټولو ستړیاوي د یوه کیلو یی پاکټ په لیدو سره له منځه لاړي شي.

زمور غواوي به پنځه واره زیاتې شیدي را کړی. زمور ماشومان به د ناروغیونه وژغول شي.

بیا د کلی مشر د مربا کاچوغه چې لاستی یې مات و، له جیبه راویستله او ویې ویل:

- دغه معجزه لرونکی دارو د هر ډول خوږو درمل دي، د یې کوره خلکو کور او د خوږو زړو نو پتې دي، هیله کوم چې خپل د سمالونه پرانیږی او په کتار کې ودریږي.

د کلی مشر یی له دې چې د چا حق تر پښو لاندې کړی، هر یوه ته یوه کاچوغه کیمیاوي سره ورکړه.

کله چې د کیمیاوی سری د ویشلو دنده سرته ورسیده. یوه بزګر یی د استعمالولو په باب پوښتنه وکړه.

د کلی مشر د بخښنې په ډول خلکو ته وویل:

- ما یی د ټولو ارخونو په باب فکر کړی و، خو د استعمال په هکله مې پوښتنه نه ده کړی، ځکه له ټولو څخه هیله کوم چې د مصرف کولو څخه یې ډډه وکړی.

زه سبا سهار بنار ته څم چې کارول (استعمال) یې زده کړم او تلسو ته به ووایم
چې له ډودی نه یې د مخه وخوری او یا یې له ډودی نه وروسته؟

د ګټې وتې چل ول

زمور په ښار کې مسیو مارویک مشهور مستري و، ده یوه ستر میخانیکي ورکشاپ درلود. هغه اوس سپین ږیري شوی وغوښتل یې چې دخپل کار پټ راز او چل ول خپل زوی ته وروښيي.

یوه ورځ د خپل زوی کوټې ته ورننوت دروازه یې وټرله او زوی ته یې وویل:

- زویه لږ نږدې راته کینه زه غواړم نن د کار پټ چل ول تا ته دروښیم که څه هم زما سره دې دوه کاله کار کړی دی خو لا په ډیرو شیانو نه پوهیږې زه نن تا ته داسې شیان وایم چې هغه په ښوونځي کې نه زده کیږي. ته کولای شی دغه شیان یوازې د ټولنیز ژوند په ټولګي کې زده کړی.

زوي یې په ډیره اریانتیا په ځواب کې وویل:

- پلار جانه! ما د دوو کالو په موده کې ډیرې هڅې وکړې چې څه زده کړم تر ډیره ځایه مې داهیله تر سره کړی ده. پوه نه شوم چې نور څه شی زده کړم؟

نه زویه تر اوسه دې د ګټې وتې چل ول نه دي زده کړی.

ښه غور راته ونیسه چې د خپل کار پټ راز ونه دروښیم.

- ښه پلاره زه ستا خبرې په پوره غور سره اورم.

- تر هر څه د مخه د یوې موسسې او یا تجارتخانې له پاره د کلنی لګښت او ګټې د بودجې سمبالول او سنجول ډیر ضروري دي.

هانریک چې دولس کاله لوست کړي و، د بودجې د سمبالښت په معنی

پوهیده خو په دې پوه نه شو چې د یوه ځانګړې میخانیکي ورکشاپ له پاره بودجې ته څه ضرورت دی. ده اوریدلی وو چې یوازې دولتي موسسې د هر کال په پیل کې د کلنۍ لګښت او ګټې بودجې تیاروي، ځکه یې د خپل پلاره نه پوښتنه وکړه:

- پلار جانه یو ځانګړې میخانیکي ورکشاپ د بودجې جوړولو ته څه اړتیا لري؟

- ولې اړتیا نه لري! کله کلنۍ بودجه دې نه وي سنجولې نو څنګه کولای شي چې په خپل لګښت او ګټې پوه شي؟

- ښه نو پلاره دا راته ووایه چې مور به څنګه پوه شو چې په یوه اوونۍ، یوه میاشت او یا یوه کال کې څومره موټرونه خرابیږي؟

څومره به مور ته راځي؟ او مور به څومره پیسې ورڅخه اخلو؟

چې د هغې له مخې مور خپل لګښت او ګټې اټکل کړو؟

مسیو مارویک یوه مسخره ډوله موسکا وکړه ویې ویل:

- ستا ربښتنی غلطی هم په دغه خبره کې ده، زه غواړم نن همدغه شیان درته ووایم، که چیرې ته دې ته سترګې په لاره وي چې کوم موټر خراب شي او بیا یې تا ته راولي تر هغې پورې به له لورې مړ شي.

- ښه پلار جانه دا راته ووایه چې د ګټې وتې کومه بله لاره هم شته؟

- هو! همداسې لاره شته که نه وای نو زه به اوس د دې شپار نامتو میخانیک نه وم او دغه ښه ژوند به مو نه درلود.

- پلار جانه په دې خو پوهیږم چې مور ښه کار کوو ځکه ډیر خلک راځي!!

- نه، داسې نه ده زویه زما یو اندیوال و چې ترما ښه پوهیده خو چل ول نړۍ داسې هیر کړ چې څوک یې سلام هم نه وعلیک کوی، دا خبرې زړې شوې دي،

اوس هر کار ځانته د چل ول لاري لري، ښه پوه شه چې اوس په ربښتيا سره ژوند نه کيږي، ربښتنی کړه وړه د ژوند ستر خنډ ونه دي او په دې لاره کې هيڅوک بری نه شی تر لاسه کولای، هر چا چې په خپلو کارونو کې پر مختګ کړی دی خامخا کوم چل ول لری، زه اوس زور شوی يم ځکه غواړم د خپل کار پټ رازونه او چل ول تا ته ووايم خو په دې شرط چې ژمنه را سره وکړی څو ته هم دغه پټ راز زور والی په وخت کې يوازې خپل زوی ته ووايې او بل څوک پرې خبر نه کړی.

هانري پوهيده چې پلار يې خپل وخت په چتې خبرو نه تيروی ځکه هک پک پاتې و، دې خبرې ته ډير ليوال و چې پلار يې زر خپله سپارښتنه ورته ووايي، خپلې سترګې يې د پلار په سترګو کې ښخې کړې ويې ويل:

- پلار جانه زه ژمنه کوم چې هيڅکله به ستا خبرې هيرې نه کړم.

مسيو ماروېک لږ څه غلی شو او وروسته يې وويل:

- پخوا يو ختګر و کلۀ به چې چا په خپل کور کې درنګ شوی ځای د جوړلو له پاره بوت. ده به هغه ځای تيار کړ خو کوم بل ځای به يې داسی وران کړ چې لس، پنځلس ورځې وروسته به د کور ځښتن دې ته اړ شو چې ختګر بيا راولی، ختګر به بيا هماغسی يو ځای جوړ او بل ځای ويجاړ کړ، په دې ډول به ختګر کال دولس مياشتې په کار بوخت او جيب به يې له پيسو ډک و.

زمور په کار کې هم بايد دغه لاره په بشپړ ډول غوره شی. که چيرې مور هم د دغه ختګر په شان کار وکړو هم به مو بيپاران خوښ وي او هم به مو پيسی ګټلې وي.

زما په خبرو پوه شوي که نه؟

- هو! پلاره غوره مې دی، پرې پوه شوم.

پلار یې خپلې خبرې غبرګې کړې ویې ویل:

- لنډه دا چې ته یوازې د دې ډول چل ول لهلارې د ښه ژوند څښتن کیدای شې دا څکه غواړم چې نن ورځ تا د کسب اوکار په چل ول پوه کړم. قلم او کاغذ دی واخله ویې لیکه.

- ښه پلاره وایه زه یې لیکم.

- په دا خو پوهیږې چې زمور همیشنی بیپاران څوک دي؟

- هو! پوهیږم تر تولو زیات مور ته ډاکټر نجاتی راځی!

- نور څوک راځي؟

- ښاغلی سعادت الدین هم راځی!

- ښه نور څوک راځي؟

انجنیر سلمان هم راځی!

- پوه مهمه بیپاره دې هیره ده.

- څوک ده؟

- لکه چې د وکیل صاحب میرمن دې هیره شوی ده.

- ښه، ښه! په یاد مې شوه، نوم یې څه شی دی؟

- نوم یې میرمن شکران دی.

- ومې لیکله، نور څوک دي؟

- هر وخت مې چې را یاد شول نو مونه به یې درته ووایم، اوس نو ښه غور راته ونیسه!!

- د ډاکټر نجاتی موټر د سنبلی په میاشت کې بیرته راځی.

- ته څنګه پوهیږې پلاره؟

- زه پوهیږم، په دې هم پوهیږم چې د ده موټر د ماشین د شادخرخ رینګ به

مات وی.

- کله چې رینګ ولدنګ کړی د هیدرولیک پستون لاستیک یې لږ سوری کړه چې یوه اوونۍ وروسته د لاستیک د بدلولو له پاره راشی، پوه شوی که نه؟

- هو! پلاره څه نا څه خو پوه شوم !!!

- په دې ډول به د سنبلې په میاشت کې له ډاکټر نجاتی څخه اتیا لیږې تر لاسه کړې، د لیندې د میاشتی په پای کې به د ده موټر د فراویل بدلولو له پاره بیرته راشی ځکه ماد ده د موټر فراویل داسې برابر کړی دی چې هر ومر و به د لیندې په میاشت کې خرابیږی او اجوره یې هم شپږ سوه پنځوس لیږې کیږي.

- ښه پلاره دامې هم ولیکه!

- همدا ډاکټر د سلواغې په میاشت کې د څپل موټر برقی برش بدلوی چې هیردی نه شی د جوړولو په وخت کې یې د دوهم برش څنډه وازه کړه، دری ورځې وروسته به د برق د نه تیرولولو له امیله بیرته راشی دا ځل چې برش بدلوی د بوبین سرپوښه سست پریږده، چې په دې ډول به د کال تر پایه د ډاکټر نجاتی څخه (۲۲۰۰) یا (۲٤۰۰) لیږې تر لاسه کړې.

- را به شو سعادت الدین ته، د ده د موټر قاپاق او سلندر خراب دی هره میاشت یو واشل سوځوی او د هر واشل د بدلو لوبیه (۱۲۰) لیږې کیږی، هیردې نه شی کله چې واشل بدلوي دوي گیږي یې سستی پریږده، پوه شوی که نه؟

- پوه شوم پلاره، ډیر ښه پوه شوم!

- له پلان سره سم د ده د موټر اکزاس هم زر، زر خرابیږی او مجبور دی چې په میاشت کې دوه ځلې راشی، په دې ډول د کال تر پایه د ده څخه هم (۱۸۰۰)

لیږي جیب ته کوو، دا هم ولیکه!

- دا مې هم ولیکلي پلاره، لکه چې میسوانهرسن دې هیر شوی دی؟

- هو! ډیر ښه وشول چې را یاد دې کړ، د میسرانهرسن د موټر همیشه دنده ماتیږی کله چې هغه جوړی د ګریسو په منځ کې یې د اوسپنې بڅرکي واچوه څو د دندو خولې ته ورشی او زر زریې دنده ماته شی.

- دا دی وار سلمان بیک ته را ورسید، ته هغه پیژنی؟

- هو! پلار ډیر ښه یې پیژنم!

- پام دې اوسه چې سلمان بیګ زمور ستر بیپار ډی د ده پیسې هم په کال درې زره لیرې کیږي هغه ډیر بډای سړی دی دغه پیسې ورته هیڅ دي، پام دې اوسه چې تل به د ده د موټر د برقی پلاتین او چوکش په منځ کې ګریس څڅوي څو پلاتین کار پریږدی کله راشی: چوکش د بدلو لو په پلمه به موټر یوه شپه له ځان سره وساتې چې هغه لاړ شی سمدستی به یې ګیربکس واز کړی یو کوچنی میخ به ور واچوي او بیرته به یې وتړی.

دوې درې ورځې وروسته به د ګیربکس ټول غاښې مات شي د کتلو په وخت کې به ډیر درونده خپګان ښکاره کوی او زښت ډیر ساړه، ساړه اسویلي به وباسې چې په دې ډول به د ګیربکس د بدلو لو له امله له دې څخه هم درې زره او پنځه سوه لیرې واخلي، پوه شوې که نه؟

- هو! پوه شوم پلاره!

- اوس به نو په میرمن شکران پسې دوه زره اته سوه لیرې ولیکې، په حقی بیګ پسې هم دوه زره پنځه سوه ولیکه.

- ښه پلاره ومې لیکلې!

- اوس نو دغه جمع کړه چې څو کیږی؟

- نبه پلاره دا ده صفر په صفر ، شپږ او اوه کیږی دیارلس دایې دري او حاصل یې یو ، تولې تر شلو زرو لیرو زیاتې شوې.

- هو! دغه شو ستا د یوه کال د چل ول حاصل ، ستا د یوه کال لګښت هم تر پنځلسو زرو لیرو نه زیاتیږی ، د نورو راز ، راز (متفرقه) کارونو له لارې یو نیم زر لیرې تر لاسه کولای شي او راز ، راز لګښت دې هم په کال کې له پنځو سوو لیرو تیرې نکوي.

- پلار جانه په راز ، راز لګښتونه پوه نه شوم؟

- دا د ول لګښتونه باید د کلو او تجربې په نښونځی کې زده کړې ، هر یوه موسسه د خپل کار د پرمختګ له پاره د نعام ورکولو ، پور ورکولو ، ملمستیا ورکولو او د زوزاورو خولو پتو لو له پاره راز ، راز لګښتونو ته اړتیا لري.

لنډه دا چې ته کولای شی د دې د ول چل ول له لارې د نورو له جیبونو نه پیسې وباسې او مزې چې چې پرې وکړې!

لارښوونه

زه په استامبول کې زیږیدلی یم او په استامبول کې ستر شوی یم، پلار، مور او دوستان مې هم په استامبول کې زیږدیدلي دي. لنډه دا چې اووه او یا اوه لس نسله مو استامبولی دي.

هر وخت چې د استامبول څخه لرې کیږم، داسې فکر کوم چې په ښه ډول ساه نه شم ایستلی، آن هغه وخت چې په امریکا، اروپا، ایتالیا او پراګ کې وم، دغه ډول بې کراري مې احساسوله.

سره له دې چې دغه ښارونه ډیر ښکلي او زړه وړونکي وو، خو استامبول له حده زیات ښکلی دی، زه له استامبول سره ډیره زیاته مینه لرم، همدا سبب دی چې د خپلو هغو اندیوالانو څخه چې له هیواد څخه د باندې او یا د استامبول څخه د باندې بې کاره کړی دی، او د لوړو رتبو خاوندان دي، وروسته پاتې یم.

اوس مې چې پنځه کاله تقاعد ته پاتې دي، ښه نه ده چې له استامبوله څخه د باندې لاړ شم، ښځه مې هم استامبولی ده که داسې نه وای هیڅکله مې واده نه ورسره کاوه.

زه په دې نه ویاړم چې استامبولی یم، ځکه چې په استامبول کې ژمستیني او سیدونکي نه دي پاتې شوي، د دې ښار اوسني اوسیدونکي له شاوخوا

ښارونو او کلیو څخه راغلی دي.

خو اوس دوي د استامبول ربښتینی اوسیدونکی دي ځکه چې د وې کټ مټ د استامبو لیانو په شان خبري کوي.

***

دوي دري میاشتې د مخه زما یوه ګران دوست د لندن څخه لیک را ولیږلو، لیکلي یې وو چې د ده ډیر نږدې دوست د خپلې میرمنې سره د سیل او ساتیرۍ له پاره استامبول ته راځي، ده زما څخه غوښتي وو چې د دوي د ګرځیدو، پلورلو او پیرودلو د لارښوونې دنده په غاړه واخلم.

ما نه شول کولای چې د خپل دوست غوښتنه ونه منم، ځکه مې سمدستي د لیک په ځواب کې خپل تیاری ورته څرګندکړ او یادونه مې وکړه چې که چیرې دوي په اوړی کې راشي وخت به یې ښه تیرشي.

د لیک د ځواب له رارسیدو څخه وروسته مې د خپلې اداري څخه پنځلس ورځې رخصت واخیست او د میلمه پالنې له پاره مې ځان چمتو کړ، څو ورځې وروسته د خپلې میرمنې سره د دوي د هر کلي له پاره هوایې ډګر ته ورغلم او دوي مې هغه هوټل ته بوتلل چې د مخه مې کوټه ورته ریزرو کړې وه.

دوي ګړي وروسته ورپسې ورغلم او د مابنامنې له پاره مې خپل کورته راوستل، زما میرمنې ډیره ښه ډوډۍ پخه کړې وه او د احتیاط له پاره یې څو ډوله اروپایی غذا هم تیاره وه.

انګریزی میرمنې وطنی غذا ډیره خوښه کړه او پوښتنه وکړه:

- تاسو (دلمه بامجون) څه ډول پخوي؟

- دلمه بادمجون؟ دا ښځه ددغو خوږ نوم څنګه پیژني؟

په داسې حال کې چې زما دوست لیکلي دي چې دوي د لومړۍ ځل له پاره استامبول ته راځي ځکه مې پوښتنه وکړه:

- تاسو پخوا استامبول ته راغلي یئ؟

- نه، دا لومړی ځل دی چې ستاسو ښکلی ښار وینم.

- نو زمور د ځانګړی غذا نوم دي څنګه زده کړی دی؟

دا غذا دي خورلی ده؟

- نه دا غذا مې نه ده خورلي، خو مخکې له دې چې ستاسو هیواد ته راشم، ستا سو د ښارونو، دود دنو او رواجونو او ستاسو د ځانګړو غذا وو د خوند او پخلی په هکله مې کتابونه لوستلي دي. بیا انګلیسی میرمنې د (دلمه بادم جون) د پخولو په هکله دومره بشپړ معلومات وړاندې کړل، زه په دې خبره پوه شوم چې زمور د ځانګړی غذا پخول یې زما څخه ښه زده دی.

ما د دغې ښځې خبرې خپلې میرمنی ته له انګریزی ژبی نه په خپله ژبه ترجمه کړی.

انګلیسی میرمني پوښتنه وکړه:

- تاسو (سره کړی بانجان) څنګه پخوي؟ لومړی پیاز سره کوي او کـه وروسته؟

زما میرمنې په ډیر مشکل ځواب ورکړ. هغی بیا پوښتنه وکړه:

- ستاسو هیواد، ډیر لرغونی هیواد دی چې ډیر کلونه یې امپراطوری چلولی ده، که زه د غذا وونوم واخلم، ته کولای شی د پخولو ډولونه یې راته وایې؟

- هو، کولای شم.

انګلیسی میرمنې د داسې غذا وونو مونه واخیستل چې ما په خپل ژوند کې دا ډول غذوي لیدلي هم نه وي که چیرې مو د پخولو معلومات غلط

وړاندې کړی وای، وربانديې پوهيده څکه مې د خپل پت او عزت د ساتلو له پاره خبره بدله کړه، د موزيمونو او ساتيرئ ځايونه په باب مې د موضوع د هيرولوله پاره اوږدې خبرې وکړې.

انګليسي ميرمنې وويل:

- زه غواړم چې بد نام ځای وويني.

خپلې سترګې مې تپتې کړې ورته ومې ويل:

- زمور په ښار کې بدنام ځای نه شته. د هغې ميرې زما خبره ونه منله، ويې ويل:

- لرې يې... ما په کتاب کې لوستلي دي چې ستاسو بدنام ځای ډير سترد دی، زه ستا څخه هيله کوم چې مور هغو سموارونو ته وروله چې (قليان) وڅکو (هغه عضوی مواد چې الکلي خاصيت لري او د درملو په ډول استعماليږي).

- دا ډير پخوانۍ خبره ده، زه فکر نه کوم چې اوس په داسې سموارونه وي.

- نه صاحب! ته خبر نه لرې، ما په کتابونو کې لوستلي دي چې تر اوسه هم د اسموارونه کار کوي.

- انګليسي ميرمنې وويل:

- که زما خبره منې، بوه شپه به هم په بغاز کې تيره کړو او کبان به ونيسو.

- خو ما تر اوسه کبان نه دي نيولي.

- دا څنګه امکان لری چې يوه استامبولی کبان نه وی نيولي، اوس ديو ډول ماهی د نيولو چې نوم يې (لوفر) دی، ډير ښه وخت دی، لکه څنګه چې ما په کتابونو کې لوستلي دي، د دې ډول قيمتی کب نيول تاسو د شپې له خوا د بيړيو او ځانګړو څراغونو په مرسته تر سره کوئ.

زه د دوی بشپړ معلومات او خپلې پې خبرې دومره وارخطا کړم چې

کتابونو او کتاب ویونکو ته مې نشول کتلی.

له ځان سره مې وویل:

- دا خو نوبی ګټې نه ده چې دولت خلکو ته د سواد په زده کولو لاس پوری کړی دی او د سواد لرونکو شمیر یې په سلو کې دیر شو تنو ته رسولی دی، زمور د سواد لرونکي خلک هم په سواد کې خپل ځانګړی ځای لري. ځکه انګلیسي ښځه او میړه د خپلو بشپړو زده کړو له مخې غواړي چې استانبول، مور استامبولیانو ته را وپیژني.

له مانبامنی دوډی ځخه وروسته زما میرمني، سره امریکایی کافی را وړه، انګلیسي میرمني پوښتنه وکړه:

- تاسو ترکي کافی نه خورئ؟

- وړه موده کیږي چې ترکي کافی مونه ده خورلی، ځکه امریکایی ګازی منقل موسوی دی.

نیمه شپه مې دوي هوټل ته ورسول او زه ستړی ستومان کور ته راغلم، شپه مې په وړه ناکراري سره تیره کړه، سهار چې ورغلم انګریز راته وویل:

- زما په نظر دا ښه هوټل نه دی که خونبه دې وي بوده ښه او ارزان هوټل ته به لاړ شو؟

- زه ستا سو خوشالۍ غواړم او ستاسو خونبه زما خونبه ده.

هغه یولیست را واخیست او داستامبول په ښار کې د هوټلونو نومونه په لوستلو پیل وکړ. خو ما یو هوټل هم ونه پیژانده.

د هوټل نه ووتو او تکسي ته وډریدو، خو تکسي پیدا نه شو، انګریز ماته مخ راواړوه، وې ویل:

- که ټر پورته لاړ شو، هلته تکسي ته ځای دی.

- فکر نه کوم.

- ولې فکر نه کوی؟ ماته په نقشه کې څرګنده ده چې هلته د ټکسی تم ځای دی.

زړه نا زړه هغې خواته ورغلو، هر څومره مو چې په سر، لاسونو اوپښو ټکسی موټر وته اشاره وکړه، یو ټکسی هم زمور په وړاندې ونه درېده. بالاخره، یو ټکسی دموټر و د پیرو بار له امله وروشو، پوښتنه مې ځینې وکړه:

- سواري نه اخلی؟

- موټروان په وارخطایی راته وویل:

- ډوند یې، هغه ترافیک نه وینې که تاسو سپاره کړم، سمدستی مې جریمه کوی.

د انګریز زما وارخطایی ته پام شو، ویې ویل:

- زما ګرانه دوسته! مه وارخطا کیږه، ما په کتابونو کې لوستلي دي چې ستاسو په هیواد کې د ټکسی او شاري سرویسونو تم ځایونه ډیر زر بدلیږي، ستا سو د ترافیکو د کړنلارې سره سم که نن د ټکسی تم ځای دلته دی څو ورځې وروسته هلته دی،

ځکه دوي په دې ډول د خپلو ځانګړو ګټو له پاره د تم ځایونو په بدلولو سره ټکسي موټر جریمه کوي چې ګټه یې زیاته شي...

دا ریانتیا خبره وه چې انګریز د داسې دولتی او اولسی رازونو نه خبرو چې مور ته نه ووجوت، د ځان سره مې په ترکی ژبه وویل:

- ځښتن دي کتابونه در څخه واخلی او د خدای په عذاب ګرفتار شی، ستا له سوالونو نه بیخی لیونی شوم، انګریز په اریانتیا سره پوښتنه وکړه:

-ولي په تار يې؟ داسپکي سپوري ولي وايې؟ په وارخطايي سره مې پوښتنه وکړه:

- تاسو په ترکي پوهيږئ؟

- نه، زه په ترکي نه پوهيږم، خو په کتابونو کې مې ستاسي ګنځلې او سپکي سپوري لوستلې دي، کله چې مور غواړو کوم هيواد ته لاړ شو، د تګ نه د مخه څو پرله پسې مياشتې د هغه هيواد په هکله هر اړخيزه مطالعه کوو.

- کله يې خوري؟

د انګريزي زما خبرو ته پام شو، غوښتل يې چې معلومات ورکړم.

چې انګريز په بې کراري سره زما څخه د عمومي چرچوبي (تشناب) پوښتنه وکړه او ورته ومې ويل:

- مور په ښار کې عمومي چرچوبي نه لرو، زمور پلرونه دې خداى وبخښي، لکه څنګه يې چې د عبادت له پاره فکر کړى دى، د خلکو د سوکالۍ له پاره يې چرچوبي هم په جومات کې جوړې کړې دي.

انګريز په اريانتيا سره پوښتنه وکړه:

- ته ربښتيا وايې؟ نه دا هيڅ امکان نه لري.

- هو، همداسې ده که ډير په تکليف يې، نو راځئ چې هوټل ته لاړ شو.

انګريز چې ډير په تکليف و، خپلې ميرمنې ته يې وويل:

- زه فکر کوم چې په دې سيمه کې چرچوبي (تشناب) شته، ته نقشه وګوره چې چيرته ده، انګريزې د خپل بکس نه نقشه راواېستله او د ځمکې په مخ يې پلنه کړه، وروسته يې وويل:

- د دې کوڅې کينې خواته د پنځو سو مترو په واټن په دوه مترې کوڅه کې عمومي سترې چرچوبي شته.

مـا ډيري د عـاوي وکړي چې خبـره يې غلط شي ، خـو له بده مـرغـه په هماغـه خـاي کـې يوه عـمـومي چرچوبې وه او مـاهـم ددوي له تجربې نه ګټـه واخيسته خپل مشکل مې ترسره کړ ، وروسته له دې په تکسي کې سپاره شو اوانګريزدارزان هوټل پته ورته وويله ، په لاره کې يې له مانه پوښتنه وکړه:

- نېه نوداراته ويلی شی چې دډي ښاررښتنی اوسيدونکي چيرته تللی دي؟

- زيات معلومـات نه لرم ، خـودومره پوهيږم چې ددي دلتـه نـه شـتـه ، ښايې باندينوهيواد ونوته دکارپيداکولوله پاره تللې وي .

- هر ، رښتـيـاوايې ، مـاهم په کـتـاب کـې لوسـتـلې دي چې ددې هيواد خلک دلورې اوغربې سره لاس اوګربوان دی ،ديوې مرې ډوډي د پيداکولوله پاره يې خپل ښاراو کورپريښې دی ، درپه دراوسرګردان ګرځي...

تکسی دهغـه هوټل مخ ته چې پتـه يې ورکړې وه ودريده ، په رښتـيـاچې دغه هوټل ښه ، ښکلی اوارزان و ، کله چې دوي ځاي په ځاي شول ، ماوغوښتل چې خپل کـورته سـتـون شم ، خـودوي دواړوپه دې خبـره ډيرټينګارکـاوه چې خامخايې بدنام ځای ته بوځم.

ددوي ډيرټينګارله املـه زه مـجـبـورشـوم چې دوي « بې اوغلو »چې بدنامـه سيمـه وُه بوځم. هرځومره چې په کوخوکې ښکته ،پورته. يوې اوبلې خواته وګرځيدو ، هيڅوک موپيدانه کړل وروسته پوه شوم چې ښاروالی پليت خلک له دې سيمې نه شړلي وواوبدنام ځای يې په « نيک نام ځای » بدل کړی وُ.

دانګريزي دخبری ته پام ، شو ، نقشه يې راواخيسته ويې ويل:

- راځه چې مورتاهلته بوځو ، خکه چې بدنام ځای په « ګالاتا »کې دی.

لنډه داچې دانګريز په لارښـوونه فسـادځـای (بدنام ځـای) ته ورغلو.

انگریزی ښځې دلوڅواوڅان خړڅونکوښځورنګه عکسونه هم واخیستل.

وروسته له دې مې یوستررستورانت ته یوتلل. انګریزسړې لکه چې دمخه دغه رستورانت ته راغلی وی، ویې ویل:

- دلته نه ځو. ځکه چې هم یې ډوډي خرابه ده اوهم یې بیه جګه ده. په قارمې پوښتنه وکړه:

- داهم په کتاب کې لیکل شوې دي؟

- نه داخبره ماته خپل انډیوال کړی ده، اوراته ویلی یې ووچې غرمنی ډوډي دبازاردوروستی برخې په کوچنی رستورانت کې چې سړک کښان پخوي، وخورو، ځکه چې هم یې ډوډي خوړه ده اوهم یې بیه لږده.

دده له پتې سره سم هغه رستورانت ته ورغلواودکبانو خوړلوڅخه وروسته کله چې راوووتوداوړوپه دې خبره ټینګاروکړچې خامخایې سموارته دقلیاتوڅکولوله پاره بوځم، ډیرفکرمې وکړخوداډول سموارمې په یادنه شو، ځکه چې تراوسه مې نه قلیان څکولي وواونه مې داډول سموارونه لیدلي وو، دوي بیانقشی ته وکتل اوزه یې هغه سموارته بوتلم، ددروقلیانوفرمایش یې ورکړ، کله چې قلمان تیارنشول، دواړودلوګی شنی لوخړې ورباندې پوڅته کړې، ددې له پاره چې زه دوه څخه وروسته پاته نه شم، ماهم دقلیانو په څکولوپیل وکړ، ناڅاپه مې پام شو، قلیان، تمباکواوسکاره پول دسموارپه غولی غورځیدلي دي، انګریزي میرمنې هغه راتول کړل ویې ویل:

زر، زربی وڅکوه چې اوربې مرینه شی زر، زر پې وڅکوه لکه سګریټ، خورز، زر.

دسموارنه راووتو داځل سرپټی بازارته روان شو، زه یه هې بازارکې ډیربلدوم، فکرمې کاوه چې زه به تن دوي ته داسې شه وروښیم

چې په کتابونو کې يې نه وي لوستلي.

کله چې بازار ته ورسيدو ، انګريزز ماڅخه داسې پوښتنې وکړې:

دپالس او تورلو (حکاکي) بازار چيرته دی؟

- دپرستنو ګنډلو بازار چيرته دي؟

دچونګي خرڅلو (پرچون فورشي) بازار چيرته دی؟

مادو پوښتنو ته ځواب نه درلود ، ځکه چې دا بازارونه مې نه پيژندل

انګريزي ميرمنې چې زما واړه حطايې ته پام وويې ويل:

- مه وارخطا کيږه ، څوګامه وړاندې دنانزکو پلورنځی دي چې دپرې

ارزښتناکې نانزکي پکې پيدا کيږي ، نشی کيدای چې لومړي هلته ورشو.

دڅودانو نانز کو اخيستلونه وروسته ، انګريزد بازارنو په خوا روان شو په

لاره کې يې دسرپټی بازار د تاريخ اود دې بازار د جوړنکی او داچی څوکاله

پخوا دا بازار خراب شوی و ، په بشپړډول معلومات راکړل.

ددوی په لارښونه ، ماهم دلومړي ځل له پاره دپالس او تويرنی ،

دپرستنو ګنډلو ، دلرغو نو شيانو او چونګي خرڅلو بازارونه وليدل.

مازديګر مې دوي هوتل ته ورسول اوزه ستړي ستومان خپل کورته

راغلم.

کله چې سهار هوتل ته ورغلم هيله يې وکړه چې حمام ته يې بوځم.

دوي مې دښاړه يرښکلی حمام ته بوتلل اوزه بيديا ورته معطل شوم ،

څوشيبې وروسته دواړه را ووتل او د اعتراض په ډول يې وويل:

- مورستا څخه هيله وکړه چې ترکی لرغونی حمام ته مو ورولې او تا داسی

لوکس او ښکلی حمام ته راوستلی يو چې ټول وسايل يې خاجي دي.

بيا ښځې نقشه پرانيستله ، ويې ويل:

- راځئ په هغه کوڅه کې حمام شته چې د ورځې له خوا ښځې پکې لامبې او د شپې له خوا سړي.

کله چې ښځه حمام ته لاړه، میړه یې هیله وکړه چې سموار ته لاړ شو او د نرد لوبه وکړو، ما ورته وویل:

- زما خود نرد لوبه نه ده زده.

- خیر دی زه یې درزده کوم.

په ډیر مشکل مې نومورې د دې خبرې څخه راوګرځاوه، کله یې چې ښځه له حمام څخه را وتله، ده په نقشه کې عمومي حمام را په ګوته کړ، ویې ویل:

په دغه حمام کې د ورځې له خوا سړي او د شپې له خوا ښځې لامبې، د ده په لار ښوونه زه هم په عمومي حمام کې ولمبیدم، دا ورځ هم په دې ډول تیره شوه او د شپې له خوا د دوي په لار ښوونه په پیړۍ کې سپارډ شو او سوفرکیان موښکار کړل.

د دوي په لار ښوونه مې په پنځلسو ورځو کې داسې کتابتونه، موزیمونه، جومات‌ونه او زیارتونه ولیدل چې پخوا مې یې نومونه هم نه ووا وریدلي، په تیره خو دریږ او حلوا جوړولو کار خانې ماته ډیرې نوې وې.

کله چې د وي له استامبول څخه تلل، له مانه یې پوښتنه وکړه:

- لکه چې ته دا ستامبول ربنتنی او سیدونکی نه یې؟

په شرمناک ډول مې ورته وویل:

- سمه ده، زه څو کاله د مخه استامبول ته راغلی یم.

- څو کاله د مخه راغلی یې؟

- پنځه کاله د مخه.

- ښه نو په دا موده کې دې په استامبول کې څه کول؟

- زه د دولت مامور یم، له سهاره تر مابنامه په دفتر کې کار کوم.

انګریزي ښځې وویل:

- چې داسې ده، نو ته د استامبول ریښتینې اوسیدونکی یې ځکه چې د ریښتینې استامبولی صفتونه کې مټ همدا دي چې تاسو وویل.

انګریز وویل:

- خواشینی یم چې مور په ژمی کې راغلو او د لیدلو وړ ځایونه مو نه لیدل، څوورځې وروسته مې دوي تر الوتکې پورې بدرګه کړل، بیا اوس وروسته مې یو لیک ورولیږه او دا چې ماته یې په استامبول کې وړ ښه ځایونه راوښیي، دا دل له دوي څخه مې مننه وکړه.

دوي زما د لیک په خواب کې ژمنه وکړه چې په راتلونکي اوړي کې به راځي او ماته به په استامبول کې د ساتیرۍ وړ ښه ځایونه راوښیي.

د مامور مرګ

د دولت پخوانی مامور محمد اقا دهمیش په شان د کار له پیل کیدو نه ٤٥ دقیقې د مخه خپل دفتر ته راورسید.

محمد اقا دهمیش په شان خپل کوټ چې د رنګ رنګ ټوکرانو ټوټې وربانديِ ګنډل شوي وي په ډیر پام سره په کوټ بند کې ځوړند کړ.

دهمیش په شان یې خپل خړپړ بکس د میز په سر کیښود.

د همیش په شان د لرګی په چوکۍ چې همیشه یې د غنګ، غنګ و چوغږونو ماغزوته تاوان رساوه ستړی ستومان کیناست.

کله چې محمد اقا ځای په ځای شو له اوږدې ساه څخه وروسته یې څو پرله پسې ټوخې د دفتر پیاده ته وروښبل. د بیا ټوخیدو په وخت کې یې نا څاپه خپلی سترګې په ورځپاڼه ولګیدې چې د ده د میز په سر پرته وه سمدستی له ځایه پورته شو ټوخی یې بند کړ او د ورځپاڼې سر لیکونو ته ځیر شو.

محمد اقا د سرلیکونو له لوستلونه سمدستی پوه شو دا هغه ورځپاڼه ده چې د دولت په مخالفت خپرونې کوي ځکه د دولت د مخالفې ورځپاڼې په نوم مشهوره ده.

محمد اقا د ولې په شان تریده که چیرې یې په خپل دفتر کې ساعتی بمب هم لیدلای وای دومره به نه واي ډار شوی.

د دې له پاره چې غلطی ونه کړی محمد اقا څو ګامه شاته لاړ او له لرې نه یې د دولت مخالفه ورځپاڼه د نه چاودلی بمب په شان دښې او کیښ، د څټ

او مخ له خوا ښه وکتله، هوا علطی یې نه وه کړی هماغه د دولت مخالفه ورځپانه وه.

محمد اقا د ځان سره وویل:

- داکار هر ومرو زما د ښمنانو کړی دی. دوي غواړي چې په دې ډول مې د دولت په مخالفت تورن کړی ځکه یې د غه ورځپانه زما د میز په سرا یښې ده، څومره ښه شوه چې وختی راغلم او که نه دوي به یو بل ته ورښکاره کوله او ویل به یې:

- ښه ورته وګوری دا د دولت مخالفه ورځپانه ده چې د محمد اقا د میز په سر پیدا شوه.

د هغه د میز په سر چې مور وطن پرست او ایماندار سړی ګانه، ډیر د خواشینی ځای دي چې تر اوسه مو د ده رښتنی څیره نه وه پیژندلی او همیشه مو د باور وړ سړی باله.

محمد اقا ډیره هڅه کوله چې ستر ګي یې د دولت مخالف شیان ونه وینی او که نه ښایې چې د نوستلو او ګډې عقیدې په ګناه بندي شی.

ده د ځان سره یو بکړه ډکړه چې ورځپانه پټه کړی. لومړی یې وغوښتل چې ورځپانه د بل چا د میز په سر کیږدی وروسته یې پام شو چې د ده د ګوتو نښان ورباندې پاتې کیږی او بل به ټول پوه شی چې دغه کار محمد اقا کړی دی ځکه چې نومړی هره ورځ تر نورو د مخه دفتر ته راځی. محمد آقا وغوښتل چې ورځپانه څړی کړی او د چټلیو په سطل کې یې واچوی وروسته یې فکر وکړ چې سطلونه تش دي هر څوک چې سطل ته کاغذ وراچوی خامخا به د ورځپانې یو یې یکې وویني او پوه به شی چې دا کار محمد اقا کړی دي.

محمد اقا دا هم نه شوای کولای چې ورځپانه په خپل بکس کې کیږدی

ځکه چې هغه وخت به د ژوندی او منونکی حقیقت له مخې بندی شی. د ډیر چرت نه وروسته یې پریکړه وکړه چې دالعنتی ورځپانه د میز په جعبه کې کیږدی.

محمد اقا لومړی یوې او بلې خوا ته وکتل هڅه یې کوله چې د دولت پر ضد لیکنو ته یې لاس ورونه لګیږی ورځپانه یې د خپل میز په جعبه کې کیښوده لا تر اوسه یې د میز جعبه نه وه تړلی چې خپلې شاته یې د پښو غږ تر غوږ شو.

- محمد اقا سلام علیکم ... څنګه یې؟

نږدې و چې د ډیر ډار نه یې زړه ودریږی هغه پوه شو چې د دوې رئیس هر څه په خپلو سترګو لیدلي دي ځکه چې شاته یې ولاړو.

محمد اقا وعلیکم سلام او له در ناوی څخه وروسته د میز جعبه وتړله اوپه خپل میز باندې ور ږنګ شو.

رئیس څو شیبې د ده شاته ودریده او وروسته پټه خوله خپلې کوټې ته لاړ ،خو محمد اقا د ده په راتګ شکمن شو د ځان سره یې وویل:

- هرومرو زما دښمنانو رئیس ته ویلي دي:

- رئیس صاحب پوهیږي چې محمد اقا ولې هره ورځ وختی دفتر ته راځی؟ هغه ځکه وختی راځی چې دلته د دولت مخالفه ورځپانه لولی که زمور په خبره باور نه کوی نو سهار وختی راشه څو یې په خپلو سترګو وویني.

دا دې رئیس هم د دوي خبري منلی دي او زده یې د ورځپانې د پټولو په وخت کې ولیدلم.

محمد اقا په خپل میز باندې داسې ورځملاستلی و چې د خپلو اندیوالانو راتګ او سلامونو ته یې هیڅ پام نه شو. لګیا و له ځان سره یې ویل:

- ولې زما سره داسې ناروا کوي؟ ما خو هیڅ ته نه دي ویلي چې د سترګو د پاسه دې وروځی دي.

محمد اقا رښتیا ویل د « ۳۰ »کلونو ماموریت په موده کې یې هروخت د خپل پلار دغه نصیتونه په یاد وو چې ورته ویلي یې وو:

« دهیڅا په کړو، وړو کار مه لره، د خبرو په ځای عمل وکړه، دغورو پرو پر ځای په صداقت سره کار وکړه، د هر رئیس په وخت کې خپله دنده د وطن پرستی له مخې سرته رسوه، د نن کار سبا ته مه پریږده، په ګوندونو باندې کار مه لره، د ګوندي غړو نه لرې ګرځه ځکه چې د سیاست رښتینی نومونه منافقت او دروغ دي او داسی نورې خبرې... »

محمد آقا د دولت له بدلون سره او دا چې کوم ګوند بریالی کیږي هیڅ ډول علاقه نه درلوده هغه پوهیده چې ده او د ده په شان د نور کسانو له پاره ډیر غوره کار په صداقت سره وطن او خلکو ته خدمت کول دي. ده دا هیله هم درلوده چې د تقاعد څخه د مخه د ګمارلو د قانون دویم پراو په خپلو سترګو وویني.

محمد اقا په ورځنیو کارونو بوخت شو هڅه یې کوله چې خپل کارونه زر سرته ورسوي هسې نه چې رئیس یې وغواړي او ورته ووایی:

- ډیر افسوس کوم چې په تامې دومره زیات باور درلود اوس پوه شوم چې ته هم د دي دولت څخه تنخاه اخلی اوهم د همدغه دولت پر ضد فعالیتونو کې لاس لری. زه نا چار یم چې ستا د غیر قانونی کړو. وړو په باب لوړ ومقامونو ته خبر ورکړم او هیله وکړم چې ډیر زر ستا سو د دغه ناوړه کړو. وړو په هکله پوښتنې پیل او دوسیه موښپړه کړي.

محمد آقا په دې ډول چرتونو کې ډوب و ناڅاپه په زړه کې وروګرځیدل:

پخوا له دې چې د دې ډول سپکو سپورو سره مخامخ شم ښه دا ده چې په منده ورشم د رئیس پښو ته ور تیت شم آن چې بوټونه یې په ژبه وځتم او ورته ووایم: «باور وکړه صاحب چې زما په هکله دا ټولې خبرې غلطي دي څه کم دیرش کاله کیږي چې زه په دې څانګه کې کار کوم او عمر مې اوه پنځو سو کلونو ته رسیدلی دی. په دې ټوله موده کې یې که رتبې را کړې دي او که نه او یا یې د پنځو رتبو په ځای یوه رتبه را کړې ده خو زه هر وخت د دولت څخه خوشاله یم او د دولت په ضد مې یوه خبره هم تر خوله نه ده وتلی. کلونه، کلونه مې ستاسو د لارښوونې سره سم د «ژوندي دي وي! او مړه دي وي!» شعارونه غږ ګ کړي دي او د انتخاباتو په وخت کې مې د یوه وټ په ځای شل، دیرش وټونه اچولي دي. آن چې د دموکراسۍ څخه ملاتړله پاره مې په هر کال کې ۱۵-۱۶ د مبارکۍ تلګرامونه مخابره کړي دي. زه د ورځپاڼې په هکله سوګند یادوم چې هغه بل چا زما د میز په سر ینبی وه. والله که د ورځپاڼې سر لیکونه مې هم لوستلي وي...»

محمد اقا لا د چرتونو په دریاب کې لاهو و پخپله یې سوالونه جوړول او په خپله یې ځوابونه ورکول چې په دې وخت کې د رئیس پیاده د ده د چرتونو تارونه وزګړل خبرې ورکړ چې رئیس غوښتی دی.

د محمد اقا پښو او لاسونو په تریدو پیل وکړ څو چې د رئیس دروازې ته ورسیده یوازې یې د خپلو ځوابونو ۵-۶ خبرې په یاد وي.

کله چې محمد آقا د رئیس کوټې ته ورننوت، رئیس لومړی په قار جن نظر ورته وکتل بیا یې ورته وویل:

«داسې ویل کیږي چې د ډیري مودې را په دې خوا د خلکو کارونه په ډول، ډول پلمو ځنډوي»

محمد اقا د ځان سره وویل:

- هغه چا چې دا ډول آش زما له پاره پوخ کړی دي دغه کارونه يې هم له لاسه کیږی.

محمد اقا توله پوهه او زړورتوب د خپلی ژبی په سر کې را تول کړ ویې ویل:

- صاحب! دا دروغ دي دا تولی خبري زما له پاره دسیسه ده، دسیسه!

بس ده، بس د خپلو ګناهونو پیتې په بل چا مه اچوه ما په خپلو سترګو ستا ځینې کړه، وړه لیدلي دي.

د دغو خبرو په اوریدو سره په محمد آقا باندي ځمکه وڅرخیده او په غوږونو کې يې د رئیس د خبرو انګازې پورته شوې پوه شو چې رئسی ورځپانې په خپلو سترګو لیدلی ده ځکه يې له اعتراف څخه نوري خبرې ګټه نه لري. نو موړی پټه خوله په ځنګیدلی ډول د رئیس له دفتر څخه ووت او په ډیر مشکل يې ځان تر خپل میز پورې ورساوه.

محمد آقا د ځان سره وویل:

- رئیس به دومره ستره پیښه کله هیره کړي نه يې همدا اوس يې پولیسو ته تیلفون کړی وي او څو شیبې وروسته زما د نیولو له پاره پولیس را ورسیږي او دفتر تول کار کوونکي به د ورځپانې په موضوع باندې خبر شی نو ښه به دا وي چې همدا اوس رئیس ته ورشم او رښتیا ورته ووایم.

محمد آقا یو مکتوب د لاسلیک په پلمه رئیس ته وروړ.

کله يې چې لیک وروړاندې کړ ورته ویې ویل:

- صاحب! زه پوهیږم چې ته ولې په قار يې خو باور وکړه چې زه د دې ورځپانې څخه نه وم خبر هغه بل چا زما د میز په سر اینبی وه.

رئیس لا تر اوسه په قار و او نه یې غوښتل چې دومره زر له محمد اقا سره په خوله شی ځکه یې ورته وویل:

- چې خبر نه وي نو ولې دي هغه د میز په جعبه کې پټه کړه؟

هغه ورځپاڼه تر اوسه هم هلته ده؟

هو صاحب هم هلته ده خو باور وکړه چې تر اوسه مې د هغه سرلیکونه هم نه دي لوستلی.

دیرش کاله کیږی چې په دي موسسه کې کار کوم په دې موده کې که چا ترفیع را کړي ده او کنه نه خو زه همیشه د دولت څخه خوښ وم.

تل مې د دولت د تینګښت له پاره د «تل دي وي او ژوندي دي وي!» شعارونه ورکړي دي. د انتخاباتو په وخت کې مې د یوه وټ په ځای ۱۰-۱۵ وټونو ورکړي دي د هر کال په پای کې مې ۲۰-۳۰ د مبارکۍ تلګرافونه مخابره کړي دي، سوګند یادوم چې هیڅکله د دولتونو د بدلون په فکر کې نه وم.

رئیس په قار سره ورته وویل:

- ډیر ښه ځه لاړ شه هغه ورځپاڼه راوړه. هیر دې نه شی خپل بکس دې هم د ځان سره راوړه.

په ستر ګو صاحب همدا اوس ستا سو امر په ځای کوم. اي کاشکی لا پخوا مړ شوي واي خو چې د ۳۰ کاله صادقانه ماموریت نه وروسته د داسې ناوړه پیښې سره نه واي مخامخ شوي.

کله چې محمد آقا د خپل بکس سره د رئیس کوټې ته راغی دا ځل رئیس یوازي نه و د خپل مرستیال سره یې خبري کولی. ده د محمد آقا څخه ورځپاڼه واخیسته هغه یې واړوله او راواړوله وروسته یې خپل مرستیال ته وویل:

- وګوره دلته يې «د خلکو زړه خواله» تر سر ليک لاندې زمونږ له موسسې څخه شکايت کړی دی. سمدستی يې ځواب وليکی او د ورځپانې دفتر ته يې ور وليږي. بيا يې محمد اقا ته مخ ورواړاوه ويې ويل:

- نن مې ستا سره ډيری توکې وکړې او زيات مې وځورولی ورځه کور ته لاړ شه څوورځی استراحت وکړه په دې ورځو کې د ګمارلو قانون دوهم پراو تصويب کيږی او ته تقاعد کيږې. په يوه شيبه کې خوشالی او هڅونې د خپګان او بدمرغی ځای ډک کړ.

محمد اقا غوښتل چې مننه وکړي خو ويې نه کړای شول، غوښتل يې چې خدای پامانی وکړي خو ژبه يې ودريده يوازې يې خپلې سترې او شلې شوې پښې د رئيس له دفتر څخه وايستلې د ډيری زياتی سترپا په لړ کی يې ځان د خپل ميز څنګ ته ورساوه.

بې له دې چې څــه ووايې ډير وخت يې په لوړ اواز وخندل دا خندا يې د بدمرغی څخه د خلاصيدو له پاره وه. لږ غلی شو وروسته يې بيا په لوړه او اوږده خندا پيل وکړ دا ځل خندا يې د تقاعــد کيــدو په ويار وه چې د (۳۰) کالو را اهيسې يې د داسې ورځی هيله درلوده. خو څو شيبی وروسته د محمد اقا غږ غلی شو دا ځکه چې هغه د ډيری خوشالی له امله مړ شوی و! ...

د نړۍ ډیر قیمتی کټ

د هغه کور ټولې کوتې له پیرو دونکو څخه ډکې وې چې ښکلی لیلام شوي شیان د بولی په ډول واخلی. د زیاتی ګټنې ګونې په منځ کې د یوه سپیڅلی انډیوال سړه مخامخ شوم د سلام او روغبړ څخه وروسته مې پوښتنه وکړه:

- دلته څه کوی؟

هغه وخندل ویې ویل:

- دا راته ووایه چې ته دلته څه کوی؟

- زه راغلی یم چې د دغه کور ارزان شیان واخلم.

زه هم ستا په شان یم، دتقاعد څخه وروسته دادوه کاله کیږي چې په دې کاربوخت یم او پرله پسې د کورنیو شیانو په لیلام کې ګډون کوم.

ښه نو دلرغونی (انتیکو) شیانو پلورنځی دې پرانیستی دي؟

ښه ورورہ پلورنځی مې نه دی پرانیستلی، زه په کورکې ډیر قیمتی او ښکلی کټ لرم، ډیر خلک دهغه، د پیرو دلوله پاره راغلی خوزه ئې دخرڅولونیت نه لرم.

- ښه نوستا قیمتی کټ دلیلامی شیانو په ګډون پوری څه اړه لري؟

- په لیلام کې ځکه ګډون کوم څو وګورم چې زما په شان کټ پیدا کیږو اوکه نه؟ خو تر اوسه مې داسې کټ نه دی په ستر ګوشوی چې زما دکټ په شان ارزښت ولري.

مورپه خبرولګیاووچې دشیانوخرڅول پیل شول اوپه ځوشیبوکی دخوب کوټی شیان په دولس زره لیروویلورل شول.

ددغو شیانو دخرڅلاواوبیی په هکله مې دهغه نظروغوښت. ده وویل:

- یوازې دومره پوهیږم چې زماکټ ددغوشیانو پرتله ځوواره ارزښت لري.

بی له دې چې څه شی واخلود کورڅخه ووتودلاري په اوږدو کې یې دخپل ژوند په باب داسې خبري پیل کړي:

- له هغی وړځې څخه چې تقاعد شوي یم ژوند مې ډیرخراب دي په زیات مشکل دخپلوماشومانو له پاره په نیمه مړه خیټه روزی پیداکوم.

- نوولی خپل قیمتی کټ نه خرڅوي؟

- که رښتیادرته ووایم زه داسې بنکاره کوم چې نه یې خرڅوم خوپه حقیقت کې تراوسه داسې څوک نه دي پیداشوي چې ددغه کټ په رښتنی ارزښت وپوهیږي اوپه ښه بیه یې واخلی.

- ستاپه نظرڅومره ارزښت لري

- ۳۵ - زره لیري ارزښت لری.

- داخونوزه خبرنه وم چې ددولت خزانه ستاسره ده.

-همداسې ده، ته غواړی چې دغه قیمتی کټ وویني؟

-که تکلیف نه کیږی لیدلوته یې زیات لیوال یم.

دواړه ددې کورته لاړو، دهغه کوریوه کوټه، یوسالون یوتشناب اویوکوچنی پخلنځی درلود. په کورکې یې داسی ارزښتناک شیان چې سترګې نه تړې اخستل کیدی لیدل کیدل. ځکه مې دخپل اندیوال نه پوښتنه وکړه:

ښه نوهرومره ودې هغه قیمتی کټ بل چیرې اینبی دي؟

نه ورورده هغه کټ چې صفت مې کاوه دغه خر پرکټ دی چې ستا په

وړاندی پروټ دی.

په ربنتیا چې دغه کټ یو خړ پړ شلیدلی فنری کټ و چې که چاته یې وړیا هم ورکړی وای نه یې غوښت. د دې له پاره چې په موضوع پوه شم ورته ومې ویل:

-ښایې ستا سوکټ به تاریخی کټ وی چې پخوانی پادشاه او ملکه وربانديې بیده شوي وي او ځینی ځایونه به یې له طلا څخه جوړ وي؟

- نه ورووره داسي نه ده. غوږ ونیسه چې زه دې د دې کټ په ارزښت پوه کړم:

- زما خدای ښبلی پلار غوښتل چې زه آزاد کار وکړم. خو زما دولتی کار خوښیده. پلار مې ډیر کوښښ وکړ چې ما د خپل هوډ نه واړوی خو بریالی نه شو، زمور تر منځ خپګان را منځ ته شو او دوه کاله موخبري سره ونه کړي، څه موده وروسته د پوهنتون څخه خلاص او په کار وګمارل شوم، څرنګه چې د کوم غښتلی ګوند غړی نه وم د دندې ځای مې د (قارصل) په ښار کې وتاکل شو.

زړه نا زړه هغه ښار ته لاړم او په کار مې پیل وکړلا دوې میاشتې نه‌وي تیري شوي چې د پلار لیک مې راورسیده او زه یې استامبول ته وغوښتم.

څو ورځې مې رخصت واخیست او پلار ته ورغلم، ده د ګیلو او شکایتونو نه وروسته راته وویل:

- ما د خپل پلار نصحیت وانه وریده د دولت مامور شوم او تا هم زما نصیحت ونه منلو د دولت مامور شوی. اوس نو دې وخت رارسیدلی دی چې خپل د پلار میراث چې ماته یې دیادګار په توګه راپریښی دی، تا ته دروسپارم. خو چې خپل د نیکه میراث ته به په درنده ستر ګه وګوری او هغه به ډیره ښه وساتې. هغه میراث هم دا کټ دی چې زه وربانديې بیده کیږم. وروسته هم د دغه قیمتی کټ په ربنتینی ارزښت پوه شی.

کله چې پلار کټ راسپاره ماته يې وويل:

- بيا هم درته وايم که چيرې زه درباندې گران يم نو داکټ ښه وساته. چې خرڅ يې نه کړي. هر چيرې يې د ځان سره وړه، بل چاته يې ورنه کړې، خپل حق به درونه ښښم چې د خپل نيکه ميراث چې هغه ته هم د خپل نيکه څخه په ميراث پاتې دی د خپلو نيکونو د يادگار په توگه ونه ساتې.

- بې غمه اوسه پلاره زه به د خپلو نيکونو ميراث ډير ښه وساتم.

په همدې ډول مې د خپل پلار سره خدای پامانی وکړ او د خپلو نيکونو ميراث مې جوالی ته ورپه شاکړ.

د دغه لنډی سريزې څخه وروسته زما انډيوال د جيب څخه د ياد داشت کتابچه راويستله او خپلی خبرې يې داسې غبرگې کړې. تول د لگښت ياد دا ښتونه مې په کتابچه کې ليکلي دي. په دغه ورځ ۲ ليرې جوالی واخيستی او ٤ ليرې هم موتر. دا دي وگوره چې د تول لگښت تاريخونه مې ليکلي دي. هغه غم لړلی ورځ هم د ۱۹۳۱ کال د مارچ ٤ نيټه وه.

مجبور وم چې د ياد گاری کټ له پاره د (ترابوزان) له لارې د (قارمل) ښارته په بيړې کې لاړ شم، ۵-۷ ليرې مې موتر، ۱،۵ جوالی او ۵ ليرې مې تر ترابوزان پورې د بيړې کرايه ورکړه.

د (ترابوزان) او (ارضروم) تر منځ واتن مې د موتر پواسطه وواهه.

۳ ليرې مې د کټ کرايه، يوه ليره جوالی ته او ۲،۵ ليرې مې هم د (ارضروم) څخه تر (قارمل) پورې کرايه ورکړه، بې له دې چې پام مې شی دغه غم لړلی کټ مې لس ورځې د اورگادي په گدام کې هير شو مجبور شوم چې ۳،۵ ليرې د گدام او ۳ ليرې هم ترکوزه پورې د ټکسی کرايه ورکړم.

کله مې چې د نيکونو ميراث د کوتې په کنج کې واچاوه پوه شوم چې

۳۲ لیرې وربانديې لګيدلي دي . ۳-٤ مياشتې وروسته د خپل رئيس سره په خبره وپوهيدم څکه يې يو بل ښار ته بدل کړم او د کټ کرايه مې ٥٤ ليرې ورکړه. کله چې هلته ورسيدم زما په ځای يې يو بل نفر تاکلی و او زه يې د (سيواس) ښار ته بدل کړي وم.

- د (سيواس) ښار ته زما تګ دومره مشکل نه و خو هلته د نيکونو د ميراث رسولوله ستونزو سره مخامخ کړم.

د دوستانو د لارښونو سره سم مې کټ د بارولو شرکت ته يووړ ، کله چې د شرکت مدير ، ٥ ، ۲ ليرې د بيل بيه رانه واخيسته ويې ويل:

- زمور موټر له دې ځای څخه په سيده ډول د (سيواس) ښار ته نه ځی که غواړی نو ستا سو کټ به د ديوه بل شرکت په مرسته ولیږو.

مجبور وم چې د ده خبره ومنم. پوښتنه مې وکړه:

- ښه نو په دې ډول څومره پيسې کيږی؟

- تولی ٤٠ ليرې کيږی چې ۲٥ ليرې له دی ځای څخه تر استامبول پورې او ۱٥ ليرې له استامبول څخه د (سيواس) تر ښار پورې کرايه کيږی.

کله چې د نړۍ ډيرقيمتی کټ چې زما د نيکونو ياد گار و د (سيواس) ښار ته راورسيد يوازې يې دري پنبې درلودي، مجبور شوم چې د (۳-٤) ليرو په لګښت مې د پنبو دوکان ته يووړ او هيله مې وکړه چې سـه وزنه جوړه کړي. پنبو وويل:

- کـه څه هم دغـه کټ د جـوړولو ارزښت نه لري خو چې تـ ـې ـواړی ـو شل ليري کيږی.

-څه شی شل ليري؟

- شل ليري؟

– نو دغه کټ څومره ارزښت لري؟

– ارزښت يې تر ۲ ليرې زيات نه دی.

– او ، ورورہ انصاف ښه شی دي چې کټ له درو پښو سره ۲ ليرې ارزښت لري نو په يوه پښه يې څنګه شل ليرې غواړي؟

– اختيار لری که غواړې چې کټ درته جوړ کړم نو شل ليرې را کړه او که نه نو ...

اخر مې شل ليرې د پښې د جوړلو او ۱۰–۱۵ ليرې مې د تکسی او پنډی لګښت ورکړی.

دوه کاله مې د (سيواس) په ښار کې کار وکړ څرنګه چې زمور عمومی مدير خپل انډيوال زما په ځای مقرر کړ او زه يې استامبول ته بدل کړم، ښه مې په ياد دي چې شل ليرې کرايه مې تر استامبوله پورې ورکړه، دا ټولې پيسې په دغه کتابچه کې ليکل شوي دي ته کولای شی چې ويې لولي. دري، څلور مياشتی وروسته مې په استامبول کې واده وکړ ژوند مې ورو، وروښه کيده چې نا څا په عمومی مدير برطرف شو.

نوي مدير فکر وکړ چې زه د پخوانی مدير له نږدې انډيوالانو څخه يم ښايې د دده کړو وړ وخنډ شم ځکه يې (اردو) ته بدل کړم.

دا ځل مې بيا د يادګاری کټ له پاره ۴۰ ليرې کرايه ورکړه. په (اردو) کې مې بيا ژوند د ښه کيدو په لور روان و چې زمور وزير راغی کله چې زمور څانګی ته راننوت زما کارونه يې ډير خوښ شول ځکه يې ما ته ستاينليک را کړ. څو ورځې وروسته وزير استعفا وکړه. همدغه ستاينليک زما له پاره په غم او ډبمنی بدل شو. نوی وزير په ما باندې شکی شو فکر يې وکړ چې زه د پخوانی وزير دوست يم ځکه يې د ستاينليک داخيستلو په ګناه (سيرت) ته بدل کړم.

سیرت ته زما تګ اسان و ځکه چې ټول کالي مې په نیمایې بیه خرڅ کړل خو د نیکونو میراث مې نه شو خرڅولی. که څه هم میرمنی مې ډیر راته وویل چې د دغه جنجالی کټ څخه ځان خلاص کړم خو دغه کار امکان نه درلود ځکه چې له پلار سره مې ژمنه کړی وه چې د خپلو نیکونو میراث ته به په درنده ستر ګه ګورم اوهر چیرې به یې د ځان سره ګرځوم، دا ځل مې بیاد یاد ګاری کټ کړایه ۳۶ لیري رنګ کړي و.

دري میاشتې وروسته یې (انکارا) ته بدل کړم بیا مې ټول هغه شیان چې په سیرت کې مې اخیستي وو په نیمایې بیه خرڅ کړل او د خپلو نیکونو له میراث سره یو ځای انکرې ته لاړم.

یوه میاشت وروسته حکومت استعفا وکړه او زه یې په دې ګناه چې په پخوانی حکومت کې مې یوه رتبه ترفیع کړی وه (موشا) ته بدل کړم.

څرنګه چې د پخوانی حکومت سره مې هیڅ ډول اړیکي نه درلودل ځکه مې خپل غوښتن لیکونه وړاندي کړل تر څو. ۱۵ میاشتې وروسته (مرسین) ته بدل شوم.

دا ځل مې میرمنی دوې پښې په یوه موزه کې کړي په دې خبره یې زیات ټینګار کاوه چې هر و مرو د خپلو نیکونو یاد ګار خرڅ کړم. خو زه د دې تر بار لاندي نه لاړم، هغې په قار سره راته وویل:

- تر اوسه دي په دغه غم لړلی کټ ۲-۳ زره لیري لګولي دي پداسې حال کې چې هغه مې د زړو شیانو سودا ګروته ور ښکاره کړ، دوي تر پنځولیزو زیات ونه پیروده.

- ستا خبري رښتیا دي خو پوه شه چې دغه کټ زما د نیکونو میراث دی او د پلار سره مې هم ژمنه کړی ده ځکه یې نشم خرڅولی، نه یې شم خرڅولی،

هیڅکله یې نه شم خرڅولی!!

دوه نیم کاله وروسته یې په دې ګناه چې دوا ک لرونکی په مخالفت مې دسیال ګوند له غړی سره د سطرنج لوبه کړی ده له (مرسین) څخه یې (کونیا) ته بدل کړم.

د میراثی کټ د لیږدولو په وخت کې مې میرمنې د سلګیو په حال کې وویل:

- تر څو چې زمونږ په کور کې دغه بدمرغه کټ وی یوه به مو دوې نه شي او په دغه کور کې به نیکمرغی پښه کې نه ږدی، هره شیبه چې دغه بدمرغه کټ ته ګورم مړی ته مې د نړی رنځ منګولې رانیږدې کیږی، نیکونو دې ځمکه نه ده درته پریښې، کوریې نه دی درته پریښې، موټر خو څه چې بایسکل یې هم نه دی درته پریښې. آن چې د یوې ستنې په اندازه یې د ګټې وټې شی نه دی درته پریښې نو تاولې دا رټلې او لعنتی کټ د نیکونو د یاد ګار او میراث په توګه منلو چې هره ورځ یې د خپلوخیټونه سمپوو او ددې بدرنګ کټ په وړلو او راوړلو یې لګوو ؟!

- زما د میرمنې خبرې رښتیا وې خو ما څنګه کولی شول چې د خپل پلار وصیت هیر کړم او د خپلو نیکونو میراث ایسته واچوم.

یا یې چا ته وړیا مورکړم اویا یې وپلورم.

لامو په کونیاکې یوه اوونۍ نه وه تیره شوې چې میرمن مې سخته ناروغه شوه ډاکټرانو وروسته له کتنو څخه راته وویل:

- ستا د میرمن بدن د دې ځای له اوبو او هوا سره سمون نه لری.

کله مې چې د ډاکټرانو تصدیق واک لرونکو ته ورښکاره کړ (د یاربکر) ته یې بدل کړم.

د هغی ځای اوبه اوهوا زماد بدن سره ور نه وه ځکه یې (بورسا) ته بدل کړم.

په ټولو دغو تاکلو کې مویاد ګاری کټ د ځان سره ورلو او په لپو، لپو پیسې مو ورباندې لګولې.

یوه دوي میاشتې مې وروسته پام شو چې د نیکونو میراث په کور کې نشته د پرله پسې پوښتنو او خپګان په لړ کې پوه شوم چې میرمنی مې د نیکونو یادګاری کټ په څلور لري خرڅ کړی دی له ډیرو لټولو ځخه وروسته مې پیرودونکی پیدا کړ او دا راته څرګنده شوه چې ده هم په پښې باندې په لس لیرې پلورلی دی.

پښې ته ورغلم تر شلو لیرو پورې مې د کټ اخیستلو ته خپل چمتوالی څرګند کړ، کله چې پښې زما ـ غې لیونې علاقې ته پام شو ویې ویل:

- نه دومره قیمتی کټ په شل لیرو څنګه خرڅ کړم؟

- په دیرش لیرې څنګه؟

- نه، نه کیږی.

- پنځوس لیرې دي بس دي؟

- نه په دومره لږو پیسو یې نه خرڅوم.

پښې فکر وکړ چې دا خو نو انتیک کټ دی ځکه دومره علاقه ورسره لرم.

خپلو نږدې اندیوالانو ته مې د نیکونو د میراث په هکله د پلار د وصیت خبره وکړه او په دې هکله مې له دوي نه مرسته وغوښته. لنډه دا چې خپل د نیکونو یادګار مې په ۲۵۰ لیرې وپیرودلو او بیرته مې خپل کورته راوړ.

په بورسا کې مو ۱۸ میاشتې ډیر ښه ژوند وکړ خو کله چې (کوتاهیا)

ته بدل شوم میرمني مې وویل:

- با به زه په دې کور کې وم یا به دغه رټلی کټ.

گراني ډاخبره پریږده ډیره اوږده مو ده مو د خوشالی په فضا کې ژوند سره کړی دی اوس چې د دوو زامنو څښتن یو دا ډول خبري ښې نه دي، زما خبري نه بدلیدونکی دي.

خو دغه کټ ... هغې زما خبري پرې کړي ویل:

- چې داسې ده نو ما ته طلاق راکړه او خپل نوی ژوند دې د نیکونو له یاد گار سره یوځای پیل کړۀ.

د خپلو خبرو په پای کې یې خپل زامن تر لاس ونیول د پلار او مور کور ته لاړه، څرنگه چې مانشواي کولای د پلار وصیت هیر کړم او خپل د نیکونو میراث هیر کړم ځکه مې د مجبوریت له مخې خپلې میر منې ته طلاق ورکړ. زه او د نیکونو یاد گاری کټ دوه په دوه سره پاتې شو.

د وه کاله د مخه مې تقاعد وکړ او د دغه میراثی کټ دوړلو او راوړلو څخه خلاص شوم.

زما انډیوال د خپلو نیکو نو په میراثی یاد گاری کټ باندې په ډیره مینه لاس را کش کړ ویې ویل:

- تر اوسه مې د دغه کټ په وړلو او راوړلو اتلس زره او پنځه سوه لیري لگولی دی. که چیرې د نیکونو د وړلو او را وړلو لگښت هم ور باندې واچوم نو دغه یاگاری کټ په ۳۵ زره لیرو راته تمام شوی دی چې که د خرڅلاو له پاره یې وړاندې کړم تر لسو لیرو زیات نه خرڅیږی.

په ډیره خواشینۍ سره مې ورته وویل:

- ښه داسې ده چې همدا اوس یې ایسته وغورځوی او خپل ځان د دغه بدمرغه

کټ څخه خلاص کړه.

- دا کله امکان لری چې ایسته یې وغورځوم، زما دغوښتنې په خلاف مې زوی څو ورځې د مخه په دولتی دندی گمارل شوی دی غواړم چې دغه د نیکو نو ویاړلی میراثی یاد گاری کټ هغه ته وروښنم.

هوښیاره نجلی

مصطفی بیګ ډیر ښه او سپیڅلی سړی و هغه د انسانیت لوړ وپوړیو ته رسیدلای و. ده د ټولو خلکو په وړاندې ښه نیت درلود. هر څومره چې خلکو ستغی سپوري ورته ویلې او ملنډې یې پورې وهلې. ده به په سپینو داړو ورته خندل ځکه به ډیر وخلکو ویل چې:

«مصطفی بیګ سوچه پاګل دی.»

مصطفی بیګ په خپل ژوند کې د اشعار درلود چې د خلکو سره ښه وکړي او ټولو ته په یوه سترګه وګوري. خلکو به چې هر څومره ځورا وه او سپکې سپوري یې ورته ویلې. ده به د ټولو بد و ځواب په نیکۍ ورکاوه، د خپل ژوند په اوږدو کې د ښو او بدو پیښو په وړاندې یو ډول و.

د بیلګې په ډول:

– که چا به د ده سر پرې کولو ته هم ملا وترله، ده به ویل: «ښه خبره ده اوس خو یویم کله مې چې سر پرې کوی دوه به شم.»

یو ځل پخوا ښاغلی مصطفی بیګ رنځور شوی و ډاکټر د ده ناروغی ډیره خطرناکه وبلله.

خو خلکو به ویل چې: «هغه نازونه کوي.»

اوس به نو اصلی کیسی ته راشو. «تاسو څه فکر کوي چې هغه به په دومره ښه سړیتوب برسیره د یوې داسې نجلۍ په وړاندې چې نه یې لیدلی وه

او نه يې نوم اوريدلی و ، کرکه ښکاره کړی وی او د هغی د بد مرغی او ناکامی سبب شوی به وی ؟

هو ! همداسې ده. زه درته وايم چې هغه دا کار کړی دی. د ده دا ډول نا څاپې کړه وړه د تولو له پاره داريانتيا وړوو. او ډيره مړه د خلکو مجلسونه پرې گرم وو که غواړې چې پرې پوه شئ نو ښه غوږ راته ونيسی:

- زوم د مصطفی بيگ له کورنی څخه و او هغه دواده په چارو کې د زوم د پلار دنده په غاړه درلوده ، دا ځکه زوم دواده په چارو کې له مصطفی بيگ سره سلا او مشوره کوله او انتظار يې درلود چې هغه به هرومرو ښه او غوره مشوره ورکړی خو دا ځل خبره چپه را ووته د دې پر ځای چې ښاغلی مصطفی بيگ دواده په لارو چارو کې ښديز ونه لرې کړي د زوم د خبرو په اوريدو سره يې دواده کولوګلک مخالفت وکړ.

نجلی د يوې غريبې اوبی وسه کورنی څخه وه تاسوبه فکروکړي چې هغه به د نجلی کورنی د غريبی له کبله مخالفت کړي وی! نه ، داسې نه ده!

هرڅومره چې زوم د نجلی د بيگړو په هکله خبرې کولی په هماغه اندازه د مصطفی بيگ کرکه اومخالفت زياتيده.

زوم به ويل:

- ډيره حيانا که اوشرمناکه نجلی ده له ډيرې حيانه سترګې نه پورته کوي ، ښکلی اوجل بل کالی يې نه خوښيږي ، په ګانه مانه پسې نه ګرځی ، د سينګارسره کرکه لری ، وايې چې هرڅه راته اخلی زماخوښ دي ، زه به ستاله پاره ښه اومتونکی ميرمن وم ستامينه اوګرانښت ماته هرڅه دي...

د مصطفی بيگ رنګ سوراوسپين شود زوم خبرې يې پرې کړې لګه چې بام چاودشی په قارجن غريبې وويل:

- بس ده زویه! نور ددغو خبرو وداوریدو توان نه لرم، زه ددغی نجلی سره دواده خوښه نه درکوم، نه ښایې چې ددا سې نجلی سره واده وکړی، که زما خبرې منی دغه نجلی هیره کړه! نږدې وه چې دډیرې اریانتیاله کبله، دزوم زړه دډیرې له ځان سره یې فکروکړچې: (مصطفی خود انجلی نه ده لیدلی اوماهم داسې بده خبره نه ده کړی چې هغه په قارشی، په تیره خوتر اوسه دمصطفی بیګ قارچانه ولیدلی نوداڅه خبره ده چې هغه یې دومره په غوسه کړ؟)

ورویې خپل زړه راتول کړ زړه نازړه ې دمصطفی نه پوښتنه وکړه:

- کولای شې چې دخپلې کرکی اوناخوښی دلیل راته ووایې؟

مصطفی بیګ لږغلی شوبیا یې په پسته ژبه ورته وویل:

- ځکه چې خوارېږې زویه! بربادیږې!

- ګرانه کاکا؟ څنګه اوولې بربادیږم؟

مصطفی پوه شوچې ځوان زوم په دومره لنډوخبرونه قانع کیږي نښه ده چې ددې «څنګه» ته بشپړ ځواب ورکړم، ورته ویې ویل:

- ډیرښه زویه! درته وایم یې خو ډیره بده خبره داده هغه ترخه پیښه چې دادیرکلونه مې ځوروی بیاراتازه کیږي اوپه زړه مې دغم او غوسې مالګه دوروی.

ته پوهیږې زویه چې زه ولې لونډیم اوواده ولې نه کوم؟

- نه کاکازه نه پوهیږم.

- داځکه چې ماهم کتیه متیه نجلی پیداکړی وه هغې هم دواده څخه دمخه همداسې خبری راته کولی. لکس اودلوړي بیې شیان یې نه خوښول، دجل بل کالیونه یې بدراتلل، دسینګاراوسینګار کولو نجونو نه یې کرکه درلوده، یوه روشنفکره اوهوښیاره نجلی ودویل به یې: «دښځوسینګاردپخوانی زمانې

علامه ده هغه ښځي چې غواړي د پرديونارينه ووپام ځان ته واړوي په خپلو مخونورنګونه وهي اوځانونه سينګاروي... »

هغې له وړې، لښتيو، ګوتيواووښيونه کرکه کوله لا په واده کې يې د يې ځايه لګښت اجازه رانه کړه، زمور واده په ډيرو لږوپيسوسرته ورسيده. دوو، دروخپلو انو زماناوی راوستله اوله دروازې څخه يې خدای پامانی وکړ، مورپه لومړيودووځوکې دومره نيک مرغه وو او دومره سره ګران ووچې خبرې يې مه کوه. داسې نيک مرغه ورځې اونعمتونه موپه برخه ووچې څښتن تعالی يې دی دتولوانسانانو په برخه کړی زمور په کورکې د پيسو، خواړو کالیو او نور دشيانو دکمښت خبره نه وه.

يوه ورځ مې ډډيره هوسه يوه جوړه جرابې ورته واخيستې کاشکی لاس می مات وای چې دغه جرابې مې نه واې پرې راخيستې، ددغوجرابوپه پيرودلوسره زمابدمرغی اوکورور انی پيل شوه، دواده مويوکال کيده چې تراوسه يې زماځخه هيڅ شی نه وغوښتې هرڅه به يې ځان ته په خپله اخيستل، زه په دې خبره خوښ وم اوهم خپه، خوښ په دې وم چې مادنوروپه شان شته نه لرل چې هغی غوښتی وای اوماورته اخيستې وای، خپه په دې وم چې ماهم دنورومیرونو په شان غوښتل چې خپلې میرمنې ته دخپل وس اوتوان په اندازه څه شی راوړم ځکه پلورنځی ته ورننوتم يوه جوړه ښکلې جرابې مې ورته واخيستې داسې فکرمې کاوه چې میرمن به مې دجرابوپه لیدوسره ډيره خوښه شی خوهغی جرابی راڅخه واخيستې اوډيره سره مننه يې وکړه.

له ځان سره مې فکروکړچې جرابې خودډيری بيې وې نوداخوشاله ولې نه شوه؟

ډيره موده تيره شوه چې جرابی يې په پښو نه کړې، میره خو خپلې ښځی

ته د دې له پاره کالي اخلي چې هم يې ښځه خوشاله شي او هم هغه کالي واغوندي ميړه يې نندارە وکړي او د مبارکۍ په ويلو سره يو ځل بيا خپل گرانښت ورته څرگند کړي. څو واري واده او ملمستيا وو ته هم لاړ و خو بيا يې هم خپلې منبلی جرابی په پښو کړی وي.

اخر مې د صبر کاسه ډکه شوه پوښتنه مې ځنې وکړه:

«ولی هغه ښکلی جرابې نه اغوندي؟»

ځواب يې راکړ:

له دې منبليو بوټونو سره هغه ښکلي جرابي څنگه په پښو کړم کله مې چې بوټونه نوي شول نو نوي جرابې به هم ورسره واغوندم.

فکرمې وکړ چې بده خبره خو نه کوی په ډير مشکل مې پيسې پيدا کړي او يوه جوړه د جگو پوندو بوټونه مې ورته واخيستل، له دې املې چې پيسې مو نه درلودي او د خوښۍ ځايونو ته نه شو ورتلای ځکه به د عمومۍ واټونو په څنډو کې پلی گرځيدو او له دغو گرځيدو نه مو زيات خوند اخيست خو کله مې چې ميرمنی ته جگ پوندي بوټونه واخيستل دا خوندهم له منځه لاړ او خاوري مې په سر شوي، ځکه ميرمنې مې نه شول کولای چې له جگ پوندو بوټونو سره دواټونو په څنډو کې چې زياتې لوړی ژوړی يې درلودي وگرځی، آن چې د خپلوانو کورونو ته د پښولە تگ څخه هم ولويدو هغی ويل چې زه په دغو بوټونو کې پلی نه شم تلی، ما هم د ميرمنې نازونو ته غاړه کيښوده تل به مو په ټکسی کې تگ او راتگ کاوه.

د دې له پاره چې د ټکسی له لگښت څخه خلاص شم ميرمنی ته مې د ټيټو پوندو بوټونه وپيرودل دا ځل زما ميرمنې وويل:

- دا بوټونه بايد د پطلون سره په پښو شي.

پطلون مې هم ورته واخیست، خو بیا یې وویل:

- اوس نو یو جاکټ هم راوړه.

کله مې چې جاکټ ورته وپیروده، د خولې نه یې هم را یاده کړه، تر دې وروسته زما د میرمنې بڼه بدله شوه او غوښتنې یې دومره زیاتې شوې چې د خپلې دندې له ځای څخه مې پور واخیست خو خبره په دې ځای هم پای ته ونه رسیده. څه موده وروسته زما د میرمنې تندی تر یوشو تل یې په هر شی پلمې کولې او له کور څخه نه وتله.

په ډیره خواږه ژبه مې پوښتنه ځنې وکړه.

- ګرانې دا څه در باندې وشول چې بیدیاته نه وځې، هغه پخوانۍ مینه او ګرانښت دې نه شته او په هره خبره په غوسه کیږې؟

لومړي یې په برګو، برګو راته وکتل بیا یې په قارجن غږ وویل:

- ته په دې نه پوهیږې چې زه هم سیالی لرم؟ ستر ګې نه لري چې زما زاړه او مښلی کالي پرې ووینې، زه څنګه کولای شم چې په دغو کالیو کې د چا کورته لاړه شم؟

- ولې په دې کالیو څخه شوې دې؟ څه زړه خو نه دې؟

- اوهو! څومره تیت کلپور لرې د دغو بنکلو بوټونو، جرابوا وخولې سره هغه مښلی کالي اغوستل کیږي؟ خلک به څه وایي؟

بیا مې د خپلې میرمنې د خوشالۍ له پاره ډیر بنکلی رخت واخیست او ګنډونکی ته مې ورکړ چې زما حیا ناکې میرمنې ته بنکلی کالي وګنډي، خو بیا هم خوشاله نه شوه ځکه چې څو مې له ګنډونکی نه کالي راوړل، ژمی را ورسید او بوټونه هم مښلی شول، دا وار مې بیا د کالیو سره برابر بوټونه ورته واخیستل، خو بیا یې هم نه کالي اغوستل او نه یې بوټونه په پښو کول. زما د

پوښتنې په ځواب کې هغې نجلۍ چې اوس ښځه شوې وه او د ځوانۍ په وخت کې يې د جل بل کالیو، مود او سینګار څخه کرکه درلوده راته وویل:

– د دې کالیو سره یوه جوړه لاس ماغو هم لازم دي.

چاره نه وه لاس ماغوی هم ورته راوړل. یوه ورځ ماسپښین چې هغې غوښتل بیدیا لاړه شي پوښتنه مې ورڅخه وکړه: «چیرته غواړې لاړه شې؟» زما د پوښتنې په وړاندې ډیره په غوسه شوه او په قارجن غږ يې راته وویل:

– چې بګه ورځ داسې پوښتنه ونه کړې! دومره نه پوهیږې چې زه په دغو خورو، وړو ویښتانو د واتونو په څنډو کې ګرځیدلی نشم؟ ځم چې په ارایشګاه کې خپل ویښتان سم کړم.

د پیسو د سپماله کېلې زه په دوو میاشتو کې یو ځل سلمانی ته ورتلم خو میرمن مې په یوه اوونۍ کې دوه ځلې ورتلله.

یو سهار چې وظیفې ته تلم میرمنې مې په تریو تندی راته وویل:

– دا ته څنګه میړه يې چې د خپلې میرمنې په حقوقو نه پوهیږې؟

دومره نه پوهیږې چې ښځه پیسو او سینګار سامان ته ضرورت لري؟

دامې هم ورته واخیستل او وړو، وړو مې د پور ونو پیتې دروند شو.

یوه ورځ چې کورته راغلم زما د میرمنې بڼه دومره بدله شوې وه چې په لومړي نظر مې ونه پیژندله هغې مخ او شونډې رنګ کړی وو، دغتو وروځو پرځای يې توره نرۍ لیکه بربښیده، په تنده يې تور ځلیدونکی خال ښکاریده، ویښتان يې هم رنګ او د بنو د پاسه يې د سترګو څټونه شنه کړي وو.

دا مې په مخکې درته وویل چې پخوا زما میرمنې د غاړې له اوږې، لښتیو، وښیو، ګوتې او سینګار څخه کرکه کوله خو اوس يې په زیات اقراطی سینګار برسیره له ورځې مود سره سم د ډول، ډول اوږې، وښې او ګوتې کار ولي.

شرمناکې میرمنې مې د نویو کالیو د غورځولو له پاره د کوټې بند اخیستلو ته مجبور کړم، چې په ښکلو کالیو یې د وړې تویې نه شي برقي جارو یې هم را باندې واخیستـه. د دې له پاره چې خپل مخ، شونډې، وروځې، بارخوګان، بانېه او د بدن نور غړي د ورځنی مودې او فیشن سره سم په هنداره کې سینګار کړي د ښکلا او سینګار میز یې هم را باندې واخیست، لامې ستړیانه وه وتلې چې د کالیو مینځلو د ماشین فرمایش یې هم را کړ.

څو چې په ځان خبریدم ترمرې پورې په پورنوکې ډوب وم، د دې له پار چې د پورونو نه ځان خلاص کړم او د خپلې میرمنې ارتیا وي هم تر سره کړم خپل کور مې خرڅ کړ فکر مې وکړ چې ګوندې اوس مې میرمن خپلو کړو ته متوجه شي، خو نه داسې ونه شول نه یوازې یې د کور په خرڅولو خفګان ښکاره نه کړ سمدستي یې د شپې له پاره یوه جورهٔ ښکلي جل بل کالي هم را څخه وغوښتل.

نردې مې له ډیرې اریانتیا څخه زړه دریدلی وپوښتنه می ورڅخه وکړه

– دا نو د څه له پاره؟

لومړی یې د اریانتیا نه په ډک نظر راته وکتل بیا یې وویل:

– دا څومره عجبه سړي یې په دې نه پوهیږې چې دغه کالي د شپې په ملمستیا ووکې اغوستل کیږي!

ما ویل چې دومره مې وکړل دا به هم ورته واخلم خو په خواشینۍ سره درته وایم چې د شپې کالیو سره د شپې بوټونه. د شپې جرابې او نور شیان هم وترل شول.

کله می چې دا ټول ورته واخیستل، پوهیږې چې څه یې راته وویل تویې وویل:

- دغه کور په کوچنیوالی برسیره زور دی او په پخوانی مو دجور شوی دی له دیره شرمه میلمنو ته نه شم کتلی نبه دا ده چې دیر زر دستر کور په لتمه کې شی.

څه مې کړی وای ستر کور مې هم ورته ونیوه د پخوانی کور کوچونه، فرش، پردې او نور شیان مې په نیمه بیه خرڅ کړل او نوي مې په لوړه بیه واخیستل.

څه موده وروسته زما خیاناکې میرمنی بیا په سوغیدو پیل وکړ، انګړې ستې او سته یې کوتې ته ورجارو کوله.

پوهیږې چې دا واړې څه غوښتل؟

- نه، نه پوهیږم.

- دا ځل یې مزدور غوښت، مزدور! ویل یې چې:

- زه خو څه مینځه نه یم چې تولې ورځ به د کور کارونه کوم ، نو کر نیسې ویې نیسه او که نه ته پوهیږې او د کور کار دې.

ما ویل چې کوندې دا یې اخرې غوښتنه وې ځکه مې مزدور هم ورته ونیو، خو په دا یې هم سیلاونه شوه یوه ورځ یې راته وویل:

- دا څومره د زاړه فکر څښتن یې په دې نه پوهیږې چې زه موټر ته اړتیا لرم؟

ما چې خپل کور او ټول شته د شرمناکې میرمنې د خوشالۍ اوهو سوتو له پاره د لاسه ورکړي وو او تر مړی پورې په پورونو کې ډوب وم د لومړی ځل له پاره مې «نه» ورته وویل:

تر مړی پورې په پورونو کې ډوب یم نور نو نه یوازې څوک پور نه را کوي پور ورې هم خپل پورونه غواړي، خبره مو دبې شرمۍ او سپکاوی تر ټکه رسیدلې ده نو په داسې وخت کې د موټر له پاره پیسې له کومه کړم؟

هغې په ډیره سړه سینه ځواب را کړ و یې ویل:

- چې داسې ده نورهغه شم کولای چې د داسې لوغړن سړي سره ژوند وکړم.

په دې وخت کې مصطفی بیګ لږ غلی شو د ډیر غم او غوسې له کبله یې رنګ سور او بنت او د خواشینې ده ځاځکی اوښکي یې د بنې لاس په ګوتو پاکې کړي.

زوم پوښتنه وکړه:

- بنه نو بیا څه وشول؟

- همداسې وشول چې درته ومې ویل لومړي یې تر غوږونو پورې په پورونو کې ډوب کړم او وروسته یې وشړلم.

مصطفی بیګ له یوې ترخې موسکا نه وروسته خپلې خبرې غبرګې کړې ویې ویل:

- میرونه تل د خپلو میرمنو په ساده توب او خوږو خبرو غولیږي کله چې د هغې د خوشالۍ له پاره خپل تول شته له لاسه ورکړي د هغې رښتینې ځیره ورته څرګنده شی او په خپله ستره غلطی پوه نشي.

د تګ په وخت کې مې خپلې میرمنې ته وویل:

- دا زما ګناه ده چې ستا تولې غوښتنې مې سرته رسولی.

اې کاشکی چې هغه جرابې مې نه واې درته راوړي!

بې له دې چې زما خبرو ته اهمیت ورکړی د پسخند نه په ډکه خوله یې وویل:

- تا غوښتل چې وایې خلې، ما خونه وو درته ویلي چې وایې خله.

دا وه زما د ژوند تجربه او زما د مخالفت دلیل.

زوم ورته وویل:

- گرانه کاکا! دا نجلی خو د هغو له ډلې څخه نه ده له مانه هیڅ شی نه غواړی ډیره روشنفکره او هوښیاره نجلی ده.

مصطفی بیګ له یوې مسخرې ډوله موسکانه وروسته ورته وویل:

- همدا هوښیاري نجلی ډیرې خطرناکي وي، دواده څخه د مخه هوښیاري خبرې کوي او له واده څخه وروسته په میړه باندې په هوښیاری سره حکومت کوی، ما خو ټوله خبره درته وکړه ستا خوښه ده که غواړې چې واده ورسره وکړی هیر دې نه شی، د جګې بیې جرابې ورته وانه خلې او خپل کور دې په خپل لاس وران نه کړی.

درنو لوستونکو!

د خوشحال فرهنگي ټولنه چې د هیواد د یو زیات شمیر او روښانفکرانو په هلو ځلو جوړه شوې، له ملي او اسلامي ایډیالو سره سم یې خپلو نوښتګرو هڅو ته دوام ورکړی، په هیواد کې د سیاسي او ټولنیز بحران سره سره یې د خپلو فعالیتونو لړی نه ده شلولې، د علمي ادبي او هنري غونډو او سیمنارونو د جوړولو ترڅنګ یې تر اوسه پورې په خپرنې برخه کې دغه لاندې اثار خپاره کړیدي:

۱- د لوړو نو قضل ۱۳۶۹ ل کال.

۲- د عجب خان اپریدی یاد ۱۳۷۰ ل کال.

۳- د نازوانا یاد ۱۳۷۰ ل کال.

٤- کابل د وینو او لمبو په سنبد کې ۱۳۷۰ ل کال.

٥- نقدی بر افغان نامه ۱۳۷۳ ل کال.

٦- د محمد ګل خان مومند اندو ژوند ته یوه لنډه کتنه ۱۳۷۳ ل کال.

۷- کنګل ژمي او کنګل لاسونه، ۱۳۷۳ ل کال.

۸- وړی څنګه لیوه شو؟

۱۰- د «شمشاد مجلې» ۱، ۲، ۳ او ٤ ګڼې.

۱۱- د غازی عجب خان اپریدی لنډ ژوند لیک.

۱۲- بختوره پشو.

Aziz Nasin

Mirzaalam Hamidi

1995